پښتو اول ټولګی	عنوان: د لفظ «هغوئ» بنسودل (۱)
پ ۱ - ۵۷	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د جمع پۀ حالت کښې د یو فاعل عوض کول (بدلول) پۀ ضمیر «هغوی» سره	
- پۀ توره تخته دا لاندې دوه جملې لیکل: «زرین اونازو پۀ کور کښې دی». «زرین اونازو خط لولی».	- ورته کتل؛ پۀ خاموشۍ سره د دغو جملو لوستل.	توره تخته
- د دغو جملو د لوستلو غوښتنه کول.	- یو یو تن نزدې ټولګی ته د دغه جملې لولی.	
- یوه نامکمله جمله لاندې لیکل: «..... خط لیکی».	- ورته کتل، لوستل اوپته لګول چې یوځۀ ټیکرې تیا خوشته.	توره تخته
- وئیل چې زه نازو اوزرین نورنۀ لیکم ځکه چې د نومونو همیشه تکرارول نې مزې غوندې معلومیږی.	- معلومول چې د نومونو پۀ ځای: «هغوی خط لیکی» وئیل کیدے شی.	
- لفظ «هغوئ» پۀ جمله کښې پۀ خپل خاص ځای کښې لیکل، د دغه لفظ د لوستلو غوښتنه کول اوبیا د ټولې جملې.	- ورته کتل اوخو خو ځله د لفظ «هغوئ» لوستل، د دغه جملې لوستل.	
- دوه ماشومان مخې ته راښلل اود یو عمل د کولو مظاهره ورباندې کول (۲)، وئیل: هلته ... او ... دی. هغوی ټوپونه وهی.	- ورته کتل، غوږ نیول، د دغه دوه جملې تکرارول	
- وئیل چې زۀ به دوه ماشومان د ټولګی مخې ته راغواړم اوهغوئ به دیو کار د کولو پیښې کوی. نورماشومان به د هغوی پۀ باب دوه جملې وائی اوپۀ دوئیمه جمله کښې به د ضمیر «هغوئ» نه کار اخلی.	- همیشه د دوه ماشومانو مخې ته راتلل اود کار د کولو پیښې کول، د نورو ورته کتل، د یو یو ماشوم وئیل: «دا ... او ... دی». «هغوی پۀ تخته لیکی».	
	۲- د ضمیر «هغوی» د خط (لیکنې) زده کول	
- پۀ غټ خط سره لفظ «هغوی» پۀ توره تخته لیکل.	- ورته کتل او لوستل ئې.	توره تخته
- غوښتنه کول چې زۀ به حروفو ته اشاره کوم اوتاسو به پۀ مزه مزه لفظ لولئ.	- پۀ مزه مزه لفظ لولی او حروفو ته ګوری.	
- د لفظ «هغوی» پۀ منځ کښې حرف «غ» ته د ماشومانو پام راګرځول، څو څو ځله ئې لیکل، وئیل چې دا «غ» دے.	- غوږ نیول، د «غ» حرف د لفظ پۀ منځ کښې زده کول، پۀ هوا کښې ئې د ګوتې پۀ ذریعه لیکل.	
- د دغه حروفو د نومونو اخیستل او د اوازونو تلفظ ئې کول.	- د دغه حروفو د نومونو اخیستل او د اوازونو تلفظ ئې کول.	
- غوښتنه کول چې پۀ حرف «غ» او لفظ «هغوی» پۀ مشق پاڼه کښې د قلم د ګرځولو مشق وکړئ.	- مشق پاڼه مطالعه کول: هغه کرښه پیدا کول چې «غ» ور باندې پۀ درې شکلونو کښې لیکلے شوے دے او د لفظ «هغوی» کرښه پیدا کول، د سر کرښه مکمل، پۀ لاندینۍ کرښه کښې پۀ لفظ «هغوئ» پنسل کرځول.	مشق پاڼه پ ۱-۵۷-۱
	۳- د اسې جملې لوستل چې لفظ «هغوئ» ولري	
- غوښتنه کول چې پۀ دوه دوه کسه د مشق پاڼې منځنۍ برخه مطالعه کړئ اوجملې ئې ولولئ.	- پۀ دوه دوه کسه پۀ چپه سره کار کول، پۀ تصویر خبرې کول؛ د جملو لوستل، وار پۀ وار.	مشق پاڼه پ ۱-۵۷-۱
- غوښتنه کول چې جملې ټولګی ته ولولئ.	- د یو یو ماشوم یوه یوه جمله لوستل، د تېکسټ (متن) بیا بیا لوستل.	

-100-

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۷	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوې تبصرې :

۱- ماشومان به پۀ دې پوهول غواړی چې لفظ ،هغوی، د دوه یا زیاتو ښیا دمانو یا څیزونو د عوض کولو پۀ وخت کښې استعمالیږی. ورته وئیل چې پۀ خبرو کښې همیشه دیوشان نومونو/الفاظو تکرارول پې مزې وی اوتکرار ته ئې ضرورت نۀ وی. پۀ دغه وخت کښې دژبې د بنکلا اوښائیست دپاره د نومونو پۀ ځای ضمیر، هغوی، یا ، هغه، راوړل کیږی.

۲- پۀ دغه وخت کښې ماشومان د مثال پۀ ډول د یوکارپه ښې کولے شی ، تو پونه وهلے شی ، منډې وهلے شی ، پۀ توره تخته لیکل او لوستل کولے شی . ماشومان به پر پر امکانات پیدا کړے شی. اوکۀ چېرې ماشومان ناکامه شی نو استاد به ورته مدد ورکوی چې څۀ کول پۀ کار دی .

پ۱	۱-57
پ۱	۱-۵۷

غ غ غ غ غ غ

دا د زرین او نازو پلار او مور دي.

هغوی زرین او نازو وینې .

د زرین او نازو سره څه دي ؟

د هغوی سره یو صندوق دی.

هغوی کور ته ځي.

دا د هغوی کور دی .

هغوی - هغوی

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

پ ا - ۵۷ د وړپسې درس نمبر اول	عنوان : دکلیدی لفظ ،عینک، بنودل د سرد حرف ،ع، دپاره (ا) ، داسې جملې لوستل چې د ،هغوی، او هغه استعمال پکښې شوے وی	
	د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
	۱- پخپله ،عینکو، یا د هغوی تصویری کارډ ته کتل (د تصویر مخ ته) ؛ د هغوی پۀ باب خبرې کول ؛ د هغوی پۀ اهمیت پوهېدل .	عینکی یاد هغوی - تصویری کارډ
	۲- د دغه لفظ خط ،لیکنه، او د حرف ،ع، د شکل او اواز زده کول پۀ معموله طریقه سره .	
	۳- د مشق پاڼې ښے اړخ استعمالول او د لفظ ،عینک، او حرف ،ع، د لیکلو مشق د کتابی علامې مطابق .	مشق پاڼه پ ا - ۵۷ - ۲
	۴- د مشق پاڼې پۀ کڅه خوا کښې هغه جملې لوستل چې لفظ ،عینک، پکښې استعمال وی .	
	۵- پۀ دریمه مشق پاڼه کښې د هغو جملو د لوستلو تکرار کول چې لفظ ،هغوی، پکښې استعمال شوے وی : الف : پۀ دوه دوه کسه پۀ خاموشۍ سره د سوالیه او جوابیه جملو لوستل . ب : د دغو جملو لوستل ټول ټولګی ته .	مشق پاڼه پ ا - ۵۷ - ۳

پ ا - ۵۷ ، وړپسې درس نمبر اول د دې د وړپسې درس پۀ باب څۀ نظرې تبصرې

داسې یو مناسب لفظ موپیدا نۀ کړو چې حرف ،ع، ئې پۀ سرکښې راشی او د پښتو لفظ وی . لۀ دې وجهې نه دغه لفظ ،عینک، انتخاب شو . پۀ عام ډول د ،عینک، د پاره خلک د ،چشمې، لفظ استعمالوی .

نو استاد به د دې خبرې وضاحت کوی چې د دغه څیز د پاره د غه دوه الفاظ - استعمالیزی خو لفظ ،عینک، د حرف ،ع، د پاره دلته استعمالوو او دا یو خاص عربی حرف دے .

ع ع ع ع ع ع	پ ا 2-57 / پ ا ۲-۵۷
عین عنک عنک عین **عینک** ینک ینک	عینک څوک لري ؟ کل عینک لري . پلار عینک نه لري . بابا عینک لري . زرین عینک نه لري . نازو عینک نه لري . هغوی عینک نه لري .
عینک - عینک - عینک	

پ ا 3-57 / پ ا ۳-۵۷	
پلار او مور چېرته دي ؟	هغوی په بس کښې دي .
بابا او زرین سره څه دي ؟	هغوی سره صندوق دی .
نازو څه لیکي ؟	هغه خط لیکي .
کډو او غوا چېرته ځي ؟	هغوی باغ ته ځي .
روبنه او ضعیف څه لري ؟	هغوی امسا لري .
بابا څه لولي ؟	هغه کتاب لولي .

عنوان: د الفبې دزده کړې جاری ساتل: د حروفو او کلیدی الفاظو تکرارول د ض، ظ نه دې پورې حروفو باندې کار کول		
	د شاګرد انو / استاد مشغلې	
د تدریس وخت ۱۰ دقیقې / پاڼه ۵۷-۱	۱- د الفبې نظم چې د کوم ځایه پورې زده کړې شوې دے ترهغه ځایه پورې ځې تکرارول: د یو یو تن په ذریعه او په یو اواز د نظم وئیل. ۲- په خلورمه مشق پاڼه کار کول: الف: د ښې ښې حرف نوم اخیستل، د اوازونو د ویستلو کوشش ځې کول. ب: حروف په ترتیب سره لوستل. ج: د کلیدی الفاظو بیا بیا وئیل؛ د خپلو خپلو حروفو سره ځې ترل. ۳- د الفبې په تصویری چارټ کار کول: الف: د خلورمې مشق پاڼې حروف او کلیدی الفاظ په چارټ کښې هم پیدا کول. ب: حروف او الفاظ په درې ګونو ګروپونو کښې په یا دو وئیل. ج: د ض، ظ نه د ښ، پورې حروف د دریو په ګروپ کښې زده کول، متعلقه بیت (شعر) یې زده کول. د: په خاموشۍ سره کار کول: د نظم او حروفو تکرارول (کۀ کیدے شوه د تصویرونو رنګول)	مشق پاڼه پ۱-۵۷-۴ د کارډ کتاب په آخر کښې د الفبې تصویری چارټ نظم د درس سره یوځای دے

ض ط ظ - زمونږ ژوند دی دمزې

ع غ ف - هم د ورځې هم دشپې

ق ک ګ - دیو بل نه یو خلاف

ل م ن - دی خوشحاله موژوندون

ص	ضعیف	ف	مار
ض	طوطي	ق	فقیر
ط	صندوق	ک	کټ
ظ	عینک	ګ	لرم
ع	غوا	ل	ګډ
غ	ظروف	م	قلم

پ۱ 4-57
پ۱ ۴-۵۷

پښتو اول ټولګی	عنوان: په یوه قصه ځان پوهول. دکورنۍ دغړو دپاره دالفاظو لوستل، تکرارول.
پ۱ - ۵۸	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- دسیما، په قصه ځان پوهونه	
- ماشومانو ته وئیل چې اوس به تاسو یوه قصه واورئ، دځای په ځای کښینا ستلو موقع ورکول.	- غوږ نیول اود قصې دپاره ځان تیارول.	قصه ددرسي پلان سره یوځای
- د قصې لوستل یا وئیل، په اوچت اواز، په وضاحت اوپه مزه مزه خبرې کول، په اشارو اوحرکاتو سره قصه خوندوره کول.	- قصې ته غوږ نیول.	
- د قصې په باب یو بحث شروع کول (۱)	- د قصې په باب تبصرې کول، بحث کول، کهٔ چېرې څهٔ پرې پخپله ددې په شان تېر شوی وی خبرې پرې کول.	
- دمخکښې په شان ددغه قصې یوځل بیا وئیل یا - لوستل.	- یوځل بیا قصه ته غوږ نیول.	
- د قصې دمضمون په باب پوښتنې کول (۲)، لکه: «تهٔ د سیما په باب څهٔ معلومات لرې؟» «دهغې د مور په باب څهٔ پوهېږې؟» «سیما وني ته ولې وخته؟» اوداسې نور	- غوږ نیول اوپوښتنو ته ځواب ورکول، په سختو سوالونو خبرې اترې کول، په ورکړشوو جوابونو تبصرې کول.	
- دقیصې د ځینو ځینو برخو دبیا وئیلو غوښتنه کول (۳).	- د قیصې د ځینو برخو لوستل په خپلو الفاظو کښې.	
- په دې باب پوښتنې کول چې دا قصه نوره څنګه جاري ساتل کیدے شی.	- په دې باب سوچ کول چې ددې ته هیسته نورهٔ - پېښېدے شی، ښه ښه ماشوم خپلې خپلې خبرې وائی، نور ورته غوږ نیسی او تبصرې کوی.	
- د ټولې قصې دوئیلو غوښتنه او وئیل چې دا قصه - نوره څنګه جاري ساتل کېدے شی (په دوه دوه کسه).	- په دوه دوه کسه په خاموشۍ سره کارکول، د قصې بیا نول، وار په وار.	
- په دوه یا درې طالب علمانو باندې د قصې بیا نول ټولګی ته.	- څو تنه قصه بیانوي، د نورو غوږ نیول. کهٔ ممکنه وی تبصرې پرې کول	
	۲- په تصویرکښې د قصې دیو منظر (صحنې) پېژندل	
- په مشق پانړې کښې د تصویر د مطالعې غوښتنه کول.	- د تصویر مطالعه کول او پکښې د سیما او نورو - ښیادمانو پېژندل.	مشق پانړه پ۱-۵۸-۱
- څهٔ چې وینی دهغې دبیانولو غوښتنه ترې کول.	- د تصویر تشریح کول، قصې ته ورته تعلق ورکول.	
	۳- دکورنۍ دغړو دپاره د نوو الفاظو لوستل اولیکل	
- غوښتنه کول چې الفاظ ټول ټولګی ته ولولئ.	- دیو یونټ ماشوم لوستل، د نورو غوږ نیول.	
- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې الفاظ د خپل خپل - ښیادم د تصویر سره وترئ.	- څنګه چې ترې غوښتل شوی دی هغسې کارکول، خپل کار دانډی وال سره مقابله کول.	
- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې الفاظ خپل خپل - سلېټونو ته نقل کړئ.	- دالفاظو لیکل په سلېټونو باندې.	سلېټونه

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۸	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوړې تبصرې :

۱- د قصې داوربدلونه روسته دماشومانو حوصله افزائی وکړئ چې پۀ ازادانه ډول د قصې پۀ باب تبصرې وکړی . دامرحله دشاګردانو دپوښتنو داندازې لګولو او وضاحت دپاره استعمالېدے شی .

۲- استاد به کوشش کوی چې داسې پوښتنې وکړی چې د هغوی ځواب پۀ «هو» او «نه» سره نۀ شی وئیل کیدے بلکی اوزد ځواب غواړی.

۳- استاد ته به د دې پته وی اود ځکښې د ځکښې نه به ئې تیارے نیولے وی چې د قصې دکومې برخې بیا نول اسان دی : مثلاً د لویو ماشومانو سره سیما ته لوبې څنګه خوند ورکولو ؟ یا هغه وښې ته دځمۀ دوجهې وختله ؟

سیما

یوه ورځ د دې جینې وه چې د هغې نوم سیما وو . د دې جینې ته به چې څۀ خوند ورکولو پۀ هغې به همیشه لګیا وه اومشغولا به ئې ورسره کوله . مور به چې هرخومره ورته نصیحت کولو چې بچیه ! لږ پۀ قلاره کینه او پۀ هرځۀ کښې کوتې مۀ وهه ، خوسیما به هغه کارکولو چې زړۀ به ئې منلے وو . دمور او دبل هیڅا خبرې ته به ئې غوږ نۀ نیوۀ .

یوه ورځ د دې جینې مشرورور شهباز دمابنام پۀ وخت بهیرون ووتلو چې پۀ باغ کښې پټ پټووتے دملګرو سره وکړی . سیما څان لیونے کړاو د رور سره سمه روانه شوه . مور ئې ورته د پرې زاری وکړې چې بچیه ! تۀ مۀ ووځه ، وړه ئې چرته به ولویږې او خوږ به شی . خو د مورخبره د سیما پۀ غوږ نۀ لګېدله او ورسره لاړه . سیما د نورو ماشومانو سره پۀ پټ پټووتو شروع وکړه . هغه دخپل څان د پټولو دپاره پۀ باغ کښې دیوې وښې شاته پټه شوه . خوزرئې د دې خبرې ته پام شوچې دلته به د دې ماشومان زر پیدا کړی راشه وښې ته وخېژه چې هیڅوک د دې هم نۀ شی پیدا کولے . زر زر وښې ته وختله . خوچې کله ئې لاندې پام وکړو نو د څان سره ئې وویل چې دلته د دې هم ماشومان زرپیدا کوی خوکۀ لږ نوره هم وخېژم بیا به مې هیڅوک نۀ شی پیدا کولے . پۀ همدې خیال دیوۀ بناخ نه بل بناخ ته پورته وختله .

د پر وخت وشو خوماشومانو سیما بیا نۀ موندله ان تردې چې ویره ورته پیدا شوه چې پۀ هغې به څۀ چل شوے وی . ټولوماشومانو د سیما پۀ لټولو شروع وکړه . خونا څاپه ئې د سیما د چغو او فریاد اواز ترغوږ شو . ماشومانو دوښې خواته ورمندې کړلې خودوی لاوښې ته رسیدلی نۀ ووچې یو درب شو چې سیما دوښې نه راولویدله اوپۀ څمکه پریوتله . هغه پۀ ونه کښې موچوچیچلې وه اوپرسېلے مخ بې هوشه پۀ څمکه اوزده اوغزیده .

کله چې سیما پۀ هوش راغله نو څۀ ګوري چې پۀ هسپتال کښې پرته ده او مورو پلار ئې ورته د اوښکو د کې سترګې ولاړدی .



پلار- مور- ورور- لور - خور - زوی

د بل درسی پلان د ښودلو نه مخکښې د وړیې درسونو خاکې

پ ۱ - ۵۸ - ۲ درس نمبر اول وړیې درس

عنوان: د شپږو حروفو تکرارول چې د الفاظو پۀ شروع او آخر کښې وی اود هغوی پۀ مدد الفاظ را پۀ زړه کول؛ د الفبې د آخری برخې زده کول

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د ټهری ورځې قصه یو یا دوه ځله بیا وئیل. ۲- د دوئیمی مشق پانړې نه کارا خیستل : الف: د حروفو نومونه اخیستل، څومره چې کیدے شی د هغوی اواز ونه ویستل. ب : د دریو پۀ ګروپ کښې د حروفو لوستل . ج : د الفاظو لوستل اوخپلو خپلو حروفو سره ئې تړل (پۀ ښی اړخ کښې حروف د سر د پاره ، پۀ ګڼ اړخ کښې حروف د آخر د پاره) ؛ د کارمقایسه کول . ۳- د الفبې د تصویری چارټ نه کارا خیستل: الف: د الفبې د تورو د ګروپونو وئیل پۀ نظم کښې. ب : د آخرې بیت زده کول . ج : د تصویرونو رنګول	مشق پانړه پ۱-۵۸-۲ د الفبا تصویری چارټ نظم ورسره یو - ځای د ے

وړیې ولولئ - یوملګری مودی کوئ

وهری - ده ویل لوبې کوې ؟

ل	نال مور
م	مچ لاس
ن	لري
و	ونه
ه	هګۍ یوې
ی	

پ۱ 2-58	پ۱ ۲-۵۸
ل	هګۍ نال
م	چاقو لرم
ن	یوې ستن
و	ونه
ه	جارو
ی	زمری اره

عنوان : د نړۍ الفبې تکرارول پۀ نظم سره؛ د کلیدی لفظ ،غوږ، تعارف د حرف ،ږ، د پاره د لفظ پۀ آخر کښې

د شاګردانو / استاد مشغلې

۱- د الفبې تکرارول :	
الف : د درېیمې مشق پانړې مطالعه کول ، پته ګلول چې یو زیات شمېر حروف پکښې نشته.	مشق پانړه پ۱-۵۸-۳
ب : پۀ دوه دوه کسه پۀ خاموشه سره کارکول : غیب حروف لیکل ، د درېیو و پۀ ګروپ کښې لوستل ، وار پۀ وار .	
ج : ټول ټولګی ته پۀ نظم کښې د حروفو لوستل.	
۲- د کلیدی لفظ ،غوږ، بنودل :	
الف : د دغه کلیدی لفظ تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل ، د غوږ ونې او د غوږ ونې دکار وائی پۀ باب خبرې اترې کول ، غوږ ونه ته کتل .	د کلیدی لفظ تصویری کارډ
ب : د لفظ ،غوږ، او د حرف ،ږ، د خطی شکل تعارف پۀ معموله طریقه سره.	
ج : پۀ معموله طریقه سره د مشق پانړې پښې اړخ ، پاسنۍ اولاندینۍ برخې - استعمالول او د دغه لفظ د لوستلو اولیکلو مشق پرې باندې کول.	
د : د مشق پانړې ډکښې خوانه کار اخیستل : جملې اول پۀ دوه دوه کسه او بیا ټول ټولګی ته لوستل.	مشق پانړه پ۱-۵۸-۴
هـ : د جملو پۀ معنۍ خبرې کول ؛ د نر روڼا ورو د غوږ ونې پۀ باب خبرې کول	





پښتو اول ټولګی	عنوان: د صفتونو ـ غټ ـ او ـ وړوکے ـ بنودل د مذکر او مؤنث د پاره	
		پ۱- ۵۹

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د ټولګي پۀ صورت حال کښې د ـ غټ ـ او ـ وړوکے ـ استعمالول د ضد ینو پۀ حیث.	
- یو غټ او یو وړوکے ما شوم مخې ته را بلل او غوښتنه کول چې د دوئ پۀ باب د یو جملې ووئیلے شي. - د نورو شاګردانو پۀ ذریعه تکرارول، استناد او- شاګردان پۀ همدې شان متایئسه کول. - د مختلفو خیزونو پۀ ذریعه تکرارکول مثلاً د میز او کرسۍ دروازې او کړکۍ، توره تخته اوسلیټ پۀ ذریعه.	- د دوو تنو ماشومانو مخې ته راتلل، د نورو ورته کتل، داسې جملې جوړول لکه :.... غټ دے ،.... وړوکے دے. - عمل کول او د مخکښې پۀ شان جملې وئیل. - د دغه خیزونو پۀ باب جملې جوړول لکه : میز غټ دے . کرسۍ وړوکې ده . توره تخته غټه ده. سلیټ وړوکے دے .	
- دیو وړوکی بوټ او غټ میز، دیوې غټې امسا او - وړوکې ستنې جوړول پۀ توره تخته . - د هغسې جملو غوښتنه کول چې د میز او کرسۍ، د امسا او ستنې متایئسه پکښې وی. (۱) - د دغه جملې پۀ تخته لیکل - د ـ غټ ـ او ـ وړوکے ـ - الفاظ پرېښودل. - پرېښو دے شوی الفاظ د جملو لاندې پۀ یوه کرښه لیکل - غوښتنه کول چې هره جمله دې مکمله کړے شي. د ماشومانو مدد او لاړښودنه کول. کله چې صحیح الفاظ پیدا کړے شي نو پۀ ځایونو کښې دې ولیکلے شي.	۲- د لفظونو ـ غټ ـ او ـ وړوکے ـ خطی شکل زده کول - ورته کتل. - د غسې جملې ووئیل لکه: ـ امسا غټه ده ـ ، ـ ستن وړوکې ده ـ ، میز غټ دے ، کرسۍ وړوکې ده. - ورته کتل. - ورته کتل. - یوه جمله لوستل؛ غیب لفظ پیدا کول، نوم ئې اخیستل؛ د نورو الفاظو (غټ، غټه - وړوکے، وړوکې) پۀ منځ کښې د دې لفظ پیدا کول د حروفو پۀ پېژندلو او د هغوئ د اوازونو د وئیلو پۀ ذریعه	توره تخته توره تخته
- غوښتنه کول چې د غه نوی الفاظ یو پۀ یو خوخوځله ولولئ. - د د غو مکمل جملو د خوخوځله لوستلو غوښتنه کول. - د غه هر نوی لفظ پۀ تخته ورو ورو او پۀ احتیاط سره لیکل، پۀ هوا کښې ډکوتې پۀ ذریعه د د غو الفاظو لیکل ډکوتې پۀ ذریعه. - د مشق پاڼې د سر دوو قطارونو ته ډکتلو د پاره - غوښتنه کول. - پۀ د غو الفاظو د پنسل کرځولو غوښتنه اوکړښې مکمل.	- د د غه نوو الفاظو لوستل. - د د غه جملو لوستل. - پۀ توره تخته د هر لفظ لیکلو ته کتل او پۀ هوا کښې د د غو الفاظو لیکل ډکوتې پۀ ذریعه. - د مشق پاڼې د سر دوو قطارونو ته کتل او پکښې د نوو الفاظو پېژندل. - قلم پرې کرځول اوکړښې مکمل.	توره تخته مشق پاڼه پ۱-۵۹-۱
- د خیزونو د مطالعه کولو او د هغوی نوم اخیستلو غوښتنه کول. - د داسې جملو جوړولو غوښتنه چې د غټ او وړوکے - استعمال پکښې شوے وی. - پۀ لاندینۍ برخه کښې جملې پۀ دوه دوه کسه لوستل، او تصویرونو ته د جملو مطابق نمبرې ورکول. - غوښتنه کول چې ټولګی ته جملې ولولئ.	۳- د الفاظو ـ غټ ـ او ـ وړوکے ـ لوستل پۀ جملو کښې چې د تصویرونو نه سرچشمه نیسی. - د خیزونو پېژندنه، نوم ئې اخیستل. - د غسې جملې جوړول. - د د غه جملو لوستل پۀ جوړه جوړه کښې، تصویرونو ته د جملو مطابق شمېره ورکول. - ټولګی ته جملې لوستل (یو ماشوم یوه جمله).	مشق پاڼه پ۱-۵۹-۱

درسی پلان نمبر: پ ۱-۵۹	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- ماشومان به بنیادمان اویا څیزونه داسې نۀ متاثیسه کوی چې ووائی چې : داغټ دے له دې نه اوداوړوکے دے له دې نه - دیو تحریری مشق دپاره به داکار پۀ دې مرحله کښې سخت وی .

دوی به صرف زبانی طور بیا نوټه ورکوی لکه : توره تخته غټه ده . سلیټ وړوکے دے اوداسې نور.

پ۱	59 - 1
پ۱	۵۹ - ۱

غټ ، غټه - غټ ، غټه

وړوکی ، وړوکې - وړوکی ، وړوکې



۱	اوښ غټ دی.	۷	وښه غټه ده.
۲	هڼکۍ وړوکې ده.	۸	ګل وړوکی دی.
۳	ملخ وړوکی دی.	۹	زمری غټ دی.
۴	بس غټ دی.	۱۰	تربنځ وړوکې ده.
۵	غوا غټه ده.	۱۱	چاقو وړوکی دی.
۶	لړم وړوکی دی.	۱۲	جارو وړوکې ده.

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

لومړی درس د ۱-۳۴ پاڼو	عنوان: دلفظ پۀ سرکښې د حرف ـ ن ـ دپاړه دکلیدی لفظ ـ نال ـ بنودنه	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
	۱- ماشومان حقیقی څیزته ګوری (کۀ پخپله حقیقی څیزنۀ پیدا کیږی نو دکلیدی لفظ د تصویری کارډ نه دې کار واخیستل شی) ، تشریح کوی اونوم لۀ اخلی. ۲- تشریح ورکول چې د ـ نال ـ نه څۀ کار اخیستلے کیږی اود آسونو دپاړه څومره ضروری شے دے. ۳- د تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل . دلفظ لوستل . ۴- دلفظ سرې برخې ته کتل اودلفظ پۀ سرکښې د حرف ـ ن ـ شکل زده کول ، دلفظ تلفظ کول اودسرپۀ حرف ـ ن ـ زوراچول . ۵- د ـ ا ـ او "ل" حروفو پېژندنه کول اونومونه لۀ اخیستل . دلفظ لوستل څوځلې (یواځې یواځې اویۀ ګډه سره) ، پۀ هوا کښې د ګوتې پۀ ذریعه د دغه لفظ لیکل (پۀ سلیټونو هم) . ۶- دمشق پاڼې نه کار اخیستل : الف : د ـ نال ـ تصویراو لیکلے لفظ پېژندل . ب : د ـ نال ـ نور ټول لفظونه معلومول ، کرښه تري تاوه ول اود تصویر سره تړل . ج : پۀ غټ خط سره د نال پۀ لیکل شروالفاظو پنسل پرځول . د کرښه دلفظ نال پۀ لیکلو ترآخره وکول . هر : لفظ "نال" پۀ خپلو سلیټونو څوځلې لیکل اود نورو الفاظو لوستل .	حقیقی څیز: نال یا دهغۀ تصویری کارډ دکلیدی لفظ نال تصویری کارډ د تصویر مخ سلیټونه مشق پاڼه پ ۱-۳۴-۲ سلیټونه



د بل درسی پلان د ښودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

پ ۱ - ۵۹ - د وړې درسی نمبر اول

عنوان: د ـغټ ـ او ـوړوکے ـ د لوستلو او لیکلو مشق ؛ د الفبې تکرارول	
د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د الفبې تکرارول ؛ الف: استاد د الفبې پۀ چارټ کوم یو حرف ته اشاره کوی، ماشومان ئې پۀ یو ه اواز وائی . ب : د الفبې حروف پۀ برخو برخو کښې پۀ نظم اوپۀ غیر د نظم نه تکرارول.	د الفبې حروفو چارټ
۲- پۀ توره تخته د الفاظو ـغټ ـ او وړوکے لوستل ، سلیټونو ته ئې نقلول .	توره تخته - سلیټونه
۳- پۀ لومړی مشق پانړه بیا د جملو لوستل .	مشق پانړه پ۱-۵۹-۱
۴- د د وئیمې مشق پانړې نه کار اخیستل : الف : د مشق پانړې مطالعه کول اود تصویرونو او الفاظو ترمینځه را بطه پیدا کول . ب : ټول ټولګی ته د جملو لوستل ، د ـغټ ـ او ـوړوکے ـ غیب الفاظ لیکل .	مشق پانړه پ۱-۵۹-۲

پ۱ 2-59 پ۱ ۵۹-۲	غټ غټه	وړوکی وړوکې
دا ده.	دا _____ دی.	دا  _____ دی.
دا _____ _____	دا _____ _____	دا _____ _____
دا _____ دی.	دا _____ دی.	دا _____ دی.
دا _____ _____	دا _____ _____	دا _____ _____
دا _____ ده.	دا _____ ده.	دا _____ ده.
دا _____ _____	دا _____ _____	دا _____ _____

-۱۱۰-

عنوان : اوس اوس زده کړے شوی کلیدی الفاظو لوستل تکرارول ؛ دکلیدی لفظ ،کاغذ، بنودل د آخر حرف ،ذ، د پاره		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس ورځ: ۱۰ د درس نوم: ورپسې درس ۵۹-۱ پ۱:	۱- استاد خوښ کړے شوی کلیدی الفاظ په پې ترتیبه ډول ښنځی، اول ئې یو یو ماشوم وائی بیا ئې په یوځ اواز . ۲- دکلیدی لفظ ،کاغذ، تصویزی کارډ د تصویر مخ ته کتل، یا پخپله اصل کاغذ ته، دهغې په باب خبرې کول. ۳- دکلیدی لفظ ،کاغذ، اود حرف ،ذ، خطی شکل بنودل ، د کتابی علامې مطابق (۱) ۴- دمشق پانړې ښے اړخ پاسنۍ اولاندینۍ برخه استعمالول اود لوستلو اولیکلو مشق پرې کول. ۵- دمشق پانړې په کښه خواکښې دجملو لوستل : الف : په دوه دوه کسه ، وار په وار . ب : ټول ټولګی ته (یونټ یوه جمله). ج : د ټول ټیکسټ (متن) لوستل . د : د متن ټیکسټ په باب خبرې کول	دکلیدی الفاظو کارډونو یوه مجموعه (۱۰-۱۲) پورې پخپله کاغذ یا دهغې تصویری کارډ مشق پانړه پ۱- ۵۹-۳

پ۱- ۵۹، ورپسې درس نمبر دویم ددې ورپسې درس په باب څه نرې تبصرې

۱- حرف ،ذ، په شکل او آواز کښې دحروفو ز ، ظ ، ځ سره مقابله (مقایسه) کیږی.

ذ ذ ذ	پ۱ 3-59 پ۱ ۳-۵۹	
ک غ ذ کاغ  کاغ **کاغذ** ک غ ذ کاغ کاغ	دا کاغذ غټ دی. دا د زړین کاغذ دی. دا د خط دپاره دی. زړین یو خط په کاغذ لیکي. نازو کاغذ لري؟ نه، نازو کاغذ نه لري. کاغذ څوک لري؟ کاغذ د څه دپاره دی؟	
کاغذ - کاغذ		

پښتو اول ټولګی پ۱ - ۶۰	عنوان: د مذکر او مؤنث په شکل کښې د صفتونو ښه او ښکلې ښودل	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- ښه او ښکلې استعمالول د یو بل د متضاد پرتیث د ټولګي په صورت حال کښې	
- غوښتنه کول چې ښه، او زاړه خیزونه په ټولګي کښې وګورئ لکه کتابونه او نور خیزونه.	- د نو او زړو خیزونو پېژندنه کول.	
- غوښتنه کول چې د خیزونو نومونه واخلئ، زور او نوی لفظونه ورته استعمال کړئ په مکمل جملو کښې لکه: "دا یو زور کتاب دے" "دا یو نوے قلم دے"	- حینې ماشومان زاړه او نوی خیزونه په مکمل جملو کښې بیا نوی، نور ورته غوښ نیسی، تکرار ئې کوی.	
	۲- د ښه او ښکلې خطی شکل زده کول (۱)	
- د مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول.	- د مشق پاڼې مطالعه کول او د نوی او د زاړه کتاب تصویرونه پیکښې معلومول، د نوې خپلې او زړې خپلې هم.	مشق پاڼه پ۱-۶۰-۱
- د هغه جملو د لوستلو غوښتنه کول چې د تصویرونو سره دی.	- د د غه جملو د لوستلو کوشش کول.	
- غوښتنه کول چې په جملو کښې نوو الفاظو ته وګورئ، د هغوی صحیح تلفظ د حروفو او د هغوی د اوازونو مطابق وکړئ. د ضرورت په اندازه مدد.	- نوو الفاظو ته کتل او یو بل پسې د هغو د تلفظ کولو کوشش کول.	
- د د غه جملو د بیا بیا لوستلو غوښتنه کول.	- الفاظو ته اشاره کول او د جملو لوستل.	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې د سر الفاظ ولولئ او په کربنو ئې پېنسل وګرځوئ.	- د د غه الفاظو لوستل، په کربنو ئې پېنسل ګرځول.	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې لاندینۍ برخه په نوو الفاظو مکمله کړئ.	- د مشق پاڼې په اخر کښې د د غو کربنو مکمل.	
	۳- په جملو کښې د نوو الفاظو د لوستلو مشق د تصویرونو متعلق	
- د مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول.	- د مشق پاڼې مطالعه کول او د نوو او زړو خیزونو تصویرونه او بیا خو جملې د مشق پاڼې په اخر کښې پېژندل.	مشق پاڼه پ۱-۶۰-۲
- په دوه دوه کسه ډکار کولو غوښتنه، د جملو - لوستل، وار په وار، تصویرونو ته د اندې ول جملې مطابق نمبر ورکول.	- په جوړو کښې کار کول څنګه چې ترې غوښتل - شوی دی.	
- غوښتنه کول چې د غه جملې ټولګی ته ولولئ.	- د غه جملې ټولګی ته لوستل.	

-112-

درسی پلان نمبر: پ۱- ۶۰	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوې تبصرې :

۱- دامشکله ده چې پۀ توره تخته نوی او زاړۀ څیزونه جوړ (رسم) شی اود زوړ او نوی څیز فرق پۀ بنکاره ډول پکښې وښودل شی ددې وجهې نه ددې صفتونو الفاظ به پۀ مشق- پاڼه کښې وښودل شی .

پ۱ ۱-60 پ۱ ۱-۶۰	زوړ - زړه - نوی - نوې	
	دا زوړ دی	دا نوې ده
	دا  نوی دی	دا  زړه ده
	نوی	نوې
	زوړ	زړه

پ۱ 2-60 پ۱ ۲-۶۰	
۱ دا جارو نوې ده.	۵ داکټ زوړ دی.
۲ دا جال زوړ دی.	۶ دا جارو زړه ده.
۳ داکټ نوی دی.	۷ دا جال نوی دی.
۴ دا اره زړه ده.	۸ دا اره نوې ده.

د بل درسی پلان د ښودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

عنوان:	د الفاظو "نوے" او "زور" دلوستلو او لیکلو مشق کول، حروف د الفاظو او الفاظ د حروفو په مدد را پۀ زړۀ کول

دشاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د حروفو او کلیدی الفاظو تکرارول: یوماشوم دیو حرف نوم اخلی او د الفبې پۀ چارټ کښې ئې ښئی او بل ماشوم به ئې متعلقه کلیدی لفظ پیدا کوی چې دغه حرف ئې پۀ سرکښې وی، کوم ماشوم چې کلیدی لفظ صحیح وښئی بیا به همدغه ماشوم حرف وائی کوته به ورته نیسی او پۀ بل ماشوم بۀ ئې کلیدی لفظ پیدا کوی او داسې نور.	د الفبې چارټ
۲- استاد به الفاظ نوے، نوې، زور، زوړ، زړه پۀ بې ترتیبه ډول ښئی او شاګردان به ئې لولی.	توره تخته
۳- د الفاظو نه هریو پۀ سلیټونو لیکل:	سلیټونه
الف: اول ئې تش نقل کول.	
ب: بیا ئې د یادونه لیکل.	
ج: مقابله ئې کول.	
۴- د مشق پاڼې نه کار اخیستل:	مشق پاڼه پ۱-۶۰-۳
الف: پۀ دوه دوه کسه د جملو لوستل، د یوبل سره مرسته کول، وارنیول.	
ب: ټولګی ته د جملو لوستل (یوماشوم یوه جمله).	
ج: د ټول ټیکسټ (متن) لوستل.	

پ۱	3-60
پ۱	۳-۶۰

نازو یو کتاب لري
زرین کتاب لري
د نازو کتاب غټ دی
د زرین کتاب وړوکی دی
کتاب نوی دی
کتاب زوړ دی
هغه کتاب لولي
هغه کتاب لولي
نازو یو نوی غټ کتاب لولي
زرین یو وړوکی زوړ کتاب لولي

نازو او زرین کتاب لري
هغوی زوړ او نوی کتاب لولي

عنوان: د لفظ پۀ آخرکښې حروفو د پاره د کلیدی الفاظو تکرارول ؛ د کلیدی لفظ . برقع . ښودل د آخر حرف "ع" د پاره		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس سیر او پرمختګ	۱- د دې لوبې کول : "زۀ یو لفظ وایم چې پۀ ... ختمیږی ! " ، د اکوم لفظ دے؟ (د دې لوبې ضوابط پۀ دیرشم نمبر درسی پلان کښې بیان شوی دی). ۲- پخپله . برقع . یا د هغې تصویری کارډ ته کتل ، ورباندې خبرې کول د ماشومانو له خوا . ۳- د لفظ "برقع" خطی شکل او د حرف ع د شکل او آواز زده کول ، د کتابي علامې مطابق . ۴- الف: پۀ معموله طریقه د مشق پاڼې ښے اړخ ، پاسنۍ کربنې اولاندینۍ کربنې استعمالول او د لفظ برقع د لوستلو اولیکلو مشق پرې کول . ب : د مشق پاڼې پۀ ګڅه خوا کښې د لوستلو مشق کول : د جملو لوستل اول پۀ دوه دوه کسه او بیا ټول ټولګی ته .	د هغه کلیدی الفاظو تصویری کارډونو یو انتخاب چې د آخر حروفو د پاره وی د لفظ برقع تصویری کارډ مشق پاڼه پ۱- ۶۰-۴

پ۱	60 - 4
پ۱	۶۰ - ۴

ع - ع - ع - ع





برع رقع

برق

رقع برق

برقع

زرین بیوه بنځه او نازو وینې.
هغوی بس ته ځي.
بنځه برقع لري.
برقع نوې ده.
نازو وړوکې ده.
هغه برقع نه لري.

برقع - برقع

پښتو اول ټولګی	عنوان: په يوه قصه ځان پوهول؛ تصويرونو ته رابطه ورکول (۱)
پ۱- ۶۱	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- په قصه ،د سائيکل چل زده کول، باندې ځان پوهول	
- د بائيسکل په باب يو بحث شروع کول (۲).	- په سائيکل باندې د تجربو په باب خبرې اترې.	
- قيصه ته ډکان تيارولو غوښتنه کول.	- لاندې ښځه ځای په ځای کښېناستل د قصې اوربل لو دپاره.	
- د قصې وئيل / لوستل.	- قيصه ته غوږ نيول.	قصه يوځای ده
- د قصې په باب بحث شروع کول، شايد پوښتنې کول (۳).	- د قيصه په باب خبرې کول اوخپلو تجربوته - ورته تعلق ورکول.	
- د قصې بيا وئيل / لوستل.	- بيا قيصه ته غوږ نيول.	
- وئيل چې سوچ وکړئ چې ددې نه پس به څه پيښيږي.	- بهل بهل ماشوم په دې باب خپل خيال وائي، غوږ نيول، تبصره کول.	
	۲- د قصې سره تصويرونو ته تعلق ورکول	
- غوښتنه کول چې په مشق پاڼه کښې تصويرونه (۱-۲) مطالعه کړئ.	- تصويرونه مطالعه کول، تبصره ورباندې کول، د تصويرونو او قصې په منځ کښې رابطې - پيدا کول.	مشق پاڼه پ۱-۶۱-۱
- په تصويرونو کښې چې څه ښودل شوی دی دهغې د تشريح غوښتنه کول (۴).	- تصويرونه اود هغوی ارتباط د تصويرونو سره تشريح کول.	
	۳- قصه وئيل جاری ساتل د بل تصوير په مطالعه سره	
- د دريم نمبر تصوير تشريح جاری ساتل.	- دريم نمبر تصوير تشريح کول.	مشق پاڼه پ۱-۶۱-۱
- غوښتنه کول چې د دې تصوير او نورو تصويرونو په منځ کښې رابطه پيدا کړئ (د قيصه تصوير).	- د قيصه دخاتمې په حيث په دغه تصوير بحث کول.	
- غوښتنه کول چې ټوله قصه د تصويرونو مطابق بيا ووائ.	- د ټولې قصې بيا وئيل.	
	○ په جوړه جوړه، وار په وار	
	○ ټول ټولګی ته (دوه يا دري ځله)	
- غوښتنه کول چې په خاموشۍ سره په تصويرونو کار وکړئ، رنګول، سورے (پرداز) کول يا د تصويرونو په کرښو پنسل کر ځول.	- سورے (پرداز) کول، رنګول، يا د تصويرونو په کرښو پنسل کر ځول.	

-۱۱۶-

درسی پلان نمبر: پ۱- ۶۱

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوې تبصرې :

۱- پۀ دې درسی پلان کښې یوه قصه د تصویرونو سره نقل شوې ده . کله چې قصه لوستل کیږی او بحث پرې کیږی نو پۀ دې وخت کښې به د کارکتابونه د دوه دلیلونو پۀ وجه بند وی (ننۀ به خلاصیږی) :

الف : ماشومان به اول پۀ قصه ځان پوهوی او روسته به دوئ پخپله د اپته لکوی چې د انتصویرونه پۀ قصه پورې تعلق لری .

ب : تصویری قصه اصل قصې ته د پراختیا ورکولو تجویز وراندې کوی چې پۀ آخرې مرحله کښې د اپراختیا لنډول کیږی .

۲- استاد به پۀ دې وخت کښې ماشومانو ته د خپلو خپلو تجربو د وئیلو دپاره د پروخت پۀ دې - مرحله کښې ننۀ ورکوی . ماشومانو ته د غوږ نیولو نه روسته به استاد ته د پر زر د اموقع پۀ لاس ورشی چې د خپلې ایرادې تعارف ورته وکړی چې د بائسکل قصه یا وکړی یا ئې ولولی .

۳- پۀ دې قدم کښې پۀ کار ده چې ماشومان خپلې تبصرې پۀ ازاد ډول وکړی او د غه قصې ته د خپلو ممکنه تجربو سره را بطه ورکړی ، بله داده چې استاد به د قصې د مضمون پۀ باب پوښتنې کوی چې د اپته ورته ولکی چې ماشومان پۀ قصه سم پوهه شوی دی اوکنه .

۴- کۀ چېرې ماشومان د تصویر او د قصې پۀ منځ کښې د را بطې ذکر ونۀ کړی نو استاد به خۀ نښې نښانې ورکوی .

د سائیکل چل زده کول

کریم له چې کله وړوکی خپل سائیکل ورکړو نو هغه د پرخوشحاله شو . د وړو هغۀ ته وویل چې اوس دا د هغۀ شو . د واړو پۀ یرځای د سائیکل د نښائسته کولو کوشش ونه کړل . شو وړوکې مرمت وکړو او کریم وډله نښائسته سور رنګ ورکړو . پۀ اخر کښې دوی پۀ کښې یوه شیشه اود مختلفو رنګونو خۀ جنډې ولګولې . کریم سائیکل ته ډکل او وئیل . دا پۀ دنیا کښې د ټولو نه نښائسته سائیکل دے .

اوس د هغه تیارۀ وه ، چې د پاره دوی فیصله وکړو چې سائیکل به سباله چلوو . دوی سحر وختی پاخېدل . سائیکل ټ د هغوی نه ونیوو او د کلي نه بهر ته لاړۀ . د لته پۀ سړک باندې کریم د سائیکل چل زده کړلے شو . هغۀ به دا کوشش کولو چې پۀ سائیکل پښه راواړوی او روان ټ کړی . خو هر ځل به هغه سره د سائیکله پۀ زمکه راغورځېدلو . د هغۀ ورور به هغۀ ته ډکل او هغۀ به ټ د اډکیږنه کوله چې هغه سره د باره کوشش وکړی . اخر د هر کوشش نه پس کریم کامیاب شو . هغه پۀ کډی کښې استلو ، هغوی ټ پۀ لاس کښې کلک ونیوو او پۀ خوشحالی ټ سائیکل چلولو . دا هغۀ د پاره د هر د خوشحاله خبره وه چې د ومره لږ وخت کښې هغه د ټیز سائیکل چلولو جرګه شو . سیلی به چې پرې لګېدله نو د اسې خوند به ټ ورکولو لکه چې هغه الوتی . بیا هغه خیال وکړو چې اوس هغه سائیکل ټیز چلولے شی . د هغۀ چې څومره طاقت وو ، هغۀ د ټیز نه ټیز سائیکل چلولو ، خو سړک ته ټ نۀ کتل . ناڅاپه د هغۀ منځ ته یو غرا راغله . کریم سمدستی ونۀ درېدے شو او غرا سره وجنګېدو . هلک او سائیکل دواړه پۀ زمکه راپرېوتۀ .



د بل درمی پلان د بنوردلونه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

پ ۱ - ۶۱ ورپسې درس نمبر اول

عنوان: دقیمې بیاوئیل؛ دیوداسې مضمون لوستل چې تعلق ورپورې لري.

دشاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د تصویرونو پۀ مدد د قیمې بیاوئیل.	مشق پانړه پ۱ - ۶۱-۱
۲- دیو ورکوتی مضمون (تېکست) لوستل چې پۀ تصویرونو پورې تعلق لري او څونوی الفاظ پکښې شمولیت لري: (۱) الف: پۀ دوه دوه کسه د دغه تېکست (متن) لوستل. ب: ټول ټولګی ته د دغه متن لوستل (یوماشوم یوه جمله). ج: د ټول تېکست لوستل.	مشق پانړه پ۱- ۶۱-۲
۳- پۀ هغه دوه جملو مشق کول چې بله ورځ به دیوې لنډې املا دپاره - استعالیږي: غوا ژبه لري - قلم پۀ میز دے. دتورې تختې نه ئې سلیټونو ته نقل کول، مشق پرې کول، لیکل ئې.	

پ ۱- ۶۱، ورپسې درس نمبر اول ددې ورپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

د بائیسکل لفظ د ماشومانو دپاره سخت دے. ددې وجې نه په متن کښې د بائیسکل د لفظونو پۀ ځای د بائیسکل تصویرونه استعمال شوی دی. د لفظ پۀ ځای د تصویر موندل د ماشومانو دپاره یوه نوې تجربه اود لچسپه خبره ده
کۀ چېرې ماشومان پۀ رشتیا سره د دغه لفظ پۀ خط کښې زده کول غواړی نو استاد دې ورته موقع ورکړی

پ۱	2-61
پ۱	۶۱-۲

۱- دا کریم دی. هغه نوی 🚲 لري.
دا د کریم ورور دی. هغه کریم او 🚲 وینې.
کریم په 🚲 باندې ځي.
۲- دا لار ده. یوه غوا او یو کډ راځي. هغوی په لار کښې دي. دا کریم دی د 🚲 سره. هغه په لار کښې پروت دی. 🚲 په لار کښې پروت دی.
۳- کریم په 🚲 راځي. هغه ټیک دی.
🚲 مات نه دی. 🚲 ټیک دی.
کریم ورور وینې. هغه په 🚲 ورور ته ځي

عنوان : دکلیدی لفظ ,خوړ, تعارف د حرف ,ړ, دپاړه د لفظ په آخر کښې ؛ یوه وړه املا لیکل		
	د شاګردانو /استاد مشغلې	
د درس سرلیک	۱- په سلیټونو دیوې وړې املا لیکل : د هغو جملو املاچې په تېرسبق کښې زده کړے شوی دی . غواړي به لږی قلم په مېز دے . ۲- دکلیدی لفظ ,خوړ, تصویری کارډ د تصویرمخ ته کتل ؛ د خوړ په باب - خبرې اترې کول . ۳- دکلیدی لفظ ,خوړ, خطی شکل او د حرف ,ړ, تعارف، دکتابی علامې مطابق ۴- په معموله طریقه سره د مشق پانړې د بنی اړخ پاسنۍ خوا ښه د لوستلو اولیکلو د مشق دپاړه کارا خیستل (مشق په دکلیدی لفظ خوړ, کول) ۵- د مشق پانړې ګڼه خوا د لوستلو د مشق د پاړه استعمالول : اول په دوه دوه کسه اوبیا ټول ټولګی ته . ۶- په سلیټونو باندې د لفظ ,خوړ, دلیکلو مشق کول .	سلیټونه دکلیدی لفظ ,خوړ, تصویری کارډ مشق پانړه پ۱- ۶۱-۳ سلیټونه

پ۱	3-61	خوړ- خوړ
پ۱	۳-۶۱	

خو ړ



خو

خ ړ

خوړ

ړ و

ړ و

داخوړدی -داسیند نه دی.
په سیند کښې اوبه دي .
خوړ اوبه نه لري .
بنځه سیند ته ځي ؟
بنځه خوړته ځي ؟
هغه سیند ته ځي .
په سیند کښې اوبه دي .

- ۱۱۹ -

عنوان : دنفی دحرف (نهی) ، ، نهٔ ، تعارف. د ټولو هغو کلیدی الفاظو تکرارول چې تر اوسه پورې زده کړې شوی دی .

	د شاګرد انو / استاد مشغلې	
۱۰ دقیقې	۱- دوه ماشومان د ټولګي د ماشومانو په مخ کښې ودریږی . په دوئ کښې د یوتن سره یوځیز دے لکه یو پنسل . استاد ماشومانوته اشاره کوی او وائی : ... پنسل لري ، ... پنسل نه لري ، ځانله ځانله او په یو یو کړه سره ټې ماشومان تکرار کوی .	
۱۰ دقیقې	۲- په نورو ماشومانو د نورو څیزونو په ذریعه سره تکرار کول .	
	۳- مشق پانړه کتل ، د نازوا و زرین د څهٔ لرلو یا نهٔ لرلو په باب خبرې کول د اسې جملې وئیل لکه : نازو کتاب لري ، ، نازو جال نهٔ لري ، و هر ماشومان یوه جمله وائی (تکرار کوی)	مشق پانړه . پ ۱-۳۴-۳
۱۰ دقیقې	۴- د زرین د تصویر پاسه د جملو لوستل .	
	۵- د زرین د تصویر د لاندې ورځې جمله لوستل ، لفظ [نهٔ] په چوکاټ کښې معلومول : الف : ځوځو ځله د دغه لفظ تلفظ کول . ب : د ، ن ، (ه) ، اؤ حروفو پېژندنه کول او نومونه ټې اخیستل ، په دغه حروفو کوته اوپنسل کړ ځول .	
۱۰ دقیقې	۶- د زرین د تصویر لاندې نورې جملې لوستل ؛ په خالی ځایونو کښې د لفظ (نهٔ) لیکل . ۷- د انډې وال (مل) سره په ګډه کار کول : د نازو د تصویر د پاسه اولاندې جملو لوستل او خالی ځایونه ډکول .	
	۸- د ټولو جملو لوستل ، همېشه یو ماشوم یوه جمله ، ۹- د مشق پانړې په لاندینۍ سلېټونه	سلېټونه

برخه کښې د ټولو الفاظو لوستل : د هغهٔ الفاظو راټولول سلېټونو ته چې کربنې تر لاندې ړانګلے شوی دی . سلېټونو ته

پ۱ ۳۴-۳
پ۱ ۳۴-۳

زرين جال لري .
زرين چاقو لري .
زرين نال لري .
زرين چرګ لري .



زرين کتاب [نه] لري .
زرين کل [ ] لري .
زرين ستن [ ] لري .
زرين تله [ ] لري .

نازو کتاب لري .
نازو کل لري .
نازو ستن لري .
نازو تله لري .

نازو جال [نه] لري .
نازو چاقو [ ] لري .
نازو نال [ ] لري .
نازو چرګ [ ] لري .

اره - ملخ - لړم - مار - توت - تاج - وښه - یوپ
بابا - چرګه - هګۍ - زمری - اس - امسا - لور - رسی
خر - دېګ - سیند - لاس - جارو - کتاب - چاقو
جال - تله - کل - چرګ - نال - مچ - ستن

-11-

پښتو اول ټولګی پ۱- ۶۲	عنوان: د فعل «کوی» ښودنه د یوځومرکبانو سره لکه: خوب کوی، کار کوی، خبرې کوی، لوبې کوی ۱۰۱

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د ټولګی په صورت حال کښې په ژباتی طور د فعل کوی استعمال	
- د یو یو تن نه غوښتنه کول چې د ټولګی مخې ته یو کار وکړي مثلاً ټوپ وهل یا ټوخې کول، د کار کولو په وخت کښې د ټولګی په ماشومانو سوالونه کول مثلاً «هغه څه کوی؟»	- یو یو ماشوم یو عمل نور سره کوی مثلاً ټوپ وهل، ټوخې کول، نور ورته ګوری او جوابونه ورکوی مثلاً هغه ټوپ وهی هغه ټوخې کوی	
- غوښتنه کول چې هم په دغه ډول عمل جاری وساتی، همیشه دوه ماشومان یوځای یو عمل سرته رسوی/ یو تن ئې سرته رسوی او نور پوښتنې کوی.	- دماشومانو جوړې عمل نور سره کوی، خبرې کوی، نور ورته ګوری، غوږ ورته نیسی، جوابونه ورکوی	
	۲- د لفظ «کوی» خطي شکل زده کول	
- وئیل چې اوس به تاسو یو نوے لفظ زده کوئ، په توره تخته دې پوښتنې لیکل: «هغه څۀ کوی؟»	- غوږ نیسی، د جملې لیکلو ته ګوری.	توره تخته
- د نوی لفظ «کوی» د لوستلو غوښتنه کول:	- لفظ «کوی» معلومول.	
○ د دغه لفظ د حروفو نومونه اخیستل.		
○ د دغه حروفو د مطالعه کولو غوښتنه کول (ک-و-ی) او غوښتنه کول چې د تلفظ معلومات ئې وکړئ.		
○ پته لګول چې د «و» حرف تلفظ دا سې دے لکه په لفظ «یوې» یا «حلوائی» کښې.		
○ غوښتنه کول چې د دغه لفظ تلفظ په مزه مزه - وکړئ، اشاره ورته کوی.		
○ د لفظ «کوی» د بیا بیا تلفظ کولو غوښتنه کول.		
○ خو خو ځله د دغه لفظ تلفظ کول.		
- د سوال د لوستلو غوښتنه کول.	- د دغه سوال لوستل.	
- په هوا کښې د ګوتې په ذریعه د لفظ «کوی» د لیکلو غوښتنه.	- په هوا کښې د ګوتې په ذریعه د دغه لفظ لیکل.	
- غوښتنه کول چې سلېټونو ته د دغه لفظ نقل کړئ.	- سلېټونو ته د دغه لفظ ورنقل کول.	سلېټونه
	۳- د تصویرونو په مدد د لفظ «کوی» خلور مرکبه زده کول.	
- په مشق پاڼې کښې د تصویرونو د مطالعه کولو غوښتنه کول، د اشخاصو او د دوئی د فعالیتونو په باب خبرې کول	- د مشق پاڼې مطالعه کول او پکښې د بنیاد مانو د مشغلو مشاهده کول.	مشق پاڼه پ۱-۶۲-۱
- د مشق پاڼې د سرپوښتنو د لوستلو غوښتنه کول.	- د دغه جملې لوستل.	
- غوښتنه کول چې دا سې پوښتنې وکړئ لکه: «بابا څۀ کوی؟» او په مکمله جمله کښې ئې ځوابونه ووائی لکه: «بابا خوب کوی».	- دا سې پوښتنې کول لکه: «بابا څۀ کوی؟» او جوابونه ئې ورکول لکه: «هغه خوب کوی».	
- غوښتنه چې د تصویرونو لاندې جملې ولولئ، د ضرورت په اندازه مدد کول.	- د دغه جملو لوستلو کوشش کول.	
- په توره تخته د دغو خلورو مرکبو لیکل.	- د دغه الفاظو د لیکلو تماشا کول.	توره تخته
- الفاظو ته اشاره کول کله چې ئې شاګردانو باندې ولولی.	- د دغو الفاظو د لیکلو کوشش کول کله چې استاد اشاره وکړی.	
- غوښتنه چې په دوه دوه کسه د تصویرونو لاندې جملې ولولئ او تصویر د حملې اندول شمېرې ورکړئ، د ضرورت په اندازه مرسته.	- دوه په دوه د جملو لوستل، کار مکمل، بحث کول، د کار کتنه کول.	
- په سلېټونو د نوو الفاظو د لیکلو غوښتنه کول.	- نوې الفاظ په سلېټونو لیکل.	سلېټونه

درسی پلان نمبر: پ۱-۶۲	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوړې تبصرې :

۱- لفظ کوی، پۀ پښتو ژبه کښې هغه لفظ دے چې د مرکب پۀ شکل د پر زیات استعمالیږی.
پۀ دې مرحله کښې د دې لفظ معرفی کول به ماشومانو ته دلوستلو د پاره د پر امکانات پۀ لاس کښې ورکړی.
استاد به داخبره پۀ خیال کښې ساتی چې دیونوی لفظ زده کول د ماشومانو د پاره اوس ورځ پۀ ورځ اسانیږی.
د تجربې پۀ زیاتېدو سره ماشومان حروف اود هغوی اوازونه پېژندلے شی اود لفظونو د جوړولو د پاره آوازونه
یو پۀ بل پسې یوځای کولے شی. د دې وجهې نه پۀ دې آخری درسونو کښې پۀ هر درسی پلان کښې دیوۀ نه
زیات الفاظ نښودل کیږی.

پ۱	1-62
پ۱	۱-۶۲

هغه څه کوي ؟
هغوی څه کوي ؟



۱	هغه کار کوي .	۳	هغوی خبرې کوي .
۲	هغه خوب کوي .	۴	هغوی لوبې کوي .

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

عنوان:	لفظ کوی. دهغهٔ څلورو مرکبا توسره تکرارول، دا سې جلې لوستل چې دا الفاظ لری: خوب کوی، خبرې کوی، لوبې کوی، کار کوی

دشاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د غه الفاظ پهٔ توره تخته لوستل: خوب کوی، کار کوی، لوبې کوی، خبرې کوی کله چې استاذ دې الفاظوته اشاره کوی نو په دغه وخت کښې د جملو ویل. ۲- پهٔ اوله مشق پانړه کښې پوښتنې اوجلې بیا لوستل. ۳- ددوئمې مشق پانړې نه کار اخیستل: الف: دمشق پانړې مطالعه کول اودکار پیدا کول. ب: پهٔ دوه دوه کسه کارکول: پهٔ بنې اړخ کښې وار پهٔ وارجملې لوستل او دسوالونو دپاره د صحیح جواب بیا موندل اوشمېره ورکول. ج: سوالونه اوجوابونه دتورکی پهٔ مخکښې لوستل (یوماشوم یوه پوښتنه او یوجواب).	توره تخته مشق پانړه پا۱-۶۲-۱ مشق پانړه پا۱-۶۲-۲

پ ۱ - ۶۲ - درسی درېمې ورځې نمبر اول

۱	څوک خوب کوي ؟		بنځه کار کوي.	پ۱ 2-62 پ۱ ۲-۶۲
۲	بنځه څه کوي ؟		هغوی لوبې کوی.	
۳	نازو او زرین څه کوي ؟		بابا په کټ کښې دی.	
۴	بابا چېرته دی ؟		ورور او خور خبرې کوي.	
۵	ورور او خور څه کوي ؟		نازو او زرین لوبې کوي.	
۶	څوک کار کوي ؟		بابا خوب کوي.	
۷	څوک خبرې کوي ؟		هغه کار کوي.	
۸	څوک لوبې کوي ؟		هغوی خبرې کوي.	

	عنوان : دالفاظوبرخې سره ښښلول ؛ دډبروالفاظوپۀ کروپ کښې دکلیدی الفاظومعلومول	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د وخت د تقسیم درس د ۶۲-۱ پاڼه	۱- دالفبې تکرارول . ۲- ددرئیمې مشق پاڼې نه کار اخیستل . الف : دمشق پاڼې مطالعه کول ، څۀ چې کول پۀ کار دی دهغې پیدا کول . ب : پۀ دوه دوه کسه یا څانله څانله کارکول : پۀ هربکس کښې ددوه الفاظو پیدا کول اوپۀ تیارشوی څای کښې ئې لیکل.ج: دټولو الفاظو لوستل کوم چې وصل شوید ۳- دخلورمې مشق پاڼې نه کار اخیستل : الف : دمشق پاڼې مطالعه کول ، څۀ چې کیدل غواړې دهغې پیدا کول . ب : پۀ خاموشۍ سره کارکول ، یوپۀ یودکلیدی لفظ معلومول اوهرلفظ د بل لفظ نه دکربنې پۀ ذریعه جدا کول ، وار پۀ وار دالفاظولوستل اندی والا ته. ج : ټول الفاظ ټولګی ته لوستل (ریوماشوم یولفظ) ۴-کۀ چېرې څۀ وخت وو نو ددرئیمې مشق پاڼې الفاظ پۀ سلیټونولیکل.	مشق پاڼه پ۱-۶۲-۳ مشق پاڼه پ۱-۶۲-۴ سلیټونه

پ۱ 3-62 پ۱ ۳-۶۲		
وق ر خو صند	ز ل مر جا ی	ینک ستر که چا
به منځ ږ ژ	رو غذ کا ند	ږ بر قع غو



پښتو اول ټولګی پا۱ - ۶۳	عنوان: لوستل د پوهې سره: دیوهٔ تصویر پهٔ ارتباط د سم او غلط بیان پهٔ مینځ کښې تمیز کول (۱)

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسی معاونات
- یو میز پهٔ توره تخته جوړول اولیکل: "دا یو اوښ دے ."! ☐ "دا یو میز دے ."! ☐ - د دغه جملو لوستلو غوښتنه کول۔ - غوښتنه کول چې پهٔ دغو جملو تبصره وکړئ. - دیوماشوم نه غوښتل چې پهٔ سمه جمله - دا (✓) ښنه وکړي او پهٔ غلطه د چرخې ښنه. - دیو بل مثال تصویر کشی کول اولیکل.	۱- د سمو او غلطو بیانونو پهٔ خبره ځان پوهونه - مشاهده کول. - د دغه جملو لوستل. - پته لګول چې پهٔ دغو جملو کښې یوه صحیح ده اوبله غلطه. - ماشوم همدغسې کوی، نور ورته ګوری او چک کوی. - مشاهده کول، لوستل، د سمو او غلطو بیانونو پهٔ مینځ کښې تمیز کول او د خپل شان سره پرې نښې کول.	توره تخته
- د مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول او وئیل چې د غسې کار وکړئ لکه څنګه چې موخکښې پهٔ تخته وکړ. - د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول.	۲- د یو تصویر پهٔ ارتباط بیانونه لوستل او د سم او د غلط پته ئې لګول - د مشق پاڼې مطالعه کول، څهٔ چې کول غواړی پهٔ هغې ځان پوهول، کهٔ پهٔ کوم څیز نهٔ پوهیږی پهٔ باب ئې پوښتنه کول. - د مشق پاڼې مکملول، پهٔ خاموشۍ سره کارکول، جملې د تصویرونو سره متابله کول او چې څنګه ښنې غواړی هغه پرې کول (✓ یا ✗)	مشق پاڼه پا۱-۶۳-۱
- غوښتنه کول چې هر یو بیان د یې ټولګی ته ولوستل شی او د دې وئیل شی چې دا ښنې پرې څنګه وکړے شوې، پهٔ کوم ځواب کښې چې شک شبه موجوده وی پهٔ هغې بحث کول. - غوښتنه کول چې اول ټول صحیح بیانونه ولولئ او بیا غلط بیانونه. - غوښتنه کول چې نور بیانونه پیدا کړی (سم وی که غلط)	۳- د نتیجو مقابله کول - د بیانونو لوستل (یو ماشوم یو بیان)، - بیانول چې دا ښنې پرې څنګه وشوې، سم کوم دے او غلط کوم دے؛ د نورو ورته غوږ نیول، مقابله کول، چک کول، پهٔ کوم - ځواب کښې چې شک شبه وی بحث پرې کول. - ټول صحیح بیانونه لوستل، بیا د غلطو - بیانونو لوستل. - د نورو بیانونو تجویز کول، کهٔ ممکنه وه بیانونه د یې مزاحیه وی	

درسی پلان نمبر: پ ا - ٦٣	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

ا- دا درسی پلان او ددې درسی پلان ورپسې درسونه استاد ته ددې موقع ورکوی چې پۀ لوستلو او تريږي اندازې پورې پۀ ليکلوکښې د شاګردانو د لياقت اندازه ولګوی. دمشق تکرار پۀ دې کښی مدد کوی چې د ماشومانو کمزوری اړخونه را برسېره کړی او پۀ راتلونکی هنتوکښې هغوی ته توجه وشی. استاد به هيڅکله شاګردانو ته شاباسے وئيل نۀ هيروی. هغه به دا خبره بنه يقينی کوی چې ټول ماشومان پۀ چُپه او پۀ ارام سره کار کوی. دکار د شروع کولونه مخکښې به استاد خپل يقين پۀ دې خبره بنۀ خلاصوی چې ماشومان پخپل کار پوهه دی چې څۀ وکړی. کۀ چرې کوم ماشوم څۀ مشکل ولری نو د استاد نه مدد غوښتلے شی.

پ ا	1-63
پ ا	١-٦٣



	دا سيند دی.		بابا يوپ کوي.
	يوه ښځه سيند ته ځي.		ښځه برقع نه لري.
	ونه غټه او زړه ده.		د بابا سره اوښ دی.
	نازو برقع لري.		زرين کتاب لولي.
	ښځه د سيند نه راځي.		نازو يو خط ليکي.

		زرين په سيند کښې دی.
		نازو په سيند کښې نه ده.
		د سيند سره يوه ونه ده.
		د سيند سره ځنګل دی.
		يو اس له سيند نه راځي.

د بل درسی پلان د ښودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

لومړی فصل ـ درس دریمې ورځې ـ ۶۳-۱ پ

عنوان: نامکمل جملې لوستل، انتخابول او د صحیحو غیبو الفاظو لکول	
د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د ۔علی وائی۔ لوبه کول (لکه څنګه چې په ټولو پښتم درسی پلان کښې د ه) ۲- په مشق پاڼه د کار کولو تیارې نیول: الف: استاد په تخته دوه نامکمل جملې لیکی. مثلاً: "امسا د ړوند ☐ پاره ده۔" ، "مور او لوُر سیند ☐ ځی۔" او دوه الفاظ لیکل چې یو د دغه دواړو نه په جمله کښې برابر لکی، د جملو لوستل د ماشومانو له طرفه، غیب شوی الفاظ پیدا کول، لیکل ئې.	تخته
۳- هر ماشوم په خپله سره په مشق پاڼه کار کوی: د د غو جملو لوستل، ګڼې خوا ته الفاظو نه د هغه لفظ انتخابول چې د جملو د خالی ځای سره برابریږی.	مشق پاڼه پ۱-۶۳-۲
۴- په ټول کلاس کښې د کار مقابله کول، د مکمل و جملو لوستل (یو ماشوم یو جمله) د هغه لفظ نوم اخیستل چې د جملې په خالی ځای کښې ئې لګولے دے، نور خپل کارونه مقایسه کوی، په څه کښې چې شک شبه وی خبرې پرې کول.	

پ۱	2-63
پ۱	۶۳-۲
لاس	
بابا	
کښې	
ویښې	
او	
کتاب	
دې	
سره	
ته	

زرین په باغ کښې ګډ ☐ .
کښت ☐ زانګو په کور کښې دي.
بابا د نړۍ ☐ باغ ته ځي.
ښځه سنن په ☐ کښې لري.
قلم او خط په میز باندې ☐ .
امسا د ☐ د پاره ده.
مور او لور بس ☐ ځي.
بابا یو غټ ☐ لولي.
پیشو په ونه ☐ ده.

عنوان: د ورکړشوی تصویر دپاره د صحیح کلیدي لفظ پیدا کول اولیکل ټې		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د وخت د تیریدو سره سره ۱-۶۳-پ۱	۱- ددې لوبې کول: ،زه پۀ خپلو ستړګو یوشے ویینم، (یواځې رنګونه به نۀ ذکر کیږی بلکې د خیزونو دخاصیتونو ذکر به هم کیږی لکه: یوشے چې غوندې وی، یا یوشے چې وپوکے دے). ۲- پۀ مشق پاڼه د کارکولو تیارے نیول: پۀ تخته د یوۀ خیز رسمول د استاد لۀ خوا اود شاګردانو نه غوښتل چې تصویر دلاندې د تصویر صحیح نوم ولیکۍ. ۳- پۀ مشق پاڼه پۀ چپه سره کارکول: د تصویرونو پېژندل اود هغوی د پاره صحیح الفاظ لیکل پۀ تیار شوو ځایونو کښې. ۴- پۀ ټول ټولګی کښې مقابله کول: الف: ماشومان همېشه د یوخیز نوم اخلی، استاد ټې پۀ تخته لیکی، ماشومان مقابله کوی اوغلط لیکلی شوی الفاظ یوځل بیا د تصویر خواکښې - لیکی. ب: کلاس ته د الفاظو لوستل.	د لوبې تشریح مشق پاڼه پ۱-۱۲ کښې شوې دے توره تخته مشق پاڼه پ۱-۶۳-۳



پښتو اول ټولګی پ۱ - ۶۴	عنوان: مزاحیه جملې لوستل (۱)	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- پته ګډول چې دا جملې غیر عادي اوعجیبه غوندې صورت حال بیانوي	
- پۀ توره تخته یوه جمله لیکل: «اوښ اوغوا د بس سره کار ته ځي.» - پوښتنه کول چې ولې خاندئ!	- دا غه ناممکنې جملې د لوستلو کوشش کول، د ځینو نه لار ورکه کېدل، د ځینو خندل. - ببل ببل کس دخپلې خندا وجوهات وائي مثلاً وائي چې غوا خو بس سره د کار دپاره نۀ ځي.	توره تخته
	۲- نا اشنا نا اشنا جملې لوستل اوخوند ترې اخیستل	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې د سرکرښه ووائي. د نورو الفاظو پۀ لوستلو کښې مرسته کول - دغه عجیبه تصویرونو ته د کتلو وینا کول او څۀ چې پکښې غیر معمول ښکاري د هغوی بیانول. - غوښتنه کول چې متعلقه جملې ټولګي ته ولولئ. - غوښتنه کول چې پۀ عنوان کښې د سوال جواب - ووئیل شي. - پۀ دوه دوه کسه دکارکولو غوښتنه کول، دا غه ټولو جملو لوستل وار پۀ وار. - پوښتنه کول چې کومه فقره د ټولو نه زیاته د خندا لایقه ده. - ټول ټولګي ته دا غو جملو وئیل، د ضرورت پۀ وخت مدد کول.	- د سر د کرښې دوئیلو کوشش کول: «ایا دا کېدے شي؟ - دغه تصویرونو ته کتل او بیانول ځي. - دا غه جملو لوستل ټول ټولګي ته. - کوشش کول چې دا مشق پاڼه دځۀ پۀ باب ده بیان ځي کړي. - پۀ دوه دوه کسه دا غو جملو لوستل، دغه ټولې فقرې لوستل، وار پۀ وار. - هرچاته چې کومه جمله ډېره د خندا لایقه ښکاري هغه وائي. - ټولګي ته دا غو جملو وئیل (یوماشوم یوه جمله)	مشق پاڼه پ۱-۶۴-۱
	۳- د خندا وونکو جملو د لیکلو کوشش کول	
- غوښتنه کول چې خندا وونکې جملې پۀ دوه دوه کسه ولیکئ (د ضرورت پۀ اندازه مدد کول) (۲) - غوښتنه کول چې خپلې خپلې جملې ټولګي ته ولولئ، د تبصرو دپاره وخت ورکول.	- پۀ دوه دوه کسه کارکول، خندا وونکې جملې پۀ سلیټونو لیکل. - ټولګي ته د جملو لوستل، د نورو ورته غوږ نیول، تبصرې پرې باندې کول.	سلیټونه

درسی پلان نمبر: پ۱-۶۴	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- اوس ماشومان دې مرحلې ته رسېدلی دی چې زده کړے شوی الفاظ پۀ یوۀ غیر متوقعه موضوع کښې ولولی اود خندوونکو جملونه خوند واخلی . څۀ چې لولی پۀ هغې به خندا ورځی ، ځکه چې دوی څۀ لولی دهغې پۀ سر او بر به پوهیږی.

۲- هرماشوم ته پۀ کارده چې دخپل اندې وال سره لږ ترلږه یوه یوه خندوونکې جمله ولیکی . استاد به دحاجت پۀ اندازه مددکوی . تولې هغه جملې چې ماشومانو لیکلی دی قبلیږی به .

پ۱	1 – 64
پ۱	۱ – ۶۴

ایا دا کېدی شي ؟



پیشو عینک لري . چرک یوپ کوي .

اوښ په کور کښې دی او یو خط لیکي.
ځنګل په کور کښې دی.
غوا د ترښځ سره باغ ته ځي.
زمری یو غټ نوی چاقو لري .
په طاق کښې یو وړوکی ګډ خوب کوي.
اس په ونه کښې دی.
مار د لرم سره لوبه کوي.
حلوائي په زانګو کښې خوب کوي.
خر یوه تله په لاس کښې لري.
مچ او ملخ خبرې کوي.
ونه په ټال کښې ده.
نال د غوا دپاره دی.

پښتو اول ټولګی	عنوان: د لفظ ـ وینی ـ بنودل (هغه وینی)
پ ۱- ۳۵	

د استاد مشغلي	د شاګردانو مشغلي	درسي معاونات
	۱- پۀ جملو کښې پۀ لفظ ـ وینی ـ زبانی مشق کول	
ـ د یوماشوم نه غوښتنه کول چې پۀ خپله خوښه مخې ته راشی او وئیل: ـ نن به مونږ پۀ ډېرو جملو کښې لفظ ـ وینی ـ استعمالوو.	ـ یو تن پخپله خوښه مخې ته راځی. نور ورته ګوری، غوږ نیسی.	
ـ دغه رضا کار هلک ته پۀ غوږ کښې پټ وئیل چې دروازې ته وګوره! د نورو ماشومانو نه پوښتنه کول چې دا ماشوم څۀ ته ګوری یا څۀ وینی؟ مرسته کول چې صحیح جمله پیدا کړی.	ـ دغه رضا کار ماشوم دا استاد د هدایت سره سم عمل کوی او ورته ګوری؛ نور ماشومان جملې وائی لکه: هغه ور وینی ـ	
ـ د ماشومانو لارښوونه کول چې ډېرې جملې جوړې کړی، نورو ماشومانو ته اجازه ورکول چې د جملو جوړولو د پاره مخې ته راشی.	ـ څومره چې کیدے شی جملې وئیل او د لفظ وینی ـ استعمالول، د جملې د وئیلو د پاره مخې ته راتلل نورې اندازه کولو چې هغه څۀ وینی	
	۲- د لفظ ـ وینی ـ د ټکل او آواز زده کول	
ـ پۀ توره تخته دا جملې لیکل: ـ بابا اس وینی ـ، زرین خر وینی ـ (۱)	ـ پۀ تخته جملو ته کتل	توره تخته
ـ د جملو د لوستلو غوښتنه کول او غوښتل چې نورے لفظ پکښې پیدا کړی.	ـ د جملو د لوستلو کوشش کول او پکښې د نورے لفظ ـ وینی ـ پیدا کول.	
ـ غوښتنه کول چې پۀ دې لفظ کښې د هغه حروفو نومونه واخلی چې ترا وسه ئے زده کړی دی.	ـ کوم حروف ئے چې مخکې زده کړی دی نومونه ئې اخلی.	
ـ د لفظ ـ وینی ـ کارډ بنودل او د هغۀ د تلفظ غوښتنه کول	ـ د لفظ وینی ـ کارډ مطالعه کول او د لوستلو کوشش ئے کول.	د لفظ کارډ (وینی)
ـ دغه لفظ پۀ غور سره پۀ توره تخته لیکل (۲)	ـ د دغه لفظ لیکلو ته پۀ غور کتل	توره تخته
ـ غوښتنه کول چې دغه لفظ پۀ هوا کښې د ګوتو پۀ ذریعه ولیکئ!	ـ د ګوتو پۀ ذریعه دغه لفظ پۀ هوا کښې لیکل	
ـ پۀ توره تخته مختلف کارډونه لګول چې د لفظ اړخ ګاى په جمله کښې ووینی.	ـ کارډونو ته کتل او د مکمل جملو د ویلو کوشش کول لکه: "زرین زمرے وینی" "بابا چا وینی"	د کلیدی لفظونو تصویري کارډونه پۀ انتخاب سره
د شاګردانو حوصله افزائی کول چې د هر کلیدی لفظ تصویري کارډ بنودلو پۀ وخت یو جمله جوړه کړی (۳) د ضرورت پۀ وخت مرسته کول.		
	نور نور مشق	
ـ د مشق پانړې د ټکلو غوښتنه کول او مرسته کول چې ماشومان پۀ دې صورت حال چې: ـ بابا او زرین څیزونه لیدلے شی او نازو ئے نۀ شی لیدلے ـ پوهه شی.	ـ مشق پانړه مطالعه کول او څیزونو او خلکو پېژندل. پۀ صورت حال پوهېدل.	
ـ د جملو، فقرو، د جوړولو د طریقې د پوهېدلو د پاره د مشق پانړې د سرد مثال نه کار اخیستل.	ـ مثال ته کتل، د الفاظو پېژندل او د جملو لوستل	مشق پاڼه پ ۱-۳۵-۱
ـ د ماشومانو حوصله افزائی کول چې فقرې جوړې کړی، د ضرورت پۀ اندازه مرسته کول	ـ دا سې جملې جوړول لکه: ـ زرین لرم وینی. ـ بابا ما روینی. ـ نازو ملغ نۀ وینی ـ	
ـ غوښتنه کول چې دوه دوه کسه د مشق پانړې پۀ آخری برخه کښې فقرې ولولی.	ـ دوه دوه تنه جملې ولولی.	
ـ د یو خو طالب علمانو خوښول چې هره جمله پۀ زوره ولولی.	ـ جملې پۀ زوره زوره ولولی	
ـ وئیل چې د مشق پانړې پۀ اخر کښې د الفاظو پنسل وګرځوی او خوځوله ئې سلیټونو ته راتلل کړی	ـ د هدایت سره سم عمل کول.	سلیټونه

-۱۲-

پ ا-۶۴ ، وړپسې درس نمبر اول

عنوان : داسې الفاظ پیدا کول چې دیو ورکړے شوی لفظ د آخری اودلفظ د سرد حرف اندول وی	
د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د تبرې ورځې خندوونکې جملې بیا لوستل. ۲- پۀ دوئیمه مشق پانړه کارکول : الف: د مشق پانړې مطالعه کول ؛ ب : پۀ آخری کرښه کښې الفاظ پټول د دې دپاره چې پۀ زبانی مشق کښې ونۀ لوستل شی ؛ کوشش کول چې پۀ ټولګی کښې د هغې ځینې اندول الفاظ پیدا کړے شی : مثلاً د منځنی لفظ تال دپاره ،ا، کوشش کول چې د جماعت د کمرې د ملګرو سره یوځای ځینې اندول الفاظ پیدا کړی . ج: پۀ دوه دوه کسه کارکول : د آخری کرښو پۀ الفاظو کښې د یوبل سره اندول الفاظ پیدا کول ؛ د دغه الفاظو لیکل پۀ خپلو مناسبو ځایونو کښې د منځنی قطار (کالم) د الفاظو سره نزدې . د : د کارمتقایسه کول : ټول ټولګی ته د جملو لوستل (یوماشوم یوقطار)	مشق پانړه پ۱- ۶۴-۱ مشق پانړه پ۱- ۶۴-۲

پ ا-۶۴ ، وړپسې درس نمبر اول

د درس د وړپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱- د منځنی قطار لفظ همیشه د نورو قطارونو د الفاظو سره تړون لری : د بنی قطار لفظ د منځنی قطار د لفظ د سر پۀ حرف ختمیږی. پۀ کځ قطار کښې لفظ د منځنی قطار د لفظ پۀ آخری حرف شروع کیږی .

مثال :





عنوان: دکلیدی الفاظو تکرارول . دکلمو د شوو تصویرونو او الفاظو مطالعه کول او پۀ مناسب دول ټې یوځای کول	
د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- پۀ تیرو هفتو کښې د زده کړې شوو سختو الفاظو لوستل کوم چې د استاد لۀ طرفه پۀ بې ترتیبه دول ښودل کیږی. ددې کلیدی الفاظو د سرد حروفو - تکرارول. ۲- دکاردکتاب پۀ دوه آخرۍ مخونو کښې پۀ درئیمه مشق پاڼه کارکول : الف: خندوونکو تصویرونو ته کتل، ددغه تصویرونو د تشریح کولو او د هغوی دلاندې الفاظو د لوستلو کوشش کول. ب : ددغه دوه الفاظو/خیزونو پیدا کول کوم چې پۀ مختلفو تصویرونو او الفاظو کښې سره مخلوط شوی دی. ج : پۀ تیار کړې شوو ځایونو کښې د الفاظو د صحیحو برخو پۀ یوځای کولو سره دخاصو الفاظو لیکل.	دکلیدی الفاظو د تصویری کارډونو یوه مجموعه مشق پاڼه پ۱-۶۴-۳
۳- پۀ دې خبرې باندې د ماشومانو پوهول چې دکربنو پۀ اوږدو کښې چې کوم الفاظ او تصویرونه دی هغه به پۀ کور کښې شلولے کیږی او پۀ خپل مناسب سره به یوځای کول کیږی (۱)	

پ ۱-۶۴، ورپسې درس نمبر دوئیم : ددې ځای ورپسې درس پۀ باب ځۀ نوري تبصرې

۱- ددې دپاڼې چې پۀ دې کتاب کښې کار آخرې ته ورسیږی نو ماشومان به پۀ کور کښې پۀ دې کتاب کښې یو مزیدار کار پۀ شوق سره وکړی . کۀ چیرې دوئ تصویرونه او الفاظ وشلوی او پخپل مناسب او صحیح ځای ټې ډیوبل سره ولګوی نو سم تصویرونه او الفاظ بۀ جوړ شی او بیا ټې خپل مور و پلار ته وښئ او الفاظ د هغوئ پۀ مخ کښې ولولی .





ا اس 	ب بابا 	پ پیشو
ت تله 	ټ ټال 	ث ثمر 
ج جارو 	چ چرکه 	ح حلوايي
خ خر 	څ څپلی 	ځ ځنکل 
د دېک 	ډ ډول 	ذ ذخیره 
ر رسی 	ړ ړوند 	ز زانکو 
ژ ژبه 	ږ ږمنځ 	س سترکه 

ش شمع	بښځه	ص صندوق
ض ضعيف	ط طوطي	ظ ظروف
ع عينک 	غ غوا 	ف فقير
ق قلم 	ک کټ 	ګ ګل
ل لاس	م مار	ن نال
ه هګۍ	ی یوپ 	و ونه

* ن
* داسې لفظ چې په دې توري سره شروع کيږي پيدا نکړی شو.


ا
ب پ ت ټ ث
ج چ ح خ څ ځ
د ډ ذ
ر ړ ز ژ ږ
س ش ښ
ص ض ط ظ ع غ
ف ق ک ګ ل م
ن ڼ و ه ة
ی

د درسی پلان نمبر	د درسی پلان اود ورپسی درس عنوانونه	حروف: حرف په اخر کښې	حروف: حرف په سر کښې	الفاظ: کلیدی الفاظ	الفاظ: نور الفاظ	صفحه
۳۳	د دریو نوو کلیدي لفظونو بنودل : لرم - مار - مچ	م چ	م	لرم مار مچ		۴ - ۷
۳۴	د کلیدي لفظونو ،ستن - او ،نال، بنودل ؛ د تنا في لفظ ،نه، بنودل ؛ د ټولو کلیدي الفاظو چې تر اوسه پورې زده کړې شوي دي بیا تکرارل	ن	ن	ستن نال	نه	۸ - ۱۱
۳۵	د فعل ویني، بنودل ؛ د شخصي ضمیر ،هغه، بنودل ؛				ویني هغه	۱۲ - ۱۵
۳۶	د کلیدی الفاظو ،چاینګ، او ،کټ، بنودل ؛ د لفظ ،کور، بنودل .	ک	ک	چاینګ کټ	کور	۱۶ - ۱۹
۳۷	د یوې قیصې ویل : ،مانو یو ورکوټے پیشو ونکړے، د کلیدي الفاظو ،توپ، او ،ځنګل، بنودل	پ	ځ	توپ ځنګل		۲۰ - ۲۳
۳۸	د فعلونو ،ځي، او ،راځي، بنودل د اړخ ټاکونکي الفاظو ،ته، او له،.....نه، بنودل د لوستلو د قابلیت اندازه کول				ځي، راځي ته، له، نه	۲۴ - ۲۷
۳۹	د کلیدي الفاظو ،سترګه،، ،بس، او ،ترښځ، بنودل	س ځ	س	سترګه بس ترښځ		۲۸ - ۳۱
۴۰	د حکمونو مطابق عمل کول (حکمونه ترسره کول) د نهي د علامې په طور د لفظ ،مه، زده کول یوه لوبه کول ،علي وایي،				مه	۳۲ - ۳۵

	د درسی پلان اود ورپسې درس "عنوانونه	حروف: حرف په اخرکښې	حروف: حرف په سرکښې	الفاظ: کلیدی الفاظ	الفاظ: نور الفاظ	صفحه
۴۱	ټول زده کړے شوي الفاظ بیا تکرارول ؛ د حرف الف، سره د دې حروفو ټول دکلیدي الفاظو ،شمع، او ، برش، بنودل	ش	ش	شمع برش	یوځوساده الف الفاظ د الف سره	۳۶-۳۹
۴۲	بې آواز، حروف (کانسونانټ) د آواز لرونکي حرف (واولز) "و" سره یوځای کول دکلیدي الفاظو "ډول، او "کډ، بنودل	د	د	ډول کډ	د واولز "و" سره ساده الفاظ	۴۰-۴۳
۴۳	د ،راني، پۀ حتله یوه قیصه وئیل دکلیدي الفاظو ، باغ ، او ،ټال، بنودل مکمل جمله وئیل اوخالي ځایونه ډکول	غ	ټ	باغ ټال		۴۴-۴۷
۴۴	کورني ځناور ؛ دکلیدي الفاظو ،غوا، او ،اوښ، بنودل په مختلفو مشتونو سره د الفاظو تکرارول	ښ	غ	غوا اوښ		۴۸-۵۱
۴۵	د الفاظو ،په .....کښې، بنودل دکلیدی الفاظو ،بنځه، او ،بوټ، بنودل ؛ الفاظ پۀ یوداسې ترتیب ایښودل چې معنٰی لرونکی جمله ترپښه جوړې شی	ټ	ښ	بنځه بوټ	په...کښې	۵۲-۵۵
۴۶	د لوستلو د قابلیت اندازه کول د تصویرونو سره جملې ټول دکلیدي الفاظو ،قلم، او ،خط، بنودل دکلیدي الفاظو تکرارول	ط	ق	قلم خط		۵۶-۵۹
۴۷	د الفاظو ،یو، او ،یوه، بنودل ("یو، د مذکر دپاره او "یوه، د مؤنث دپاره) دکلیدي الفاظو ،زانګو، او ،میز، بنودل	ز	ز	زانګو میز	یو یوه	۶۰-۶۳
۴۸	د الفاظو ،په ،/،باندې، بنودل دکلیدي الفاظو ،طوطي، او "طاق، بنودل	ق	ط	طوطي طاق	په/باندې	۶۴-۶۷

درسي پلان نمبر	د درسي پلان اود ورپسي درس "عنوانونه	حروف: حرف په اخر کښې	حرف په سر کښې	الفاظ: کليدي الفاظ	نور الفاظ	صفحه
۴۹	د لفظ "چرته" بنودل او د سوالیې علامه "؟" بنه، بنودل، د کلیدي لفظ "څپلۍ" بنودل د کومکي لفظ "او" بنودل	څ		څپلۍ	چرته "؟" او	۶۸-۷۱
۵۰	د الفاظو "څوک"، "څه" او "دې" بنودل د کلیدي الفاظو "ژبه" او "فقیر" بنودل د الفاظو د جوړولو د پاره د الفاظو برخې یوځای کول	ژ ف		ژبه فقیر	څوک څه دې	۷۲-۷۵
۵۱	د الفاظو "لیکي" او "لولي" بنودل د کلیدي لفظ "حلوائي" بنودل لوستل اود تکي پۀ تکي وئیلو مشق	ح		حلوائي	لیکي لولي	۷۶-۷۹
۵۲	پۀ یوه تصویر کې قیصه (پۀ ټانګه کښې تلل) ځای پوهول؛ د کلیدي الفاظو "ثمر" او "ذخیره" بنودل؛ د الفبې د حروفو د زده کولو شروع کول.	ث ذ		ثمر ذخیره		۸۰-۸۳
۵۳	د الفبې بنودل، د دې ټبلې ټبلې حصې پۀ یادو زده کول او د یوې ساده نظم سره پۀ ټرل د کلیدي الفاظو "ږوند" او "زمنځ" بنودل	ږ ز		ږوند زمنځ		۸۴-۸۷
۵۴	د لفظ "سره" بنودل. د الفبې د حروفو زده کول جاري ساتل. د کلیدي لفظ "صندوق" بنودل.	ص		صندوق	سره	۸۸-۹۱
۵۵	د لفظ "دپاره" بنودل. د کلیدي لفظ "ضعیف" بنودل. د الفبې د حروفو زده کړه جاري ساتل.	ض		ضعیف	دپاره	۹۲-۹۵
۵۶	د کورنیو او د کورنیو د نزدې خپلوانو د پاره الفاظ بنودل. د کلیدي لفظ "ظروف" بنودل.	ظ		ظروف	پلار مور زوی لور رور	۹۶-۹۹

درسي پلان نمبر	د درسي پلان اود ورپسي درس "عنوانونه	حروف: حرف په اخر کښې	حروف: حرف په سر کښې	الفاظ: کليدي الفاظ	الفاظ: نور الفاظ	صفحه
۵۷	د لفظ "هغوی" بنودل. د کليدي لفظ "عينک" بنودل. د الفبې يا دول جاري ساتل.		ع	عينک	هغوی	۱۰۰ - ۱۰۳
۵۸	پۀ قصه، سيما، ځان پوهول؛ ورکړے شوي - حروف د متعلقه الفاظو سره پۀ ذهني طور يوځای کول. د الفبې د اخرې برخې زده کول. د کليدي لفظ "غوږ" بنودل	ږ		غوږ		۱۰۴ - ۱۰۷
۵۹	د الفاظو "غټ" او "وړوکی" بنودل (پۀ مذکر او مؤنث حالت کښې). د کليدي لفظ "کاغذ" بنودل؛ د الفبې اود هغه کليدي الفاظو تکرارول چې اوس اوس زده کړے شوي دي.	ذ		کاغذ	غټ وړوکی	۱۰۸ - ۱۱۱
۶۰	د الفاظو "نوی" او "زور" بنودل (د مذکر او مؤنث د پاره). د کليدي لفظ "برقع" بنودل.	ع		برقع	نوی زور	۱۱۲ - ۱۱۵
۶۱	د يوې قيمې لوستل او د تصويرونو سره ورته تعلق ورکول "پۀ سائيکل سورېدل" د متعلقه ټيکسټ لوستل د کليدي لفظ "خوږ" بنودل.	ږ		خوږ		۱۱۶ - ۱۱۹
۶۲	د لفظ "کوی" بنودل د يوځومرکبا تو سره؛ د الفبې تکرارول؛ د مشق لوستل.				کوي خوب کوي کار کوي خبرې کوي لوبې کوي	۱۲۰ - ۱۲۳
۶۳	په پوهه سره لوستل: د تصويرونو په ارتباط په غلطواو صحيح جملوکښې فرق کول اود تصوير سره ارتباط ورکول؛ د جملومکملول. ورکړے شوي تصوير ته صحيح کليدي لفظ پيدا کول.					۱۲۴ - ۱۲۷
۶۴	د مزاحيه جملو دويلو نه خوند اخيستل؛ ورکړے شوو حروفو نه اردول الفاظ پيدا کول؛ د کډوډ شوو حروفونه خوند اخيستل او دا په نرتيب کول					۱۲۸ - ۱۳۱
	د الفبې تصويري چارټ.					۱۳۲-۱۳۳
	د الفبې چارټ					۱۳۴
	د مضامينو فهرست.					۱۳۵-۱۳۸

ARIC
B
6.421
PAK
1279
VI-A2

COMMISSIONER AFGHAN REFUGEES
- EDUCATION CELL -

gtz B.E.F.A.RE. - PROJECT *gtz*
(BASIC EDUCATION FOR AFGHAN REFUGEES)

HB P-I 33-64

MARCH 1992

PRINTED BY
PRINTING CORPORATION OF FRONTIER LTD.
P.O.BOX 752 PESHAWAR PHONE NO. 812195

درسی پلان نمبر ۱- ۳۵	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوې تبصرې :

۱- دا پوهه ضروری خبره ده چې جمله پۀ غټ اوواضحه خط ولیکلے شی چې ماشومان ئې پۀ اسانی سره ولولی . بیابه د لفظ « اس » پۀ ځای یو تصویری کارډ لکول کیږی . د دې وجهې نه به د تصویری کارډ دپاره کافی ځای پرېښودل کیږی . بابا اس وینی / زرین خر وینی .

۲- دا پۀ یاد وساته چې لفظ به پۀ ډېر غورا ومنو منو (ورو ورو) لیکی چې ماشومان پرې ړوسته قلم وګرځوی لے شی اودې ته ئې پام وی چې د حروفو لیکل د کوم ځای نه شروع کیږی .

۳- استاد به یو معلوم کارډ انتخابوی او د هغه نه به جملې جوړوی . همدارنګه به د کارډ د خط مخ هم بدلول کیږی چې پۀ جملو کښې تنوع راشی (چې قِسم قِسم جملې جوړې شی) اوزیات مشق هم وشی . جملې به پۀ همدغه طریقه چې مخکښې جوړې شوې جوړیږی لکه : « بابا یواس وینی » همداسې نور .
استاد به دا د جملو پۀ مناسب ځایونو باندې پۀ تخته لیکی .

پ۱	۱-۳۵
پ۱	۱-۳۵

بابا لړم وینې.
نازو لړم نه وینې.



وینې

زرین مچ وینې. بابا مار وینې.

زرین ستن وینې. نازو ستن نه وینې.

بابا زمری وینې. نازو زمری نه وینې.

زرین نال وینې. نازو نال نه وینې.

بابا کل وینې. نازو کل نه وینې.

بابا ملخ وینې. نازو ملخ نه وینې.

وینې - وینې - وینې - نه وینې - نه وینې

د بل درمې پلان د بنودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

	عنوان: د ضمیر ، هغه ، بنودنه	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
اول	۱- استاد دیوۀ سړی پۀ باب یوه وړه قصه کوی . هر جمله به د سړی پۀ نوم شروع کوی (۱)	
ب	۲- ماشومان سوچ کوی چې دا جملې خولږځۀ عجیبه غوندې دی اوپته لګوی چې د سړی د نوم پۀ عوض ، هغه ، استعمالیدے شی	
	۳- د مثالونو نه دا پته لګول چې لفظ ، هغه ، د نراوبنځې دواړو دپاره استعمالیدے شی .	
درې	۴- دمختلفو خلکو پۀ باب ساده بیانونه ورکول ، پۀ بیان کښې اول د سړی نوم اخیستل اوبیاپۀ همدغه بیان ، جمله ، کښې د نوم پۀ عوض ، هغه ، استعمالول لکه:	
ورځې	کل پنسل لری ـ هغه پنسل لری نازو کتاب لری ـ هغه کتاب لری	
۱	۵- پۀ توره تخته لفظ ، هغه ، ته کتل . پۀ غور سره د لفظ تلفظ کول : حرف ، هر ، پۀ سر او آخر کښې پېژندل او د حرف نوم اخیستل .	توره تخته
۳۵	۶- د لفظ هغه ، د لیکلو عملی مظاهره پۀ توره تخته کول د استاذ له طرفه . د کوتې پۀ ذریعه پۀ هوا او سلیټونو باندې د د غه لفظ لیکل د شاګردانو د طرف	
۱	۷- مشق پانو استعمالول : الف ، د ماشومانو ، نازو ، او ، زرین ، او د تصویرونو پېژندنه کول : ب : د د غه جملو لوستل (اول پۀ ټول جماعت کښې اوبیاپۀ دوه دوه کسه) ج : پۀ آخری کرښه کښې پۀ الفاظو ، هغه ، قلم کرل .	مشق پانو پ ۱-۳۵-۲

پ ا- ، وړې درس نمبر

د د ې ، وړې درس پۀ باب ځۀ نو ړې تبصرې

(۱) الف: علی سحر پاڅی . علی چای څښی . علی سکول ته ځی .
علی پښتو زده کوی

ب : مرجان د مور سره مرسته کوی . مرجان پیالی راوړی
مرجان چای راوړی . مرجان چای اچوی

پ ۱	2-35
پ ۱	۲-۳۵

زرین / هغه	نازو / هغه
زرین دادی .	نازو داده .
هغه دادی .	هغه داده .
زرین کتاب لري .	نازو نال لري .
هغه کتاب لري .	هغه نال لري .
هغه نازو وینې .	هغه زرین وینې .
هغه لرم نه وینې .	هغه مارنه وینې .
هغه خر نه لري .	هغه کل نه لري .

هغه هغه هغه

عنوان: دالفاظو لوستل، دزده کړې شوو الفاظو پۀ ذریعه ساده جملې جوړول		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
درس: لومړی موضوع: ساده جملې ټولګی: لسم وخت: ۴۵ دقیقې پاڼه: ۳۵-۱	۱- دلفظ ، هغه ، بیابیا استعمالول : استاد همیشه یوماشوم د ټولګی مخې ته راغواړی . نورو ماشومان دهغه پۀ باب جملې وائی . پۀ اوله جمله کښې دهغه نوم استعمالوی اوپۀ نورو جملو کښې د نوم پۀ ځای ضمیر استعمالوی . لکه : ، دا اکرم دے ، ـ ، هغه کتاب لري ،	
	۲- مشق پانړې ته کتل . کوم تصویرونه چې وینی خبرې پرې کول / تشریح کول ځې .	مشق پانړه پ ۱-۳۵-۳
	۳- کوشش کول چې جملې اول دوه دوه تنه ولولی اوبیا ځې د ټول جماعت پۀ مخکښې پۀ زوره ولولی .	
	۴- د مشق پۀ آخرکښې د جملو لوستل (یوماشوم یوه جمله)	
	۵- پۀ سلیټونو د اجملې لیکل . څو شاګردان کولے شی چې جملې پۀ تخته ولیکی.	سلیټونه ـ توره تخته

پ۱	3-35
پ۱	۳-۳۵

دا نازو ده.	دا زرین دی.
هغه دا ده.	هغه دا دی.
دا ونه ده.	دا جال دی.
نازو ونه وینې.	زرین جال وینې.
دا د نازو ونه ده.	دا د زرین جال دی.
هغه ونه لري.	هغه جال لري.
هغه جال نه وینې.	هغه ونه نه وینې.

دا نازو ده ـ دا ونه ده ـ دا د نازو ونه ده ـ نازو ونه لري

پښتو اول ټولګی	عنوان: دکلیدی لفظ ، چائینک ، بنودنه دلفظ پۀ آخرکښې دحرف ، ک ، دپاره
پ ۱- ۳۶	

دا ستاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسی معاونات
- دیوې دونړې ، چیستان ، وئیل (۱)، - دیو چائینک بنودل ، غوښتنه کول چې خبرې پرې وکړئ ، چائینک پۀ لاس کښې راخیستل (۲)، - دماشومانو حوصله افزائی کول چې د چائینکونو پۀ باب پۀ کورکښې خپلې تجربې بیان کړی اوپرېښودئ چې د دغه تجربو عملی مظاهره وکړی.	۱- د چائینکو پۀ باب خبرې - قیاس کول اوصحیح جواب پیدا کول، (چائینک)، - چائینک ته کتل ، نوم ئې اخیستل، مختلفې برخې ، شکل اودکومو موادونه چې جوړدے د هغوئ تشریح کول ، پۀ لاس کښې راخیستل ئې - دکورد تجربو پۀ باب خبرې کول ، ځینې ماشومان د دغه تجربو عملی مظاهره کوی ، نورورته ګوری .	حقیقی چائینک
- دکلیدی لفظ تصویرې کارډ د تصویرمخ بنودل - لفظ ته اشاره کول ، پۀ وضاحت سره ئې تلفظ کول ، پۀ لفظ کښې پۀ آخری حرف ، ک ، زوراچول - دلفظ سرې برخې ته کتل ، دماشومانونه غوښتل چې د دغه حرف د آواز تلفظ وکړی . پۀ غیر د واولز (آواز لرونکی) حرف نه د دغه حرف پۀ تلفظ کښې ورسره مرسته کول - د حرف ، ک ، نوم اخیستل (کاف)، - د حرف ، ک ، دلیکلو عملی مظاهره پۀ تخته کول (۳)، - پۀ تورو تخته دلفظ ، چائینک ، لیکل عملاً بنودل، او دلفظ چائینک پۀ ګرېنود قلم ګرځولو چل بنودل	۲- دلفظ چائینک داواز اوشکل زده کول او دلفظ پۀ آخرکښې د حرف ، ک ، آواز اوشکل زده کول - ورته کتل ، د چائینک پېژندنه کول . - لفظ ته کتل ، پۀ غور سره غوږ نیول ، پۀ یوه آواز اوځانله ځانله د دغه لفظ تکرارول . - د چائینک تلفظ کول پۀ تکرار سره ، دلفظ د آخری حرف د ویلو کوشش کول ؛ د حرف د آواز تلفظ ځانله ځانله کول . - د دغه نوم بیابیا ویل ځانله ځانله اوپۀ یوه آواز - ورته کتل ، پۀ هوا کښې د ګوتې پۀ ذریعه د حرف ، ک ، جوړول (لیکل) ځینې ماشومان ، ک ، پۀ تخته لیکی ، نورپۀ سلیټونو د لیکلو مشق کوی . - پۀ غور سره کتل ، پۀ هوا کښې پۀ ګوته سره ، چائینک ، لیکل ځینې ماشومان پۀ تخته کښې پۀ دغه لفظ قلم ګرځوی .	دکلیدی لفظ تصویرې کارډ، چائینک تورو تخته سلیټونه تورو تخته
- مشق پانړې ته دکتلو ویناکول - د مشق پانړې د مکملولو تشریح کول اولاړښودنه ئې کول ، ماشومانو ته وویل چې اندې والان دې د یوبل سره مرسته وکړی . د ضرورت پۀ وخت کښې مرسته کول .	۳- دلفظ چائینک اوحرف ، ک ، دلوستلو او د ، ک ، دلیکلو مشق کول - مشق پانړې ته کتل ، دچائینک د تصویرا ولفظ پېژندنه کول - پۀ دې ډول کار کول ؛ ۰ د نورو حروفو پۀ منځ کښې د ، ک ، پیدا کول اوکرښه ترې تاوه ول ۰ د ، ک ، پۀ لیکلو سره آخری کرښه مکملول ۰ د تصویرلاندې دلفظ ، چائینک ، څوڅو ځله لوستل اوقلم پرې ګرځول ۰ د چائینک ، لفظ پۀ نورولفظونو کښې معلومول، دایره ترې چاپېرول او د تصویر سره ئې نښلول ۰ دانډی وال سره یوځای نور ټول الفاظ لوستل .	مشق پانړه پ ۱-۳۶-۱

درسی پلان نمبر۱-۳۶	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- دونۀ ډ چيستان دادے :

- هرسهار لۀ مونږ استعمالوو .
- هره کورنۍ لۀ لري .
- مونږ پکښې اوبۀ اچوو .
- مونږ ئې پۀ نغرې ږدو .
- مونږ يو څۀ شے د هغۀ نه څښو .

کله چې ماشومانو ته د شی پۀ پيدا کولو کښې اشارې ورکوې نو يوۀ يوۀ تن ته به لۀ ورکوې . ماشومانو ته وخت ورکړه چې د هر ممکن حلونه ولټوی ان ترهغې چې څيز پيدا کړی . د صحيح جواب د پيدا کولو د پاره د ډير ماشومانو ته موقع ورکړه

۲- د چائنک د راخيستلو نه مطلب دادے چې د يو ماشوم نه بل ماشوم ته پۀ لاس کښې ورکړے شی چې هر يوۀ ته دا موقع حاصله شی چې چائنک پۀ لاس کښې راونيسی . دا خبره پۀ ياد وساته چې ماشوم يو شے هله ښۀ زده کولے شی چې پۀ لاس کښې لۀ واړوی راواړوی اوخپل ټول حواس استعمال کړی - د يواځې اوريدلو اوخبرو پۀ نسبت

۳- پۀ مزه مزه د حروفو د ليکلو اهميت چې هيرنۀ کړئ . ځکه چې دورو ورو ليکلو پۀ وخت کښې ماشومان وينې چې د کوم ځای نه د حرف ليکل شروع کيږي او څنګه لۀ شکل جوړيږي .



د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپې درسونو خاکې

	عنوان: د کلیدی لفظ کټ بنودل د سرحرف «ک» د پاره	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
د اول ټولګي درسی پلان ۱-۳۶	۱- حقیقی څیز کټ، ته کتل (کهٔ پیدا کیږی) یادکلیدی لفظ «کټ» تصویری کارډ ته کتل ؛ دکټ پهٔ باب خبرې اترې کول : چې د څهٔ د پاره وی ، د څهٔ څیز نه جوړوی اوکوم قسمونه لرې وی . ۲- د کلیدی لفظ «کټ» زده کول الف : دکلیدی لفظ «کټ» لوستل پهٔ تصویری کارډ اوپهٔ توره تخته . ب : د حرف «ک» معلومول اوپهٔ آواز اوشکل کښې ئې ښلول ج : د «ټ» پېژندل چې دا د «ت» یو قسم دے اوپهٔ آواز اوشکل کښې ئې پهٔ فرق پوهېدل . د : پهٔ هوا کښې دلفظ کټ د کوټې پهٔ ذریعه لیکل . پهٔ توره تخته او پهٔ سلېټونو د دغه لفظ لیکل ۳- پهٔ مشق پاڼه کارکول ، الف : پهٔ خاموشۍ سره کارکول : د «کټ» دالفاظو پېژندنه کول ، دایرې تړې تاوه ول اود تصویر سره ئې نښلول ؛ د «کټ» پهٔ لیکلو سره لاندینۍ کرښه ډکول ب : پهٔ ټول جماعت ، ټولګی ، کښې زبانی کارکول : د لفظ پهٔ آخر یا سرکښې د حرف «ک» فرق کول ، معلومول ، اوخپله خپله خانه ئې پهٔ نښه کول .	حقیقی کټ یا د کلیدی لفظ «کټ» تصویری کارډ دکلیدی لفظ تصویری کارډ اوتوره تخته توره تخته، سلېټونه مشق پاڼه پ ۱-۳۶-۲



عنوان: د لفظ "کور" بنودنه		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس پیل	۱- دکلیدی الفاظو تکرارول د حرف "ک" دپاره ؛ الف : استاد پۀ تخته د "کتې" او "چاینک" الفاظ لیکی ب : ماشومان ئې لولی . ج : پۀ آواز اوشکل کښې د حرف "ک" معلومول (لاندې تړې کرښه را ښکل ، لوستل اود "ک" پۀ حرف زوراچول)	تورہ تخته
د درس پرمختیا	۲- پۀ غټ خط دالفاظو "لور" او "کور" لیکل پۀ تورہ تخته داستاد پۀ ذریعه . ب : ماشومان د "لور" لفظ لولی ، د کور . دلفظ دلوستلو کوشش کوی استادیواځې ک- ته اشاره کوی .کۀ چیرې ئې یوماشوم هم نشی لوستلے نوبیا ورسره استاد مرسته کوی . ج : دواړه لفظونه سره مقابله کول - د حروفو نومونه اخیستل ؛ پۀ تخته د هغوی لیکل	تورہ تخته
د درس پای	۳- استاد شاګردان پرېږدی چې پۀ کورونو خبرې وکړی ، مختلف قسمونه ئې ، چې دځۀ دپاره دی او تجربې .	
د درس ارزیابی	۴- د "کور" پۀ لفظ پۀ تخته تباشیر ، چاک ،ګرځول ، پۀ هواکښې ئې ډکوتې پۀ ذریعه لیکل	تورہ تخته
د کور دنده	۵- دمشق پانړې پاسنی برخه استعمالول . الف : دلفظ "کور" پۀ لیکلو کرښه مکمل ول ب : پۀ ټول جماعت ، ټولګی ،کښې دغه جملې لوستل . ج : خالی ځایونه ډکول ، بیاد جملو لوستل ، مشق پانړه استعمالول (لاندینی برخه) : د حروفو [ک][و][ر] پېژندل، پۀ خپله خپله کرښه کښې د حروفو لیکل ، د دې حروفونه کرښه لاندې راښکل، دغه لوالفاظو لوستل.	مشق پانړه پ۱-۳۶-۳

کور - کور	پ۱ 3-36 / پ۱ ۳-۳۶

کور

دا کور دی.

دا بابا دی.

دا د بابا کور دی.

بابا ____ لري.

نازو ____ وینې.

نازو د بابا ____ وینې.

زرین ____ نه وینې.

زرین د بابا ____ نه وینې.

نازو کور وینې.

هغه ____ لري.

هغه ____ وینې.

ک	کتاب - لاس - کور - امسا - کتې - لرم - چاینک
و	وینه - ملخ - چاقو - مچ - جارو - توت - سیند
ر	رسی - اس - خر - اره - تله - لور - نال - مار

عنوان: پۀ یوه قصه ځان پوهول - دکلیدی لفظ ، پیشو ، بنودل دلفظ پۀ سرکښې دحرف ، پ ، دپاره

دا ستاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسی معاونات
	۱- پۀ یوه قصه ځان پوهول	
- وئیل چې یوه قصه به اوس لوستل ، وئیل کیږي (۱)	-د قیصې دپاره تیارې نیول	
- قصه پۀ اوچت آواز وئیل خوښه مزه مزه (۲)	- قیصې ته غوږ نیول	قصه دپلان
- تبصروا وتصوراتو ته بلنه ورکول چې د قیصې پۀ باب ئې وکړي	- دقیصې پۀ باب خبرې کول	سره ده
- پوښتنه کول چې پۀ قصه کښې خومشکلۀ وو پۀ کومه برخه کښې چې مشکلات وی دهغې تشریح	- پۀ قصه باندې دځان پۀ پوهولو کښې پوښتنې کول	
- یوځل بیا د قصې لوستل .	- بیا قصې ته غوږ نیول .	
- اول دعامو پوښتنو پۀ وسیله پۀ قصه باندې پوهه چک کول .	- جوابونه ورکول او دجوابونو پۀ باب خپلې تجربې بیانول .	
لکه : الف : څوک ورک شو ؟		
ب : ایا مانو کورته راغله ؟		
اوبیاد تفصیلی پوښتنو پۀ وسیله ، لکه :		
الف : مانو ولې ووېرېده له ؟		
ب : کله چې دکور خلک بهر ووتل نوخه پېښ شول ؟ او داسې نور		
	۲- دکلیدی لفظ ، پیشو ، اودحرف ، پ ، دآواز او شکل زده کول .	
- د پیشو تصویر پېژندنه کول		دکلیدی لفظ
- دغه کلیدی لفظ پۀ تکرار سره تلفظ کول ټول پۀ یوۀ اواز اوځانله ځانله .		پیشو تصویری
- کوشش کول چې حرف ، پ ، پۀ غیږ دوا ولز (اواز لرونکی توری) نه تلفظ کړي ، صحیح تلفظ ځانله ځانله بیا بیا کول		کارډ
- څنګه چې استاد د ، پ ، نوم واخیست پۀ هغه شان ئې نوم اخیستل .		
- د ټول لفظ مطالعه کول اومعلوم حروف پکښې پېژندل ، نومونه ئې اخیستل ، پۀ تورو تختۀ ئې لیکل .		تورو تخته
	۳- نور مشق	
- د مشق پانو په کتل اوپکښې دیوې پیشو پېژندل چې یوه جینۍ ئې خوا کښې ده .		مشق پانو پ ۱-۳۷- ۱
- غوښتنه کول چې د پیشو ، دلفظ تلفظ وکړئ او دغه دوه جملې ولولئ .	- کلیدی لفظ پۀ یوه اواز اوځانله ځانله ویل	
- د پیشو د لفظ پۀ کرښو باندې دقلم دګرځولو پۀ ذریعه د دغه لفظ دلیکلو مشق کول ، اود پ پۀ لیکلو سره کرښه مکمل کول .	- د پ ، دلیکلو مشق کول دهدایت مطابق	
- د دغه اتو لفظونو د لوستلو د طریقې تشریح کول اویو شانته جوړې دکرښې پۀ ذریعه سره تړل	- د مشق مکمل کول	
- غوښتنه کول چې ، پ ، حرف دې خوځله پۀ سلېټونو ولیکل شی . (۳)	- پۀ سلېټونو باندې د ، پ ، دلیکلو مشق کول .	سلېټونه

درسی پلان نمبر پ ۱- ۳۷	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- د قصی دلوستلو نه مخکښې به استاد شاګردانو ته وخت ورکړی چې ماشومان بنۀ ځای پۀ ځای کښینی چې پۀ غور سره غوږ ونیسی .

۲- ماشومان چې څۀ وئیل غواړی پۀ کارده چې دهغې د پاره کافی موقع ورکړے شی .

پهرو ماشومانو ته د څۀ وئیلو موقع ورکول ضروری دی . استاد به دهرماشوم پۀ خبرو تبصرې نۀ کوی . یواځې به د هغوی د خبرو رهنمائی کوی . پۀ دې طریقه به هغه ماشومان مواقع د لاسه ورنۀ کړي چې خبرې کول غواړی .

۳- دا مشق یواځې هغه وخت کیږی چې وخت کافی وی ، یا پۀ هغه وخت کښې چې ځینې تکړه ماشومان مشقونه زر مکمل کړی .

مانو (یوورکوتے پیشونکړے)

یوورکوتے تور پیشونکړے وو . داسې تک تور وو لکه د بوټ تور پالش ، خو بنایسته شنې شنې سترګې ئې وې . یو ورځ د مانو مور د څۀ خوراک د پیدا کولو د پاره چیرته بهرلاړه ، نو د مانو زړۀ هم بهرچکر ته وشو . لاړ ، دکور وتله . بهرورته هرشے نا اشنا بنکاره کیده . یو شپبه وګرځیده راوګرځیده اوبیا بهرته کورته راروانه شو . خود کور لاره تېرې ورکه شوه . حق حیرانه پاتې شوه . هیڅ چل نه ورتللوچې څۀ وکړی . آخر د سړک پۀ غاړه کښېناسته اوپۀ ژړا سرشوه . څۀ کوری چې یو دوه وروڼو وربانديې راغلل . د دواړو وروڼو زړۀ پۀ مانو وسواوکورته ئې د ځان سره یووړله .

مانو چې د دې هلکانو کورته راورسیده نو پهرنا اشنا ورته بنکاریده . زر ئې منډه کړه او د یوې الماریه لاندې پټه شوه . هغه دهرشی نه وېرېدله . د دې دواړو هلکانو اود هغوئ د مور وپلارنه هم وېرېدله . چې یې به ئې ورته کښېودل نو د وېرې د لاسه به ورته راوتلے نۀ شوه . نوله ورځ به د الماری لاندې پټه ناسته وه . هلکان د مانو پۀ دې کار د پرځپه وو . اونۀ پوهېدل چې مانو ولې مروره ده . پۀ مینه مینه خبرې به ئې ورسره کولې چې پخلا ئې کړی خو د مانو وېره همدغسې وه . د هلکانو مور به ویلې : خیر دے بچو ! مانو به پۀ څو ورځو کښې پۀ کورکښې عادت شی کورورته نورے بنکاری .

یوه ورځ نوله تېره د خپلوانو د لیدلو د پاره بهرلاړل او مانو پۀ کورکښې یواځې پاتې شوه . پۀ دغه ورځ پۀ کورکښې چوپه چوپتیاوه ، نه شوروو ، نه دځۀ اواز اوریدل کیده ، نه د چا د پښو کشار وو . پۀ نوله کورکښې گرځیده راګرځیده ، هرځۀ له به ئې پوزه ورووړله . پۀ دې منځ کښې ئې یوه رکښې ولیدله چې پې پکښې پراته وو . زر زر ئې پۀ خپله ژبه پۀ شړپ شړپ وڅښل . اوهو ! څومره خوږۀ دی ! بیا ئې یو پندوس ومونډلو او لوبې ئې پرې شروع کړې . چې بنۀ ستړې شوه نو لاړه پۀ کرسی کښې اوده شوه .

کله چې د تېر خلک کورته راغلل نو د هلکانو مور پۀ کرسی کښې یو تور شے ولید . د هغې خیال راغے چې دا زما تور شال دے . خو چې را نزدې شوه ونۀ لیدۀ چې دا د هغې شال نۀ وو ، مانو پۀ کرسی کښې پر ته وه . مانو چې شور د غوږو شو نو خپلې بنایسته شنې سترګې ئې پرانیستې . مانو نوره نۀ وېرېدله اوپۀ میاو ! میاو ! نارو ئې شروع وکړه .



د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړیې درسونو خاکې

	عنوان: د کلیدی لفظ ، توپ ، بنودنه د حرف ، پ ، پیاوړه دلفظ پۀ آخرکښې	
	دشاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
اړه ۱۳۷۱ ل	۱- پۀ توره تخته دلفظ ، پیشو ، لوستل اود حرف ، پ ، شکل اواواز دلفظ پۀ سر کښې راپۀ زړۀ کول . ۲- نوردا سې الفاظ پیدا کول او ویل ئې چې همدغه د ، پ ، اواز سره شروع کیږی ۳- دکلیدی لفظ تصویری کارډ تر کتل ، د یو زوړ توپ پېژندنه کول ۴- د یو توپ د استعمال اود هغې د خطرونو اوضررونو پۀ باب خبرې کول ۵- دلفظ ، توپ ، تلفظ کول پۀ غور سره اوپۀ آخرکښې پۀ ، پ ، زورا چول ۶- دلفظ سرې برخې ته کتل اود ، پ ، د حرف نوم اخیستل . ۷- یوځل بیا ټول لفظ ته کتل اوپکښې د حروفو د پېژندلو کوشش کول ، نومونه ئې اخیستل اومعلومول چې دا لفظ د اسې بنکاری لکه د توت لفظ ؛ خوددوی پۀ منځ کښې پۀ فرق خبرې کول ۸- مشق پانړه استعمالول : الف : مشق پانړې ته کتل ، د توپ تصویرا ود لفظ پېژندنه کول . ب : دلفظ ، توپ ، پۀ کرښو پنسل سره کرځول . ج : د توپ نمکړی الفاظ یاد ، پ ، اویاد . تو ، پۀ زیاتولو سره مکمل کول . د : پۀ کټ اړخ کښې پۀ الفاظو ، توپ ، هـ : پۀ کټ اړخ کښې پۀ الفاظو توپ قلم کرځول او د قطار مکمل کول	دکلیدی لفظ ، توپ ، کارډ مشق پانړه پ ۱-۳۷-۲

پ ۱	2 - 37
پ ۱	۲ - ۳۷
توپ	
توپ	
توپ	



تو پ پ
تو پ تو
توپ
تو پ
تو
پ تو

پ پ پ

	عنوان : دکلیدی لفظ ، ځنګل ، ښودنه د حرف ، ځ ، دپاره دلفظ پۀ سرکښې	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس ۱۰ دقیقې	۱- ددې لوبې تکرارول : ، زۀ یولفظ وینم چې پۀ حرف ... شروع کیږي ، ختمیږي ، (۱)	دکلیدی الفاظو د تصویرې کارډونو انتخابول دکلیدی لفظ ، ځنګل ، کارډ
	۲- دکلیدی الفاظو کارډ ته کتل ، د تصویر مخ ، پۀ هغه کښې د ځنګل پېژندنه کول	
	۳- د ځنګل پۀ باب چې څۀ معلومات لري وړاندې کوي ځې ، استاد دماشومانو د علم پۀ زیاتولو کښې مرسته کوي،	
۱۰ دقیقې	۴- الف : ددغه لفظ تلفظ کول پۀ غور سره اود سرې حرف زوراچول . ب : ورځې د سرد حرف د اواز د تلفظ کولو کوشش کول .	
	۵- استاد د حرف ، ځ ، نوم اخلي . ماشومان ځې پۀ یو او ټول پۀ یوۀ اواز سره تکرار کړي . بیا بیا لفظ ځنګل لولي .	
د درس ۱۰ دقیقې	۶- پۀ الفاظو ، چرګ ، ، چرکه ، ، جارو ، ، جال ، ، خر ، کښې ددغه شکل ، ح ، پېژندنه کول خو ددغه شکلونو دپاسه یالاندې نورې نورې نښې دی ، پۀ ټوره تخته ددې الفاظو لیکل ، بیا بیا ددې الفاظو لوستل ، د سرحروفونه ځې کتل ، نومونه ځې اخیستل ، دنښو پۀ اهمیت زور اچول	ټوره تخته
د درس ۱۰ دقیقې	۷- دریمه مشق پانو کتل : الف : د ځنګل د تصویر اولفظ پېژندنه کول . ب : پۀ لفظ پنسل کرځول ، ج : د ځنګل ټول الفاظ موندل اود تصویر سره ځې کرښو پۀ ذریعه ښنلول . د : پۀ لاندینۍ کرښه کښې دالفاظو لوستل . هر : پۀ سرکښې کرښه د ځ ، پۀ لیکلو سره مکمل .	مشق پانو پ۱-۳۷-۳
د درس ۱۰ دقیقې	۸- څلورمه مشق پانو کتل . الف : دمشق پانو پۀ سرکښې دالفاظو لوستل . ب : دیوتېرک اویو تېریلرپۀ منځ کښې کرښه رابنکل د سرد کرښې دلفظ سره دمقابله کولو پاره . ج : د ځینې الفاظو لیکل پۀ سلیټونو باندې	مشق پانو پ۱-۳۷-۴ سلیټونه

پ۱-۳۷ . ورپسې درس نمبر دوئیم

ددې ورپسې درس، پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(۱) دلوبې ضوابط پۀ دېرشم درسی پلان کښې بیان شویدی . داځل به څېله استاد ددې فیصله کوی چه لوبه څرنګه وکړی . لوبه به پېۀ مختلفو طریقو سره کیږی .

ځ ځ ځ	پ۱ ۳۷-۳ / پ۱ ۳۷-۲



چرګ - جارو - چرکه - جال - تاج - یوې - خر - مچ
ملخ - تله - ستن - ګل - اره - لاس

مار لرم نال توت توپ چاقو	پ۱ ۳۷-۴ / پ۱ ۳۷-۴



پښتو اول ټولګی	عنوان: د الفاظو "ځی" او "راځی" ښودنه
پ ۱-۳۸	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د الفاظو "ځی" او "راځی" استعمال مشق کول	
- دمشق پانړې د مطالعه کولو غوښتنه کول او پوښتنه کول: "ته څۀ وینې؟"	- دمشق پانړې مطالعه کول	مشق پانړه پ ۳۸-۱
- د ضرورت پۀ اندازه مرسته کول (۱)	- جواب ورکول (یوماشوم یوه جمله) لکه: "زۀ یو اس وینم"	
- دې خبرې ته ځۀ پام راګرځول چې ځینې د تللوپۀ حال کښې دی او ځینې د راتللو پۀ حال کښې دی.	- مشاهده کول او غوږ نیول	
- د هغو فقرو د وئیلو غوښتنه کول چې الفاظ "ځی" او "راځی" پکښې استعمالیږی. (۱)	- جملې جوړول او جواب وئیل لکه: "اس راځی"، "سپے ځی" (یوماشوم یوه جمله)	
	۲- د الفاظو "ځی" او "راځی" لوستل زده کول	
- د الفاظو کارډونه وړاندې کول او د لفظ "ځی" کارډ پکښې پیدا کول.	- مشاهده کول او د غه لفظ کارډ پیدا کول	د الفاظو کارډونه ځی-راځی
- ماشومانو ته د غه دوو معلومو حروفو "څ" او "ی" وړپۀ زړۀ کول او نومونه ئې اخیستل.	- د غه معلوم حروف پېژندل او نومونه ئې اخیستل	
- د د اسې الفاظو غوښتنه کول چې یو پۀ "څ" شروع کیږي او بل پۀ "ی" ختمیږي لکه "یرې" - "وینې" - "څنګل"	- څنګه چې ترینه غوښتل شوی دی هغسې الفاظ وائی. د څ او ی تلفظ پۀ وضاحت سره کول.	
- د الفاظو "څنګل"، "وینې"، "لرې" تلفظ پۀ وضاحت سره کول او د "لرې" او "وینې" آخر حروفو پۀ اواز زور اچول.	- د غه آواز ونه غوږ نیول او څرګله د هغوی تکرارول او دا پته لګول چې دا دواړه الفاظ پۀ ایکی یو شانته آواز ختمیږی. د څ او ی اواز ونه یوځای کول چې څی جوړیږی	
- د لفظ "ځی" کارډ وړاندې کول	- د غه لفظ لوستل پۀ غور سره او پۀ مرکوز ډول	د لفظ "ځی" کارډ
- د لفظ "راځی" کارډ ښودل	- د لفظ کارډ ته کتل او معلومول چې یواځی پۀ څ شروع کښې فرق لري.	د لفظ "راځی" کارډ
- د "ر" او "ا" حروفو ته د ماشومانو پام راګرځول او نومونه ئې پۀ هغوی اخیستل	- مشاهده کول او د غه حروف نومونه وئیل.	
- د الفاظو "ځی" او "راځی" کارډونه پۀ غیر منظم ډول ښودل او پۀ شاګردانو ئې پۀ زوره لوستل.	- څنګه چې کارډونه وربښودل کیږي پۀ همغه ترتیب د هغوی لوستل.	د الفاظو کارډونه
	۳- د الفاظو "ځی" او "راځی" د لیکلو مشق کول. د اسې فقرو لوستل چې د غه الفاظ لري.	
- پۀ مشق پانړه کښې د الفاظو "ځی" او "راځی" پۀ کرښو د پنسل پۀ ګرځولو سره د د غه الفاظو د لیکلو مشق کول.	- د د غه الفاظو د لیکلو مشق کول پۀ ښودلے شوی ترتیب.	مشق پانړه پ ۳۸-۱
- غوښتنه کول چې د غه الفاظ سلیټونو ته نقل کړئ	- پۀ سلیټونو د د غه الفاظو لیکل	سلیټونه
- لاندې جملې پۀ تخته لیکل: "خر ځی" "اس راځی" "غوا ځی" "بابا راځی"	- د د غه جملو لوستل (یوماشوم یوه جمله)	

درسی پلان نمبر پ۱ - ۳۸	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- استاد به د ماشومانو حوصله افزائی کوی چې پوره پوره جملې ووائی . ټول څیزونه به لږ تر لږه یو یو ځل ذکر کیږی د دې دپاره چې د هر ماشوم یو څۀ ووائی . کۀ چیری ماشوم پۀ اوچت اواز سره خبرې کوی نو دې ته ضرورت نۀ پاتې کیږی چې معلم دې هر جواب په تکرار ووائی او یا دې د هر جواب نه ړوسته څۀ تبصره وکړی .

معلم به پخپله چې پاتې کیږی اویواځې به هغه ماشومانو ته موقع ورکوی چې د فقرو ، جملو ، ویل غواړی . ماشومانو ته غوږ نیول هم پۀ کار دی د دې دپاره چې د خپلو اندو والا نو پۀ خبرو یا فقرو پوهه شی .

پ۱	۱-38
پ۱	۱-۳۸



د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

	عنوان: د طرف (اړخ، خوا) د پاره د جار د حروفو "نه" او "له ..... نه" معرفي کول	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	**درسی معاونات**
اول	۱- دلومړی مشق پانړې نه کار اخیستل او د هغه جملو لوستل چې "ځی، او، راځی" پکښې استعمال شوی وی.	مشق پانړه پ۱ ۳۸-۱
	۲- تورې تختې ته د ټللوا وبېرته د راټللو مشق کول.	
	ما شوان به عمل کوی او دا سې جملې به وائی لکه: ..... تختی ته ځی. ... له تختې نه راځی.	
	۳- د الفاظو "نه" او "له ..... نه" دلوستلو اولیکلو زده کول:	
	الف: تصویرته د ما شوانو کتل، څه چې وینی د هغو باندې، د بنی اړخ د جملو د لوستلو کوشش کول، پته لګول چې دغه جملې نا مکملې دی او کوم الفاظ چې غیب دی د هغوی ویل. ب: د همدغه جملو لیکل د استاد له طرفه په تخته باندې. د غیب الفاظو د پاره د جملو د لیکلو په وخت کښې خالی ځای پرېښودل او د دې الفاظو کارډونه بنودل.	مشق پانړه پ۱ ۳۸-۲ تورې تخته
	ج: ما شوان کوشش کوی چې د جملو د مکملولو د پاره د لفظ صحیح کارډ پیدا کړی. د دې سره د الفاظو د ټکی په ټکی ویلو په ذریعه کوی. استاد مرسته کوی. د: د مکملو جملو لوستل. هـ: په سلېټونو باندې د نورو الفاظو د لیکلو مشق کول. و: د مشق پانړې په بنی اړخ کښې د خالی ځایونو ډکول	د الفاظو کارډونه: "له، نه، ته" سلېټونه
	۴- **مشق کول** : الف: د مشق پانړې په ګټه خرا کښې جملې لوستل. ب: خالی ځایونه ډکول.	مشق پانړه پ۲ ۳۸-۲

نازو کور ☐ ځي.

زرین ☐ کور ☐ راځي.

پ۱	2-38
پ۱	۲-۳۸

بابا ☐ ته ځي.

اس کور ☐ ځي.

پیشو له کور نه ☐.

☐ کور ته ځي.

هغه ☐ کور ☐ راځي.

چرګه ☐ ته ځي.

چرګ ☐ کور ☐ راځي.

☐ له کور نه راځي.

عنوان: دلوستلو دقابليت اندازه كول		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس ډول: د لوستلو درس - ۳۸ - ب ۱	۱- د مشق پانړې پ 1 - 38 - 2 د متن د لوستلو تکرار کول ۲- مشق پانړې ته کتل ، پۀ هغې کښې دخلکو ، څيزونو او صورت حال پېژندل ۳- ترلاسه جملې پۀ غوږ سره لوستل اوپۀ صحيح بيان د ټک (✓) نښه او پۀ غلط بيان د چرخې (X) نښه کول . پۀ خاموشۍ سره کار کول ۴- خپل کار يا د انډيوال سره متابله (مقايسه) کول يا ځې پۀ استاد اصلاح کول ۵- د مقايسه کولو يا پۀ استاد د اصلاح کولو نه وروسته د ټول ټولګي (جماعت) پۀ مخکښې ددغه جملو لوستل (يو ماشوم يوه جمله) .	مشق پانړه پ ۳۸-۳

✓	دا بابا دی.		بابا پيشو وينې .
X	دا اس دی.		بابا راځي .
	دا نازو ده.		خر ځي .
	دا د بابا اس دی.		دا چرګ دی .
	دا وښه ده.		دا زمری دی .
	دا کور دی.		دا مار دی.
	بابا خر لري.		بابا لور لري.
	بابا رسی لري.		نازو کور وينې.
	نازو ځي.		نازو وښه نه وينې.
	نازو راځي.		بابا کور وينې.
	نازو جارو لري.		دا د نازو جارو ده.
	بابا ځي نازو راځي.		دا د نازو امسا ده.

عنوان: دکلیدی لفظ ـ سترګه ـ بنودل دحرف «س» دپاره دلفظ پۀ سرکښې . (۱)

درسی معاونات	د شاګردانو مشغلې	د استاد مشغلې
نظم دډې درسی پلان سره دے	۱- دسترګې پۀ حقله دیو نظم زده کول ـ پۀ خپلو خپلو ځایونو کښې ناستل اوپۀ غور سره غوږ نیولو ته ځان جوړول ـ نظم ته غوږ نیول ـ پۀ یوۀ آواز سره کرښه دنظم لوستل، دنورو غوږ نیول ـ یو یو تن (ماشوم) دنظم ویل (تکرارول) ـ غوښتنه کول چې نظم پۀ یاد وواځۍ ـ دماشومانو لار ښودنه کول چې دسترګو اهمیت پیدا کړی او خبرې پرې وکړی (۲) ـ پۀ عام ډول دسترګو پۀ باب یو بحث منځ ته راوړل ـ دماشومانو حوصله افزائی کول چې دسترګو پۀ باب دونړې (چیستانونه) ووائی .	ـ دیو نظم اوریدلو ته ماشومان تیارول ـ پۀ اوچت اواز دنظم لوستل خو پۀ مزه مزه کرښه پۀ کرښه دنظم بیا لوستل ـ پۀ یو یو تن (ماشوم) دنظم ویل (تکرارول) ـ غوښتنه کول چې نظم پۀ یاد ووائی ـ دماشومانو لار ښودنه کول چې دسترګو اهمیت پیدا کړی او خبرې پرې وکړی (۲) ـ پۀ عام ډول دسترګو پۀ باب یو بحث منځ ته راوړل ـ دماشومانو حوصله افزائی کول چې دسترګو پۀ باب دونړې (چیستانونه) ووائی .
مثالونه پۀ دویم مخ کښې دتبصرو د عنوان لاندې دی (۳)	۲- دلفظ «سترګه» زده کول اودلفظ پۀ سرکښې دحرف س شکل اواواز زده کول . ـ مشاهده کول ـ دلفظ سترګه بیا بیا ویل (تکرارول) ـ کوشش کول چې دلفظ دسرحرف پۀ غیږ واولز نه تلفظ کړی . ـ ورته کټل اوغوږ نیول، څرګنده دغه حرف نوم اخیستل ـ معلومول چې دغه دواړو لفظونو آخری برخې پۀ شکل اوآواز کښې یو شے دے . ـ دمعلومو حروفو ت - ر - ک - ه پیدا کول اوپۀ توره تخته د هغوئ لیکل ـ کوشش کول چې نور دغسې الفاظ پیدا کړی، دغه الفاظ دویلو پۀ وخت کښې د اول حرف «س» پۀ آواز زوراچول .	ـ دکلیدی لفظ «سترګه» دتصویر مخ ښودل، اشاره ورته کول ـ دلفظ «سترګه» تلفظ پۀ غور سره کول . دلفظ پۀ اول حرف زوراچول ـ دلفظ سرې برخې ته اشاره کول، یواځې دهغو مبی حرف د تلفظ غوښتنه کول، مرسته کول . ـ دلفظ سرې برخې ته اشاره کول اودس حرف نوم اخیستل ـ دماشومانو لار ښودنه کول چې پۀ لفظونو «سترګه» او «چرګه» کښې د آخری برخې «ګه» آواز او شکل مقابله کړی ـ پۀ لفظ «سترګه» کښې دنورو هغو حروفو پوښتنه کول چې دوی ته معلوم دی (زده دی) ـ دنورو هغو لفظونو غوښتل چې پۀ حرف «س» شروع کیږی، دلفظ پۀ اول حرف زوراچول .
مشق پاڼه پ ۳۹-۱ سلیټونه	۳- دلفظ «سترګه» پۀ ټیټرنه کښې مشق کول ـ مشق پاڼه مطالعه کول اوځۀ چې کول غواړی پۀ هغې ځان پوهول ـ دهدایت سره سم دمشق پاڼې مکمول ـ دهدایت سره سم دغه لفظ دلیکلو مشق کول . ـ دنورو ټولو الفاظو لوستل ـ پۀ مشق پاڼه دخیزونو مشاهده کول . ـ دالفاظو مطالعه کول اوتلفظ کول اوپۀ مناسب ځای کښې دا «س» ښه لګول ـ دانډیوال سره پۀ خامرشئ د هدایت مطابق کار کول .	ـ مشق پاڼې ته دکتلو غوښتنه کول ـ غوښتنه کول چې دالفاظو «سترګه» نه کرښه چاپیره کړئ اود تصویرونو سره ئې د کرښو پۀ ذریعه وتړئ لکه څنګه چې پۀ مثال کښې لیدل کیږی . ـ غوښتنه کول چې پۀ غټ لفظ «سترګه» باندې دپنسل ګرځولو پۀ ذریعه دلفظ «سترګه» دلیکلو مشق وکړئ . ـ دټولو نورو الفاظو د لوستلو غوښتنه کول ـ پۀ مشق پاڼو دخیزونو دمطالعې غوښتنه کول ـ غوښتنه کول چې نور هغه الفاظ پیدا کړی چې پۀ «س» سره شروع کیږی اولاندې چوکاټ کښې دا نښه (س) ولګوئ ـ دمشق پاڼې دکار د ختمولو غوښتنه کول: الف: د «س» پۀ لیکلو سره کرښه مکمول ب: پۀ آخری کرښه کښې د الفاظو لوستل، پۀ الفاظو کښې د «س» نه لاندې کرښه راښکل . ج: دالفاظ سلیټونو ته نقلول .

درسی پلان نمبر ۱- ۳۹	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- کله چې ماشومان د بدن دبرخوپۀ باب څۀ زده کوی نودا ډېره ګټه لری چې پۀ دغه وخت کښې دخپل بدن همدغه برخې پۀ کار واچوی. پۀ دې طریقه سره د ماشومانو حواس او ذهن دواړه پۀ کار کښې شریک کیږی. ددې وجهې نه به پۀ دې سبق کښې یوائې خبرې د سترګو پۀ باب نۀ کیږی بلکې د ځینې مشقونو تجربې به پرې کوی. دا مشقونه به ماشومان د سترګو پۀ معنی اواهمیت بنۀ پوهوی.

۲- عملی تجربې دادی :

الف : سترګې بندول ، دیوشی دتصوّر کولو کوشش کول .

ب : سترګې بندول ،کوشش کول چې خپل اندی وال بنیے غوږ پیدا کړی ، یوڅۀ شے پۀ بسته کښې معلوم کړی اونور

ج : سترګې بندول ، دجماعت دکمرې ، ټولګی ، دروازه پیدا کول اوداسې نور

۳- دونړې به داسې وی : " دورځې پرانیستې او دشپې بندې وی " داڅۀ شے دے ؟

" ستاخپلې دی اوپۀ ډېرلږ وخت کښې لږ لیدل کوی " داڅۀ شے دے ؟

" وړې وړې بیلورې دی خوړوندې دی " داڅۀ شے دے ؟



سترګې مې په سرکښې دي تېزې په نظرکښې دي
بانډه بې خوکیدار دي چاپېره تړې قطار دي

بسم الله الرحمن الرحيم

نشريحي تبصري

دا دښوونکی لارښود اودي سره يوځای د طالب علمانو دکارکتاب به دهغه سکولونو داول ټولګی استاذانو ته چې د تدريس ژبه ئې پښتو ده ، ټول ضروری معلومات ورکړی او د دوی سره به د پښتو ژبې په ابتدائی تدريس (ليکلو او لوستلو) کښې مرسته وکړی .

۱- دا ټوک چې دوه‌دپرش (۳۲) درسی يونټه لری ، د اول ټولګی د دويمې نيمايي دپاره دی . هر يونټ يو تفصيلی درسي پلان او د ورپسې درسونو دوه خاکې لری . دې خاکو کښې د طالب علمانو مشق پانړې ، قصې ، لوبې ، د درسي معاوناتو د استعمال دپاره اشارې اود درسي طريقو په حقله څه عمومي تبصرې شاملې دي . د ښوونکي لارښود کښې هر درسي يونټ خلور مخونه لري . لومړي دوه مخونه ډيو سبق د تفصيلي پلان دپاره مخصوص دي چې د طالب علمانو او استاذ ټولې مشغلې ، مشق پانړې د سبق په دوران کښې د څه نورو معاوناتو استعمال او څه زياتې تبصرې بيانوی .

ورپسې دوه مخونو کښې د بل درسي پلان د تدريس نه مخکښې د ورپسې درسونو ، خاکې ، د هغوی متعلقه مشق پانړې او د ورپسې درسونو سره تړلې څه نور درسي معاونات شامل دی .

د استاذ نه دا توقع کيږي چې دوی به هره هفته کښې دوه درسي پلانونه سره دورپسې درسونو ختموي . دا به د معلم/معلمې په ورځنې درس کښې څه قدرې لارښودنه وکړي ، خو دې سره سره استاذ ته ددې اجازه هم ورکوي چې د خپل ټولګي ضرورياتو مطابق زيات مشقونه تيار کړي .

۲- د استاذ نه دا توقع کيږي چې د لومړي نيم‌کال د دوه دپرش (۳۲) درسي پلانونو د مکملولو نه پس د دې ټوک لومړی يونټ چې درې دپرشم درسي پلان دی ، د نومبر په نيمايي کښې شروع کړي . هرکله چې دوه يونټه هره هفته وښودلې شي نو کتاب به د مارچ په دويمه نيمايي کښې يعنې د تعليمي کال تر آخره پورې ختم شي . دغه وخته پورې به ماشومانو پنځه اويا (۷۵) کليدي الفاظ ، خلوېښت (۴۰) کومکي الفاظ او د الفبا ټول حروف زده‌کړي وي . دوی به دې قابل وي چې دا الفاظ په ساده جملو کښې سره د ممکنو ترکيبونو ولولي . دوی به پخپله د پورو ساده نوو الفاظو د لوستو قابل شي . ماشومانو به د ليکلو څه تجربه حاصله کړې وي حتی دوی به ددې هم قابل وي چې اسان الفاظ په يادو وليکي .

۳- د ښوونکي لارښود دا لومړۍ ازمېښت شوې نشريه ده خو بيا هم بدلون او اصلاح ته ځوېږونه مني :

ددې مطلب دا دی چې :

(الف) اصلاح ته ځوېږونه په درناوې منلی کيږي .

(ب) څه ممکنه غلطۍ يا ابهام ته دې زموږ پام راوګرځولی شي .

۴- د ښوونکي د لارښود اود طالب‌علمانو دکارکتاب د استعمال په حقله څه‌اشارې :

(الف) په کارده چې استاذ مکمل درسي يونټ چې پکښې ، ورپسې درسونه ، هم شامل دي ، د مخکښې نه ولولي . چې د ورکړی شوو اشارو استعمال په ښه طريقه وکړی شي . مثلاً : ټولګي نه څه څېزونه راوړل ، ځان يوې لوبې يا قيمې سره واقف کول ، يوې لوبې يا ميدان ته د ټولو تيارې کول او داسې نور .

دا لوستل به دومره ډېر وخت وينه نيسي ، خو د درس دکاميابۍ په يقيني کولو کښې مدد کوي .

(ب) څرنګه چې اکثر ماشومان دکتابونو سره سم چلند نشي کولی نو استاذ له په کارده چې دکار دکتابونو د صفا ساتنلو په حقله د ماشومانو رهنمائي وکړي . په سبق کښې د استعمالولونه مخکښې دې ماشومان په دې کښې ننۀ څه کرښه راکاږي او ننۀ دې ړنګوي او څه جوړوي .

استاذ دې د طالب علمانو رهنمائي او مدد وکړي چې په غور او احتياط سره ، رنګول او ليکل وکړي . کله چې ماشومان په خپلو کتابونو کښې په مينه او توجه کار وکړي نو دوی به وروسته پدې فخر کوي . په دې حقله دا مشوره ورکولی شي چې د ماشومانو دکارکتابونه دې د خرابيدلو نه د بچ کولو په خاطر په سکول کښې کښودلی شي ،

(ج) استاذ به ټولې مشق پانړې د ښوونکي لارښود کښې مومي ، خو د يو خو مشق پانړو ساين کم کړی شوی دی . د استاذ دپاره مناسب ده چې د سبق د ښودلو نه مخکښې اصلي مشق پانړه وګوري ، چې د ټولو تفصيلاتو نه واقف شي .

(د) د اصلي صورت‌حال د مخکښې تللو مطابق استاذ ازاد دی چې نور زياتې مشقونه ولټوي .

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

	عنوان: د کلیدی لفظ "بس" تعارف د حرف "س" د پاره د لفظ پۀ آخرکښې	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
اول	۱- لفظ "سترکه" پۀ تخته لوستل او د نظم ویئل.	توره تخته
	۲- د نورو هغو الفاظو پیدا کول چې د "س" پۀ آواز سره شروع کیږی	
	۳- د یو "بس" تصویر ته کتل. د بسونو پۀ باب خپلې تجربې بیانول. یو بس د څۀ د پاره وی. خلک ولې پۀ بس کښې ځی او نور دا نشي.	د کلیدی لفظ تصویری کارډ
	۴- د کلیدی لفظ تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل. پۀ غور سره د لفظ "بس" تلفظ کول او پته لګول چې دا ځل د حرف "س" آواز د لفظ پۀ آخرکښې او ږدل کیږی.	د کلیدی لفظ تصویری کارډ "بس"
	۵- د لفظ سره برخې ته کتل او د لفظ پۀ آخرکښې د حرف "س" د شکل زده کول. د واولز (آواز لرونکی) حرف نه پۀ غیر د "س" تلفظ کول. د حرف ب پېژندل لکه پۀ بابا کښې	
	۶- پۀ مشق پانه کار کول: الف: د هغه بس پېژندل چې ځی او د هغه بس چې راځی.	مشق پانه پ ۱-۲۹-۲
	ب: د بس متعلق جملو لوستل. ج: پۀ لفظ "بس" پنسل ګرځول.	
	د: کرښې پۀ س - ب س او بس ډکول. هر: پۀ سلېټونو لفظ "بس" خوخوځله لیکل.	سلېټونه



عنوان: دکلیدی لفظ ، ترښځ ، تعارف دحرف ، ځ ، دپاړه دلفظ پۀ آخرکښې		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱	۱- حقیقی څیزته کتل خوکۀ حقیقی څیزنۀ وی نود هغې تصویری کارډ ته کتل . د ترښځ پېژندل اونوم ئې اخیستل .	حقیقی څیز، ترښځ یا د هغې تصویری کارډ.
۲	۲- خبرې وربانديې کول ، د هغې پۀ استعمال ، چې څوک ئې استعالوی ، د څۀ نه جوړه وی ، د ترښځ راخیستل پۀ لاس کښې ، پۀ غور سره د هغې کتل .	
۳	۳- د لفظ ، ترښځ ، تلفظ پۀ غور سره کول ، د هغې پۀ آخری حرف ، ځ ، زوراچول	
۴	۴- د لفظ سرې برخې ته کتل ، د حرف ، ځ ، نوم اخیستل . د حرف ، ځ ، شکل د لفظ ، ځنګل او ، ځی ، په سرکښې را په زړه کول	
۵	۵- درئیمې مشق پانړې ته کتل : الف : پکښې د خلکو ، د څیزونوا وصورت حال پېژندنه کول ب : ټولې جملې لوستل . ج : د ځ ، پۀ لیکلو کرښه مکمل . د : د لفظ ، ترښځ ، پۀ غټ لفظ پنسل ګرځول .	مشق پانړه پ۱-۳۹-۳
۶	۶- څلورمې مشق پانړې ته کتل . الف : اوله کرښه لوستل ، د چوکاټ پۀ خوا کښې د الفاظو دروښی حرف نوم اخیستل ، د خپل آخری حرف سره سره د الفاظو پیدا کول پۀ دوئیمه کرښه کښې د یوبل سره چې مقابله کیږی هغه الفاظ د کرښې پۀ ذریعه ترل لکه څنګه چې پۀ مثال کښې دی . ب : پۀ درئیمه اوڅلورمه کرښه همدغسې کول . ج : جوړه جوړه کارکول ، یوماشوم داولې یادریمې کرښې یولفظ وائی بل ماشوم په دویمه یا دریمه کرښه کښې د هغې سره مقابله کېدو نکے لفظ وائی .	مشق پانړه پ۱-۳۹-۴

پ۱	3-39
پ۱	۳-۳۹

ځ ځ ځ

دا ترښځ ده .
دا بابا دی .
بابا ترښځ لري .
دا نازو ده .
نازو ترښځ نه لري .
داد بابا ترښځ ده .

بابا **ترښځ** لري .

پ۱	۳۹-۹
پ۱	۳۹-۴

ر	رسی	ب	بابا	ل	لاس	ک	کل	د	دېک		
	کتاب		سیند		لور		جال		چرک		

خ	خر	س	سترکه	ک	کټ	چ	چرکه	پ	پیشو		
	مچ		توپ		ملخ		بس		چاینک		

پښتو اول ټولګی پ ۱ - ۴۰	عنوان: په حکمونو عمل کول (حکمونه نترسره کول) ، د راتلل ، کښېناستل ، لوستل ، لیکل اوتلل د مفرد وحکمونو لوستل زده کول	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- په حکمونو د عمل کولو مشق (۱)	
- یوځو ماشومانو ته بلنه ورکول چې د جماعت د کمرې مخې ته راشي	- ځو ماشومان د جماعت د کمرې مخې ته راځي ، نور ورته ګوري .	
- وئیل چې زه به اوس تاسو ته حکم ، امر ، کوم اوتاسو به زما د حکم مطابق عمل کوئ .	- غوږ نیول ، که ځه کېدے شو سوالونه کول	کتابونه ، تور تخته کرسۍ ، تاپ په ټولګي کښې نور څیزونه
- د یو ماشوم نوم اخیستل او حکم ورته کول لکه : « زلیخا راشه ! »	ښه ښه ماشوم عمل کوي ، نورې مشاهده کوي .	
د نورو نومونه اخیستل او نور حکمونه ورکول لکه : « کتاب ولوله ! » ، « په تخته ولیکه ! » ، « کښېنه ! » « دروازې خواته ځه ! »		
- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې زما په ځای اوس تاسو یو بل ته وار په وار حکمونه ورکوئ (۲)	- یو یو ماشوم وار په وار نورو ته حکمونه ورکوي . او ښه ښه ماشوم د حکم سره سم عمل کوي ، نورې مشاهده کوي او د نورو حکمونو څخه یې څه نه پېښېږي .	
	۲- د اسې حکمونه استعمالول چې د جماعت په کمره کښې ډېر استعمالیږي .	
- مشق پاڼه پ ۴۰ - ۱ ته دکتلو بلنه ورکول چې د ځانه یوال سره یوځای پرې خبرې کول	- مشق پاڼه مطالعه کول او د ځانه یوال سره یوځای پرې خبرې کول	مشق پاڼه پ ۴۰ - ۱
- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې په مشق پاڼه کښې د حکمونو صورت حالونه تشریح کړي : مد د کول (۳)	- ځه نې چې په کښې معلوم کړي دی خبرې وربانده کول . تصویرونه تشریح کول ، د خیالاتو اظهار وربانده کول .	
- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې په تصویر کښې د ښودل شوو حکمونو نومونه واخلي	- معلومول نې او د حکمونو نومونه اخیستل ، ځه ! راشه ! ، کښېنه ! ولوله ! ، ولیکه ! ، بیا بیا وئیل غوږ نیول .	
- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې ښه ښه حکم معلوم کړي ، راشه ! ځه ! کښېنه ! ، ولوله ! ، ولیکه ! مد د کول (۴)	- د معلومو حرفونو په مرسته د ښه ښه لفظ معلومول متعلقه تصویرونو سره د الفاظو رابطه قائمول .	د الفاظو کارډونه ځه ، راشه - کښېنه ولوله - ولیکه
- د الفاظو کارډونه یو په یو ښودل	- ځانله ځانله او په یو کډه سره نې په یو آواز لوستل	
- په ډب ترتیب د ډول د الفاظو کارډونه ښودل	- په یو یو اواز سره د الفاظو بیا بیا لوستل .	
	۳- د یو نظم زده کول چې حکمونه لري	
- ماشومانو ته وئیل چې اوس به تاسو یو نظم زده کوئ .	- نظم ته غوږ نیول	نظم د درسي پلان سره یوځای دے
د نظم وئیل - کرښه په کرښه د نظم وئیل .	- په یو یو اواز او ځانله ځانله د نظم بیا بیا وئیل	
- ټول نظم یوځل بیا وئیل	- کرښې کول چې نظم په یاد وواځي .	
- د نظم په حقله یو بحث رهنمائی کول (۵)	- په نظم کښې د حکمونو په باب خبرې کول	

درسی پلان نمبر پ ـ ۴۰	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱ـ ددې درس پرمبنه برخه به ماشومان په کارکښې سرګرم وساتی او ددې حُکمی لفظونو دعملی استعمال سره به ئې اشنا کړی . دا به لوستل ولیکل داصل عمل سره پۀ ربط کښې راولی . او د برد لچسپ به وی . د لوستلو اولیکلو عمل به هم اسان کړی

۲ـ استاد چې کوم حُکمونه ماشومانو ته ورکوی نو د هغوی دعملی کولو او تکرارولو د پاره ماشومانو ته کافی وخت ورکول پۀ کار دی اوهم ددې د پاره کافی وخت ورکړئ چې نورې حُکمی فقرې پیدا کړی پۀ دې کارکښې به د پرشاګردان سرګرم وساتل شی .

۳ـ استاد به پخپله د صورت حال تشریح نۀ کوی بلکې د ماشومانو زلاړښودنه به کوی . پۀ دې طریقه به ماشومان زیات بنۀ پوهه شی . دغه پنځۀ تصویرونه مختلف حُکمونه بنئی . پۀ هر صورت حال باندې ځان پوهول پۀ کار دی اوهر حُکم به ماشومان پۀ یوه جمله (فقره) کښې راوړی .

۴ـ مشوره به داوی چې قدم پۀ قدم یولفظ پۀ بل لفظ پسې پیدا کړے شی مثلاً استاد پوښتنه کولے شی ، ځئ چې لفظ " ځه ! " پیدا کړو ! څوک ئې پیدا کولے شی ؟ یا : کوم لفظ داسې بنکاری لکه لفظ " ځه " ؟ دا پرې ضروری خبره ده چې د نوو الفاظو د لوستلو پۀ وخت کښې ماشومان دخپل عِلم نه کار واخلی .

۵ ـ دا قدم به هله کیږی چې وخت کافی وی .

پ۱	1 - 40
پ۱	۱ - ۴۰

ولوله ځه ولوله

ځه ! ځه ! پۀ قلاره ځه ـ ځه ! پخپله لاړه ځه !

راشه دکتاب سره ـ کښېنه استاد سره

ولوله سبق دې خپل ـ ولیکه سبق دې خپل

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپې درسونو خاکې

عنوان: د حکمونو بیابیا ویل ، د لفظ ـ مهٔ ـ بنودنه د نهمې حکمونو د علامې په حیث (په طور)

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د بیل بیل ماشوم مخې ته راتلل ، یو کارډ بنودل چې یو حکم وربانديې وی . او د بل ماشوم نوم اخیستل چې د دغه حکم مطابق عمل وکړی . (۱)	د الفاظو کارډونه
۲- دتېرې ورځې د نظم بیاوئیل .	
۳- استاد د لفظ مهٔ کارډ بنسئ او نورو ماشومانو ته وئیل چې دا د ولولئ په لفظ مهٔ ، کښې د حروفو پېژندنه کول . کوشش کول چې دغه حروف سره یو ځای کړی او لفظ ، مهٔ ، ترې جوړ کړی . د دغه لفظ څرګندولو تلفظ کول ، مهٔ ، د نهې سره متابله کول (۲)	د لفظ مهٔ کارډ
۴- ماشومان کوشش کوی چې د کور / سکول د ماحول مختلف نهی (منفی حکمونه) پیدا کړی .	
۵- د ویې مشق پانړو کتل : الف : معلومول چې پلار به غالباً خپل بچی ته څهٔ وائی ب : حکم ، مهٔ څه ، څرګندولو دجماعت د کمرې د ماشومانو په مخکښې وئیل. ج : په تخته د دغه لفظ لیکل د استاد د طرفه او په هوا کښې د ګوتې په ذریعه د ماشومانو له طرفه . د : د ، مهٔ څه ، په لیکلو سره د کرښې مکمول . هر : د نظم لوستلو کوشش کول	مشق پانه پ ۱- ۴۰- ۲ / تخته

پ ۱- ۴۰ ، وړپې درس نمبر اول د دې ، وړپې درس په باب څهٔ نوې تبصرې

۱- د الفاظو پنځهٔ واړه کارډونه به په مېز ایښودل کیږی . د هر ماشومانو ته به موقع ورکول کیږی چې وراندې راشی او پخپله خوښه امریه لفظ (د حکم لفظ) وښئ . د دې خبرې مطلب دادے چې یو کارډ به څرګنده بنودل کیږی .

۲- صحیح تلفظ به استاد پخپله نهٔ کوی . خو که چې ځې یو ماشوم صحیح تلفظ وکړی نو استاد به شاباسے ورکوی . کوم کارډ چې حکمی لفظ لری نو په دې مرحله کښې به هیڅکله د لفظ (مهٔ) سره نهٔ تړل کیږی ځکه چې د نفی نښې ، مهٔ ، د یو ځای کولو په وخت کښې د ځینې الفاظو په جوړښت کښې بدلون راځی .



عنوان: یوه لوبه کول ، د مشقونو لوستل اولیکل .		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس پلان	۱- د یوې لوبې کول ، علی وائی ، . (د حکمونو او منفی حکمونو = امرونهی) تکرارول ۲- د ړیه مشق پاڼه مطالعه کول : الف : د صورت حال پېژندنه کول او تشریح کول ئې . ب : د جملو ، فقرو ، لوستل ، پته لګول چې ځینې الفاظ غیب دی . ج : د غیب الفاظو د پیدا کولو کوشش کول . مکلې فقرې د ټول کلاس (ټولګی) په مخ کښې وئیل د : د غیب الفاظو په خالی ځایونو کښې الفاظ لیکل او یا د الفاظو نه یوه کرښه مناسب خالی ځای ته بیول .	لوبه د درسی پلان سره یوځای ده مشق پاڼه پ۱-۴۰-۳
د درس ارزونه	۳- خلورمه مشق پاڼه کتل : الف : څه چې کول غواړی په هغې بحث کول (په هرقطار کښې دا ډول لفظ پیدا کول) ب : په خاموشۍ سره دخپل اندیوال سره کار کول : د ټولو الفاظو لوستل ، د اندوَل لفظونو کرښه تاوه ول . ج : په ټول ټولګی کښې مقایسه کول . ۴- د کومو الفاظو نه چې کرښې تاوه شوی دی د هغوی مشق کول په سلیټونو باندې .	مشق پاڼه پ ۴-۴۰ سلیټونه

لوبه

استاد وائی چې دالوبه د « علی وائی » په نوم یادیزی . ټول ماشومان به ولاړیزی . استاد به په لوبه شروع کوی او وائی به چې : « زه علی یم » علی وائی چې سرته لاس ورورئ ! ماشومان د علی د حکم سره سم سرته لاس ورورې .

علی بیاوائی : ستړکو ته لاس ورورئ » ! « غوږونو ته لاس ورورئ » ! اوداسې نور .

خوبیا بې پامه اوناڅاپه حکم بدلوی اووائی : علی وائی چې خولې ته لاس مه ورورئ ! خوکه کوم ماشوم خولې ته لاس ورورې ، هغه به د لوبې نه ووځی اوکښینی به . لوبه به د حکمونو په ناڅاپه بدلولو سره جاری ساتل کیږی ان تر هغې پورې چې یوهلک پاتې شی . او همدغه هلک چې ولاړپاتې شی لوبه به هغه کتلې وې . دالوبه څوځړله شاګردان د استاد په غیر کولے شی یعنې د استاد ځای به پخپله بېل بېل شاګرد نیسی او د استاد په شان به عمل کوی . (ماشومان د علی په شان عمل کوی)



دا زرین ☐ .	دا نازو ☐ .	د
هغه پیشو وینې .	هغه بابا ☐ وینې .	کور
پیشو کور ☐ ځي .	بابا له ☐ نه راځي .	لري
نازو راشه ☐ پیشوده .	هغه تربنځ ☐ .	نه

توت	توپ	نال	پ۱ ۴۰-۴ پ۱ ۴۰-۴	
لړم	جال	چرک	مار	
مچ	ملخ	لور	یوې	
زمری	تاج	پیشو	جارو	
ونه	لاس	هګۍ	ځنګل	
سیند	بس	کتاب	ستن	
چاینک	چاقو	دېګ	کور	

پښتو اول ټولګی پ ۱- ۴۱	عنوان: د زده کړې شو و حروفو تکرارول: د حرف «ا» سره د ډې حروفو تړل (یوځای کول) (۱)	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- ټول معلوم توري (حروف) تکرارول	
- ټول معلوم توري په تخته لیکل (۲)، - په غیږدا نتخابه (په ټوکلی ډول) حروفو ته اشاره کول او د لوستلو غوښتنه ئې کول (په یو آواز سره)، - دوه ماشومان مخې ته رابلل، یو ماشوم به د معلم په شان عمل کوی او د ډې مختلفو حروفو ته په اشاره کولو سره د بل شاګرد ازمیښت کول. - کوم شاګرد چې د ډې واړه صحیح ځوابونه ووائی هغه به د معلم په شان عمل کوی. - په نورو شاګردانو سره تکرارول - د واولز د اواز نه په غیږ د هر حرف د تلفظ غوښتنه، د ضرورت په اندازه مدد کول	- د غه ټول حروف یو په یو لوستل او نومونه ئې اخیستل. - په یو اواز د د غه حروفو لوستل لکه څنګه چې بنودل کیږي. - په خوښه د دوه ماشومانو مخې ته راتلل، یو د استاد په شان عمل کوی او د ډې مختلفو حروفو ته په اشاره کولو سره د بل شاګرد ازمیښت کول. - د استاد په شان عمل کول. لکه څنګه چې د ربړ ته د ټلې شوی د هغې د حروفو تلفظ کول - په خوښه د مخلبې په شان عمل کول - د واولز نه غیر د هر حرف تلفظ	توره تخته
- ویل چې اوس به تاسو حروف یو په یو بل پسې د الف سره تړئ - حروف «ب، او «الف» ته اشاره کول او غوښتنه کول چې د غه دواړه حروف سره یوځای کړئ او نوی سیلبل (هجا) چې مینځته راځي تلفظ ئې کړئ. (نوی هجا کا ئي په جوړ کړئ شوی ځای کښې لیکل) - خو ځله (۳) افرائي کول چې د د غه نورو حروفو په استعمال سره نوې هجا ګانې (سیلبلونه) جوړې کړي او تلفظ ئې وکړي، د هجا ګانو لیکل په تخته باندې. (۴)، - په غیږدا نتخابه په ټوکلی ډول د غه هجا ګانو ته اشاره کول او د تلفظ کولو غوښتنه ئې کول.	۲- د حرف «ا» سره د د غه حروفو یوځای کول - تشریح ته غوږ نیول - د حروفو «ب، او «ا» د یوځای کولو کوشش کول چې د ا هجا (سیلبل) ترې جوړیږي. خو خو ځله د د غه هجا تلفظ کول. - د الف سره د نورو حروفو د یوځای کولو کوشش کول او کوشش کول چې د د غه نو هجا ګانو تلفظ وکړي. په تخته د د غه هجا ګانو لیکلو مشاهده کول. - د هجا ګانو تلفظ کول.	توره تخته توره تخته
- اولې مشق پانړې ته ډکلو غوښتنه کول. - د ماشومانو نه غوښتنه کول چې دوه دوه تنه کار وکړئ او نقطې نقطې سره یوځای کړئ او د غه هجا ګانې ولولئ. - غوښتنه کول چې د دوه هجا ګانو د یوځای کولو په واسطه نوی الفاظ جوړ کړئ، یا د یو شانته یا د مختلفو هجا ګانو د یوځای کولو په ذریعه نوی الفاظ جوړ کړي. د ضرورت په وخت کښې کومک کول. - د ډې نو الفاظو لیکل په توره تخته - غوښتنه کول چې سلیټونو ته ئې نقل کړئ	نور نور مشق په منځ کښې د حرف الف او په د ایره کښې د نورو حروفو پېژندنه کول. د مشق پانړې په سر او آخر کښې د هجا ګانو پېژندل چې په یو ټکی خط سره لیکلې شوی دی. - دوه په دوه هجا ګانو لوستل. د لقطو په یوځای کولو سره د هجا ګانو لیکل او لوستل ئې. - کوشش کول چې د یو شانته او یا مختلفو هجا ګانو د یوځای کولو په ذریعه نوی الفاظ جوړ کړي. مثلاً د اپیدا کول: باچا - کاکا - ماما - بابا - مشاهده کول، څانله څانله او په یو آواز د ډې الفاظو لوستل - نوی الفاظ سلیټونو ته رسول او مشق ئې کول.	مشق پانړه پ ۴۱-۱ توره تخته سلیټونه

	درسی پلان نمبر پ - ۴۱

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې :

۱- دا د ماشومانو پرمېښے ځل دے چې د حروفو د یوځای کولو باقاعده مشق کوی اونوې هجا کانې اویا واړۀ واړۀ الفاظ جوړوی . دارنګه مشقونه د ماشومانو سره د نورو الفاظو پۀ لوستلو کښې کومک کوی او ددې قابل کوی چې پۀ خپله الفاظ ښۀ ولوستلے شی .

۲- د حرف (ر) نه پۀ غیر به استاد ټول معلوم حروف پۀ توره تخته پۀ هنه شان لیکی لکه څنګه چې پۀ اوله مشق پانړه کښې لیکلے شوی دی . یوځۀ خالی ځای به یو اړخ اولاندې خواته پرېښودئ چې بیا پکښې هجا کانې ولیکلے شی . حروف به صفا ستره غټ او پۀ خاصه طریقه لیکلے کیږی ، د دې د پاره چې ماشومان ئې پۀ آسانی سره ولوستلے شی . دا خبره د مشق د پاره ضروری ده . استاد خپل کارته پۀ تخته دا سې ترتیب ورکوی لکه څنګه چې پۀ مشق پانړو کښې دے . د مشق پانړې پۀ سرکښې به هنه هجا کانې وی چې الف ورسره نۀ ټرل کیږی . د مشق پانړې پۀ آخرکښې به هنه هجا کانې وی چې الف د حروفو سره ټرلے وی .

استاد به ماشومانو ته دا خبره وا ضحه کوی چې «د» ، «و» ، «ر» دکښې خوانه د هیڅ بل حرف سره نشی ټرل (یوځای) کیدے .

۳- استاد به اول کوم سلیبل (هجا) چې پنځه نۀ تلفظ کوی بلکې ماشومان به اول د هجا د تلفظ کولو کوشش کوی . او دا کار به د دوی د وسه یوه هم شی . دلږ څۀ وخت نۀ روسته به دوی ټکوه شی . هره هجا به پۀ تخته لیکل کیږی . استاد به وائی چې کله د نورو حروفو د الف سره یو ځای شی نو خپله اصلی شکل ئې کمیږی

۴- استاد به هرې هجا ته پۀ غیر د څۀ خاص ترتیب نه اشاره کوی دا ځکه چې مخکښې مخکښې نه پۀ کار نۀ ده چې ماشومان د بل سلیبل د راتلو نه خبروی .

پ۱	۱-۴۱
پ۱	۱-۴۱



د بل درمی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

عنوان : نورمشق ؛ حروف د ـ ا ـ سره یوځای کول ؛ د کلیدی لفظ ـ شمع ـ بنودنه د حرف ـ ش ـ د پاره د لفظ په سرکښې	
د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- په اوله مشق پانړه د هجاګانو د لوستلو تکرار کول ۲- په سلیټونو لږه املا لیکل (د کارکتابونه به پرانیستی نه وی) ؛ الف : استاد به لاندې هجاګانې په منړه منړه والې او شاګردان به یې لیکی : دا - تا - را - جا - کا - نا ب : د ټول جماعت په مخکښې لوستل او متابعه کول .	مشق پانړه پ ۴۱ - ۱ سلیټونه
۳- د کلیدی لفظ ـ شمع ـ بنودنه : الف : پخپله شمع بنودل او که نه وی نو کلیدی لفظ ـ شمع ـ بنودل . د شمع اود شمع نه داور د لګیدلو د خطر په باب خبرې اترې . ب : د شمع ـ د لفظ د شکل بنودنه اود حرف ـ ش ـ د شکل او اواز بنودنه د کتابی علایمو مطابق	حقیقی څیز ، یا دهغې کلیدی کارډ ـ شمع ـ
۴- د مشق پانړې مکمللول : الف : کربنه د ـ ش ـ په لیکلو سره مکمللول . ب : د ش د حرف په ورزیاتولو لفظ ـ شمع ـ مکمللول . د لته دا ـ ش ـ مقصد دے . ج : په لاندنیو کربنه کښې په ټولو الفاظو ـ شمع ـ قلم ګرځول .	مشق پانړه پ ۴۱ - ۲

ماښام د ۱ - ۴۱ د وړپسې درسونو د تدریس د طریقې د اصول مطابق

پ ۱ - ۴۱ ، وړپسې درس نمبر اول ددې ـ وړپسې درس په باب څه نړې تبصرې

۱- دا د ماشومانو پرومبی وړه املا ده او د ماشومانو د ترقۍ معنی لری . ددې وجهنې به استاد د ماشومانو پام دې ترقۍ ته راواړوی او شاباسے به ورته وائې . دا د ماشومانو د پاره ډیره اهمه خبره ده چې د خپلو هجاګانو په غلطو یا صحیحو لیکلو پوهه شی نو ځکه ددې هجاګانو مقابسه کول په کاردی . ماشوم به همیشه یوه هجا د خپل سلیټ نه لولی . استاد به هجا په تخته لیکی . ماشومان به ورته ګوری اود هغه هجا سره به یې مقابله کوی چې دوی پخپله په خپلو سلیټونو لیکلې ده . استاد په شاګردانو کښې ګرځی اود ماشومانو سره په چک کولو کښې مدد کوی

ش ش	پ ۱ / 2 - 41
	پ ۱ / ۲ - ۴۱



شمع - شمع - شمع - شمع - شمع - شمع

عنوان : دالف لرونکو هجا کانو سره یو درېم حرف یوځای کول اوالفاظ جوړول . دکلیدی لفظ « برش » بنودل دآخر حرف « ش » دپاره .

	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱	۱- د نوو الفاظو موندل : الف : ددرېمې مشق پانړې په سرکښې دحروفو لرستل . نومونه ېې اخیستل ، داوازونو تلفظ ېې کول . ب : په لاندینۍ برخه کښې د هجا کانو لرستل . ج : د سرو حروفو نه یو حرف د هجا کانو سره یوځای کول اوصحیح لفظ جوړول . (۱) د نمونې الفاظ یو په یو تیار شوی ځای کښې لیکل . د : لاندینۍ جملې چې نوی الفاظ لري د هغوی لرستل .	مشق پانړه پ ۴۱ - ۳
۲	۲- دکلیدی لفظ « برش » تعارف : الف : پخپله برش یا د هغې تصویري کارډ بنودل ، دبرشونو اوخاصو طورد غابنونو د برشونو د اهمیت په باب خبرې کول . ب : دلفظ « برش » د شکل تعارف اود حرف « ش » داوازاوشکل تعارف دکتابي علامې مطابق	حقیقي ځیز برش یا د هغې تصویري کارډ
۳	۳- مشق پانړې ته کتل : الف : دلفظ « برش » مکمل ریاد حرف « ش » یا د « بر » په ورزیاتولو سره (نښې برخه) . ب : په کتاب کښې د جملو لرستل (اول دوه دوه کسه خپل منځ کښې ، اوبیا ټول جماعت ته (ټولګي ته) (۲)	مشق پانړه پ ۴۱ - ۴

پ ۱ - ۴۱ ، ورېښې درس نمبر دوئیم د د ې ، ورېښې درس په باب څه نرې تبصرې

۱- په دې مشق کښې به ماشومان پخپله دالفاظو دحروفو د پیدا کولو (هجې کولو) یوه ډېره خوندوره اوجالبه تجربه حاصله کړي .

مونږ دا تجویز وړاندې کوو چې شروع به دایکې یوې هجانه کیږي .

د دغې هجا سره به یو یو حرف وار په وار یوځای کیږي اوګوري به چې دکوم حرف په ترکیب سره صحیح اومعنی لرونکی لفظ جوړیږي . په نورو هجا کانو به هم همدغسې کار کیږي .

۲- ماشومان به دحروفو ش او س شکلونه مقایسه کړي اوفرق به ېې په نقطو کښې پیدا کړي .

که چیرې نوی حروف په معلومو (زده کړې شوو) حروفو کښې دیوبل سره یو شانته وي نو ماشومان به ېې پخپله مقابله کوي اوکه څه فرق پکښې موجود وي هغه به پیدا کوي . دلته د فرق نه مراد د حروفو په اواز او شکل کښې فرق دے .

پ ۱	3 - ۴۱
پ ۱	۳ - ۴۱

ل م س ر ک ن

دا	تا	لا	ما	نا	با	جا
دال						
دا						

زرین مال لري - نازو دام نه لري - داد خر بار دی .
مار ځنکل ته ځي - ونه ناک لري - دالار له ځنکل نه راځي .
اس نال لري - زرین د کور بام وینې .

پ ۱	۴ - ۴۱
پ ۱	۴ - ۴۱

زرین راځي .
نازو راځي .
هغه برش لري .
زرین برش وینې .
هغه شمع لري .
نازو شمع وینې .

بر ش

برش

بر ش

بر

برش - برش

(هـ) لوبې او نورې مشغلې به هیڅکله نه حذف کیږي ، خو د استاذ په خوښه یې تکرار یږي .

۵- د تدریسي معاونانو دبنیادي اصولو په حقله څه تبصره :

(الف) د لوستلو دزده کړې دپاره د تدریس دا طریقه یوه موثره رسائی ده . د دې مطلب دادی چې د حروفو په آوازو کښې دې فرق وکړی او زده دې کړی شي . دا به د الفبا د حروفو دزده کړې دپاره د کلیدي الفاظو په ارتباط په مزه مزه او قدم قدم کولی کیدی شي . د استاذ دپاره دا اهمه خبره ده چې هغه پخپله د الفباد حروفو د نومونو او اوازونو تر منځه فرق وپېژني او دا علم د خپل تدریس دپاره په کار راولي . د کلیدی الفاظو / مونوتونو / حروفو د تدریس طریقه په « کتابې علامه » کښې په تفصیل سره بنودلی شوېده . د « کتابې علامې » قدمونه به استاذ په یادو یادوی .

(ب) دا درسي معاونات په ماشوم تمرکز لري . ددې مطلب دادی چې د ماشومانو مشغلې به د تدریس هسته (مرکز) تشکیلوي . دزده کړې په عمل کښې به ماشومان فعال او د ژوند دورځنیو تجربو ، پوهې او قابلیت په دایره کښې راوستلی شي . د استاذ درهنمائي په رښا کښې « دکارکتاب » د استعمالولو په واسطه ماشومان د عمل د لارې زده کړه کولی شي ، په خپله سوچ کولی شي ، د حل لارې په خپله پیدا کولی شي او په باقاعدګۍ سره د لیکلو او لوستلو وړ زیات مشق کولی شي . « دانړې وال سره دکارکولو په ذریعه » څنګه چې په اکثرو مشقونو کښې تجویز کړی شوی دي ، ماشومان ددې قابل ګرځي چې خپل خیالات یو بل ته ورسوي او خپلو صلاحیتونو ته وده ورکړي .

(ج) « دکارکتاب » کښې په مشق پانړو کار او زده کړه کول پداسې طریقه سره ترتیب کړی شوی دي چې د څېړنیزو معلوماتو او تجربو د استعمال په اساس ماشومان همېشه نوي معلومات او تجربې تر لاسه کوي . په دې شان به د هرې ورځې تکرار او مشق نه بې خونده کیږي او نه به نوره زده کړه وړه زیاته ګرانه بېږي . اکثره مشق پانړې د نورو زیاتو همدغسې مشقونو دپاره چې په نوره تخته او یا به په سلېټونو کولے کیږي ، امکانات وړاندې کوي .

(د) د ماشومانو دکارکتاب کښې د مشق پانړو خطاطي پخپله د استاذانو اوماشومانو د خطونو (خوشخطۍ) دپاره یو مثالي نمونه ده . ددې دپاره چې ماشومان حروف او الفاظ په اسانه وپېژني نو همېشه په یوشان طریقه لیکلے شوي دي ، کله چې استاذ په نوره تخته لیکل کوي نو همدغه انداز به خپلوي ، دا طریقه به ماشومان د مغشوشیت او ابهام سره نه مخامخ کوي . د استاذ دپاره دا وړه زیاته ضروري ده ، چې حروف دې همېشه لوی په مزه مزه او صفا لیکي . دا به ماشومانو ته په لوستلو او بیا لیکلو کښې د اسانتیا سبب شي .

۶- ددې کتاب متنونه د پاکستاني او افغاني استاذانو دپاره لیکلے شوېدي . دا په بیوه داسې لهجه او خط کښې لیکلے شوي دي چې د دواړو ډلو استاذان ئې په لوستلو پوهیږي ، خو دکارکتابونه بیا ددوه عبارتونو کښې تیار کړی شوي دي ، یو د پاکستاني او بل د افغاني سکولونو دپاره . د کار دا کتاب د افغاني سکولونو دپاره چاپ شوې مشق پانړې لري .

پښتو اول ټولګی پ ۱- ۴۲	عنوان: دامربه (حکمی) الفاظ تکرارول. دواړل (اوازلرونکی) حرف «و» سره دحروفوپهٔ یوځای کولو هجاګانې جوړول اودیودریم حرف پهٔ یوځای کولوسره ددغه هجاګانونه الفاظ جوړول (۱)

دا ستاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- دالفاظوپهٔ کارډونوزده ځکمی لفظونو پېژندل	
- دالفاظو کارډونه پهٔ بې ترتیبه ډول بنودل اودهغوی دتلفظ کولو غوښتنه کول پهٔ کډه سره اویراځي یراځي	- دالفاظو کارډونو ته کتل اودغوښتنې سره سم دهغوی تلفظ کول	دحکمی الفاظو کارډونه
- دلفظ یوکارډ بنودل اوپهٔ چپه سره دهغې لوستلو غوښتنه کول: بیادیوماشوم نه غوښتل چې پهٔ کارډ دبنودل شوې عمل نقل وکړي.	- په خاموشۍ سره ددغه کارډ لوستل اوچې کله استاذ دیوماشوم نه غوښتنه وکړي نوډکارډ په لفظ دبنودل شوې عمل نقل دې وکړي، دنورو ورته کتنل.	
- ددې مشق بار بار کول پهٔ نورو ځکمی الفاظو سره، دپورو ماشومانو ته پهٔ مشق کښې برخه ورکول.	- دغوښتنې سره سم عمل کول	
	۲- دهغه هجاګانو لوستل چې د «و» سره جوړې شوې وی دنورو الفاظو پیدا کول.	
- حرف «و» پهٔ تخته لیکل اودهغهٔ دنوم اوآواز پوښتنه کول	- تورې تختې ته کتل اوددغه حرف «و» نوم اخیستل. دوه ډوله تلفظ یې کول «او» او «اُو»	تخته
- د «و» نه مخکښې دیونیمګړی حرف لکه «د» لیکل چې د «و» هجا جوړه شي بیادهغې دلوستلو غوښتنه کول (۲)، اوددغه هجا ددوه ممکنو تلفظونو پهٔ پیداکولوکښې مرسته کول لکه پهٔ «دو» او «دُو» کښې.	- مشاهده کول پهٔ دواړو طریقو د ددغه هجا تلفظ کولو کوشش کول، ددغه دوه صحیح تلفظونو تکرارکول.	
- دنیمګړی حرف «د» ورانول اودهغهٔ پهٔ عوض حرف «س» لیکل اوددغه هجا دلوستلو غوښتنه کول	- دمخکښې قدم پهٔ شان عمل کول، اوددوه ډوله تلفظ یې کول لکه «سو» او «سُو».	
-دمشق پاڼې پ ۱-۴۲- ۱ پاسنۍ برخه په تورې تختې جوړول	- داستاذ رسم ته کتل اولیکل یې، حروف اوهجاګانې په خاموشۍ سره لوستل.	مشق پاڼې پ ۱-۴۲-۱

ر	ک	ب	د	ت	پ	چ
خو	بو	نو	سو	تو	کو	لو
خور						
خوب						

- طالب علمان رهنمائی کول.
- خواست سره سم کارکول
- وركړې شوې هجاګانې لوستل
- یوځای کړې شوو حروفو سره د هجاګانو تلفظ کول، یوځو نورو الفاظ معلومول مثلاً بوج، نور، نوک، سوک.
- د الفاظو لوستل.

- د ماشومانو نه غوښتنه کول چې ټول الفاظ ولولئ (یراځي یراځي اویهٔ کډه سره)
- دالفاظو لوستل دهدایت سره سم.

	۳- دلوستلو مشق کول	
- غوښتنه کول چې د دنورو الفاظو معلومولو برخه ولولي. دنورو الفاظو د معلومولو کوشش کول (۳)	- داندې یوال سره یوځای لوستل، دنورو الفاظو معلومول	
- غوښتنه کول چې د دنورو الفاظو نومونه واخلئ. دغه نورې الفاظ چې ماشومانو ولوستل پهٔ تخته لیکل.	- دالفاظو نومونه اخیستل، پهٔ تورې تخته باندې ددې الفاظو دلیکلو مشاهده کول اولوستل یې.	تخته
- ددغه ډول قصې دلوستلو غوښتنه کول (د توکي پهٔ مخکښې لوستل جمله پهٔ جمله. وار پهٔ وار یوه یوه جمله	- توله قصه جمله پهٔ جمله لوستل.	

درسی پلان نمبر پ۱ - ۴۲	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- دې آوازه حروفو (کنسونینټس) یوځای کول د آواز لرونکی حرف ، واړل ، ـ و ـ سره همدغه شان کیږي لکه چې د الف سره شوی وو . دتېر شوی مثال دوجهې نه به دا کار ماشومانو ته آسان وی خو د ـ و ـ سره د حروفو یوځای کول یو مشکل لری اوهغه دادے چې دا کله د ـ او ـ آواز ورکوی لکه پۀ ـ لور ـ کښې او کله د ـ اُو ـ آواز ورکوی لکه پۀ ـ لُور ـ کښې د دې دواړو امکاناتو مشق کول پۀ کار دی .

۲- پۀ هرترکیب کښې د ـ و ـ تلفظ پۀ دواړو طریقو سره کول پۀ کار دے . د مثال په ډول کۀ چیرې استاد پۀ تخته باندې د ـ و ـ سره نیمګړے حرف ـ س ـ یوځای کړی اود ـ سر ـ هجا جوړه شی نو استاد به خاطا دې تشریح کوی چې دا هجا ـ سُر ـ هم تلفظ کیږی لکه پۀ لفظ ـ سُور ـ کښې او ـ سو ـ هم تلفظ کیږی لکه پۀ لفظ ـ سور ـ (سُور رنګ ، پۀ اس سور) ماشومان به بیا د حروفو پۀ دغه ترکیب کښې دواړه ډوله تلفظونه پیدا کوی . استاد به داخبره ښۀ یقینی کوی چې ماشومان مشق ته پوره توجّه لری اوتوري تختې ته پۀ غور سره کوری . دا ضروری نه ده چې ټول حروف دې د ـ و ـ سره وتړل شی لکه څنګه چې د الف سره شوی وو . اتۀ یالس حروف دې خوښ کړے شی .

۳- یوځای نوی الفاظ د دې دپاره ورکړشوی دی چې ماشومانو ته د لوستلو تجربه اوشوق ورکړی . استاد به د ماشومانو دې ترقۍ ته ښۀ خیال کوی او حوصله افزائۍ به ئې کوی چې دغه نوی الفاظ پیدا کړی .

پ۱	1-42
پ۱	۱-۴۲

ر ک ب د ت پ ج

خو	بو	نو	سو	تو	کو	لو
خور خوب						

زرین خوب وینې - هغه له کور نه ځي
کور توت لري - هغه بوس لري - کاکا راځي
هغه بس لري - دا د زرین کاکا دی - زرین بس نه ځي

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

عنوان : د یو حرف پۀ بدلولو سره نوی الفاظ جوړول . د کلیدی لفظ ډول بنودنه د حرف ډ ـ دپاره د لفظ پۀ سرکښې

د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- دوئمه مشق پانړه استعمالول . الف ، مشق پانړه مطالعه کول ؛ پۀ ډومبی مثال خبرې کول ، د لفظ ـ لاس ـ بدلول پۀ لفظ ـ لار ـ باندې چې ـ س ـ پۀ ـ ر ـ عوض شی . (تصویر هروخت د نوی لفظ معنی ښئی) ب : د نورو الفاظو پیدا کول . ج : د نوی حرف پۀ یرغای کولو سره دغه الفاظ مکمل چې نوې معنی ورکوی	مشق پانړه پ ۴۲-۲
۲- استاد د کلیدی لفظ ـ ډول ـ کارډ ښئی . ماشومان د ډول پېژندنه کوی . خبرې وربانديې کوی	د ډول د کلیدی لفظ کارډ
۳- د لفظ ـ ډول ـ د شکل او آواز معرفی کول او د حرف ـ ډ ـ بنودل د کتابی علامې مطابق .	
۴- دریمه مشق پانړه باندې کار کول . الف : د تصویر پېژندنه کول . د لفظ ډول لوستل . پۀ لفظ پنسل چکرئول ب : د غیږ حروفو پۀ یرغای کولو سره د تصویر چارچاپېره نیمګړی الفاظ مکمل کول . ج : ورکړ شوې کرښې د ـ ډ ـ او ـ ول ـ پۀ لیکلو سره بشپړول د : د جملو لوستل . (۱)	مشق پانړه پ ۴۲-۳

پ ۱-۴۲ ، وړې درسی نمبر اول ددې ـ وړې درس پۀ باب څۀ نوې تبصرې

۱- استاد به ترهغه پورې انتظار وباسی چې د ماشومانو اکثریت خپل تحریری کار مکمل کړی . بیا به استاد د هغوی نه غوښتنه کوی چې اوس نوې لوستلو شروع وکړئ .

پۀ دې وخت کښې استاد کمزورو شاگردانو ته وائی چې خیر دے تاسو به پاتې تحریری کار روسته مکمل کړئ .





عنوان: د لفظ ـ ګډ ـ بنودل د حرف ـ ډ ـ دپاره د لفظ پۀ آخر کښې .		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د وخت د درس ورځپاڼی ۱-۴۲- پ۱	۱- د تګې پۀ ټکی وئیلو لوپه کول : زۀ یو لفظ .... وینم ، لکه څنګه چې پۀ دېرشم نمبر درسی پلان کښې تشریح شوې ده) ۲- د کلیدی لفظ ګډ ـ تصویری کارډ د تصویر مخ بنودل ، ماشومان د ګډ پۀ باب خپل معلومات وړاندې کړی . ۳- د کتابی علامې مطابق کلیدی لفظ ګډ پۀ شکل اوآواز کښې معرفی کول . ۴- څلورمه مشق پانو استعمالول . الف : د ګډ او د زرین د تصویرونو پېژندنه کول . ب : د لفظ ګډ لوستل . د دغه لفظ پۀ کرښو پنسل ګرځول . ج : د جملو لوستل د : د لفظ ګډ پۀ لیکلو سره کرښه مکمل کول .	د کلیدی الفاظو تصویری کارډونه : یوانتخاب . د کلیدی لفظ ـ ګډ ـ تصویری کارډ . مشق پانو پ۱ ۴۲-۴

پ۱	۴۲-۴
پ۱	۴۲-۴

دا ګډ دی.

دا زرین دی.

زرین ګډ لري.

هغه ګډ وینې.

هغه کور ته نه ځي.

زرین سیند ته ځي ـ ګډ سیند ته ځي.



ګډ

ګډ - ګډ

پښتو اول ټولګی پ ۱- ۴۳	عنوان: په یوه قصه ځان پوهول - د کلیدی لفظ «باغ» سره اشنا کېدل

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
-	۱- د رانۍ په قصه ځان پوهول را،	
- ما شوما نوته وئیل چې اوس به تاسو یوه قصه واورئ، د ځای په ځای کېدلو ویناورته کول.	- غوږ نیول او د قصې دپاره ځان تیارول	قصه د درسي پلان سره یوځای ده.
- قصه په لوړ آواز خوږه وږه اوواضحه لوستل	- قصې ته غوږ نیول	
- د قصې په باب یو بحث مینځته راوړل (۲)	- د قصې په باب تبصره کول، خبرې اترې وربانديې کول.	
- د مخکښې په شان یوځل بیا د قصې وئیل	- بیا قصې ته غوږ نیول	
- د قصې په باب پوښتنې کول او عمومي پوښتنې او بیا تفصیلي پوښتنې. په ورکړې شوو جوابونو تبصره کول	- پوښتنوته غوږ نیول او ځوابونه ټې وئیل، که چیرې ممکنه وه. د سختو پوښتنو په باب خبرې اترې کول.	
- غوښتنه کول چې د قصې ځینې برخې دې بیاوویل شي؟	- د غوښتنې سره سم د قصې ځینې برخې په خپلو الفاظو کښې بیا بیانول.	
- غوښتنه کول چې د قصې په ځینو برخو عملي مظاهره وکړئ.	- د غوښتنې سره سم د قصې ځینې برخې په عمل کښې بنودل،	
د ضرورت په اندازه مرسته کول تبصره کول.	مشاهده کول، تبصره کول.	
	۲- د مختلفو باغونو په باب خبرې اترې کول	
- په قصه کښې د باغونو په باب خبرې کول،		
- هغه باغ چې رانۍ اول ورنښته.		
- هغه باغ چې رانۍ په آخر کښې پکښې وه		
- د باغ د تصویر مشاهده کول.		د باغ تصویري کارډ د تصویر مغ.
- د تصویر په باب خبرې کول چې دا باغ د قصې د باغ سره فرق لري، نو مونږ ټې اخیستل او تشریح کول ټې،		
د مېوو د باغونو په حقله خبرې کول چې دوی ټې پېژني.		
	۳- دیو باغ د تصویر مکمل کول	
- د مشق پاڼې د مطالعه کول او غوښتنه کول	- مشق پاڼو مطالعه کول	مشق پاڼه پ ۴۳-۱
- د غیب څیزونو په باب پوښتنې کول	- بحث کول او فیصله کول چې، فرضاً کلان غیب دی	
- غوښتنه کول چې د غه تصویر په یو بنایسته باغ د تصویر نه جوړ کړئ،	- په تصویر کښې کلان او نور نور څیزونه جوړول (رسمونه) کوم چې د دوی خوښ وی.	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوری تبصری :

۱- د رانی نوم به صرف د بناپېرو د قصی نوم وی پۀ غیر دکومې خاصې معنی نه . ددی نوم تلفظ اوحروف اسان دی . پېژندل ئې گران نه دی

۲- دقصې داوریدلو نه روسته د ماشومانو حوصله افزائی پۀ کار ده چې د قصې پۀ باب خپل خیالات اظهار کړی اوتبصرې وکړی د تبصرودا موقع دماشومانو دخا صو سوالونو د معلومولو اوښکاره کولو د پاره استعمالیدے شی .

۳- استاد به مخکښې دمخکښې نه پۀ دې خبره ښۀ سوچ کړے وی چې ماشومان د څۀ څیز سره دلچسپی اخلی ، یا څۀ څیز بیا بیانولے شی یاپۀ عمل کښې ښودلے شی . مثلاً رانی دوه مرغی څنگه پیدا کړی اوڅۀ کومک پئ ورسره وکړ .

رانی

یوه ښائسته جینی وه چې دهغې نوم رانی وو . رانی پۀ یو ښائسته کلی کښې پۀ یوۀ وړوکی کورکښې اوسیدله. پۀ دې کلی کښې دهرقسم ونو ، میوو اوښائسته ښائسته کلانو باغونه وو . د رانی به کلان ډېرخوښ وو اوهره ورځ به ئې پۀ باغونو کښې چکر وهلو اوکلان به ئې بوئیول . د ډېرې مینې نه به ئې دکلانو سره لوبې اوخبرې هم کولې . یوه ورځ لږ څۀ باران وشو خوډېرته زراسمان شین شو اونمر رابنکاره شو.

رانی پۀ زړۀ کښې داخبره راغله چې اوس نوردکلانو ته دلیدلو ښۀ موقع ده .

لاړه دکوره ووتله اوتلله تلله ان چې د خپل کلی نه ډېرولرې وتله . څۀ ځکوری چې ناڅاپه پۀ اسمان کښې بیا غږغور شروع شو اوسخت باران رابنکته شو .

رانی جامې ټولې لمدې خیشتې شوې اودباران نه دبچیدلو د پاره دیو پناه ځای پۀ تلاش کښې شوه . یو زور کورئی پۀ نظر راغے چې هیڅوک پکښې نۀ اوسیدل . رانی ورننوتله اویو کنج ته ودریدله . ځکوری چې یوه مرغۀ هم دې کوټې ته راننوتلې دی اویو پکښې پۀ وزر باندې ګوډه ده اونشی الوتلے . پۀ څنگه ناسته ده . پۀ ټوپونو ټوپونو کله یوۀ کنج ته اوکله بل کنج ته ځی . دغه بله مرغۀ پۀ ټول کورکښې الوتله راالوتله اوبهرته به خپلې نرخمی ملګرې له راتلله اوڅۀ چغاربه ئې کولو .

رانی خپله وړه لوښته لږ راخیرې کړه . مرغۀ ئې یوۀ وچ ځای ته کړه اودخپلې لوښتی ټوټه ئې ترې چاپېره کړه چې یخنی ئې ونۀ شی .

لږ شیبه وروسته باران ودرید . رانی زر دکوره راووتله چې وګوری چې کورته تللے شی اوکنه . خو ناڅاپه ئې د شادۍ خندا ترغوږه شوه . رانی زر پۀ کرکی کښې کوتې ته ډننه پام وکړ . څۀ ګوری چې دوه داسې ښائسته جینکه ولاړې دی چې مخکښې ئې هیڅکله نۀ وې لیدلې . یوې جینې رانی ته وویل ، . زمونږ نه مۀ وېرېږه ! مونږ دکوه قاف دغره بناپېرۍ یو. مونږ د پرچکر دپاره راووتلو اودځای نه مومرغی جوړې کړې چې والوزو . پۀ لاړه کښې راباندې یوقوی مرغۀ راغوټه شو اوزما د ملګرې وزر ئې زخمی کړاودې تیارۀ کورته راوتښتیدو. اوس تادلته پیدا کړواود مونږو سړې کومک وکړ . مونږ دتانه شکریه ادا کړو اوغواړو چې دتاسو کومک وکړو . اوس ووایه چې زړۀ دې څۀ غواړی ..

رانی ووئیل چې . د هرڅۀ نه زیات زما کلان ډېرخوښ دی .اودا ددې بناپېرو دپاره کومه سخته خبره نه وه .

بناپېرو ورته ووئیل چې ستړکې دې پتې کړه ! خوکله چې ئې ستړکې پرانیستی رانی د خپل کور مخې ته ولاړه وه کور همغه کور وو خو باغ دمخکښې نه ډېر ډېرغټ وو اوددا سې ښائسته ښائسته کلانو نه وګ وو چې مخکښې ئې هیڅکله لیدلی نه وو .

رانی د بناپېرو نه شکریه ادا کړه اوډېره زیاته خوشاله وه ځکه نوردې ضرورت نۀ وو چې لرې لرې باغونو ته دکلانو د لیدلو د پاره لاړه شی . رانی دکلانو پۀ منځ کښې وه اوژوند پئ د مخکښې نه ډېرپۀ خوشالی تېرېدۀ:



د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

	عنوان: دکلیدی لفظ "باغ" تعارف دآخرحرف "غ" دپاره	
	دشاګردانو / استاد مشغلې	**درسی معاونات**
لومړی	۱- څه چې ماشومانو په مشق پانړه پ ۱-۴۳-۱ کښې جوړ کړی (رسم کړی) دی دهغوی بیانول ۲- دکلیدی لفظ "باغ" او د حرف "غ" بنودل په معموله طریقه: (۱)	دکلیدی لفظ "باغ" تصویری کارډ.
درس	الف: دکلیدی لفظ تصویری کارډ بنودل او خبرې ورباندې کول	
	ب: ددغه لفظ واضحه تلفظ کول. د: دآخری حرف نوم اخیستل	
	ج: دآخری حرف "غ" اوازجدا کول. هـ: دنورو حروفو پرتندل او نومونه یې اخیستل	
	(ب، او ه) و: مشاهده کول چې دغه لفظ اونوی حُرُف څنګه لیکلے شوی دی.	
	ز: په هوا کښې ګوتې په ذریعه ددغه لفظ اودغه حرف لیکل. بیا په سلیټونو باندې	سلیټتونه
	۳- په مشق پانړه باندې د "باغ" او "غ" دلوستلو اولیکلو مشق کول: الف: دباغ په غټ لیکلی شوی لفظ باندې پنسل څرخوځله ګرځول. دغ، اوباغ کړنې دغ، او "باغ" په لیکلو مکملول. ج: د "باغ" الفاظ مکملول.	مشق پانړه پ ۴۳-۲
	۴- په مشق پانړه کښې دجملولوستل. الف: داندیوال سرولوستل؛ دنوی لفظ "رانی" د معلومولو کرښې کول (رانی دجینی نوم دے). ب: درانی دنوم اوحروفو په باب خبرې کول. ج: جملې په اوچت آواز لوستل (یوماشوم یوه جمله)	

پ ا-۴۳، وړپسې درس نمبر اول — ددې "وړپسې درس په باب څه نورې تبصرې

(۱) استاد به دې خبرې ته پوره توجه کوی چې ماشومان دحرف "غ" تلفظ دخولې دشاتنۍ برخې یعنې د ستونې نه اداکړی. دوی ته به موقع ورکول کیږی چې د "غ" تلفظ جدا وکړی اودتلفظ نښه مشق به ئې کوی

پ ا	2-43
پ ا	۲-۴۳

غ غ

ب غ با

اغ غ

ب غ با

باغ

دا راني ده.

دا د راني باغ دی.

راني باغ لري.

هغه له باغ نه راځي.

راني ګل لري.

هغه ګور ته ځي.

باغ - باغ

عنوان:	دکلیدی لفظ «تال» بنودل د سرحرف «ت» دپاره - د زده کړې د اندازې دمعلومولو تست ؛ (نامکمل جملې لوستل خالی ځایونه ډکول)	
	د شاګرد انو / استاد مشغلې	
د درس موخې	۱- دکلیدی لفظ «تال» تصویری کارډ د تصویرمخ ته کښل ؛ د تالونوا و د دوی پۀ باب پخپلو معلوماتو خبرې کول . ۲- پۀ معموله طریقه سره دکلیدی لفظ «تال» اودحرف «ت» بنودل (۱) (کتابی علامه وګورئ .)	دکلیدی لفظ «تال» تصویری کارډ .
د درس عملی برخه	۳- دمشق پانړې دښی اړخ نه کاراخیستل اودحرف «ت» اولفظ «تال» دلیکلو مشق کول . ۴- دمشق پانړې پۀ کښ اړخ کښې جملې د ټول ټولګی پۀ مخکښې لوستل ۵- دلوستلو د ټستې دپاره ځلورمه مشق پانړه استعمالول .	مشق پانړه پ ۴۳-۳ مشق پانړه پ ۴۳-۴
د درس لنډیز او ارزونه	الف : استاد دجملو د مکملولو تشریح کوی . اوله جمله پۀ تخته لیکل . د دغه جملې لوستل ؛ معلومول چې یو لفظ پکښې غیب دے . دورکړے شوو الفاظو پۀ منځ کښې د غیب لفظ پیدا کول . غیب لفظ پۀ خالی ځای کښې لیکل (د ټولو ورکړے شوو الفاظو نه به کار نه اخیستل کیږی) . ب : په چپه سره کارکول ، غیب الفاظ لیکل . ج : جملې مقابله (مقایسه) کول او صحیحو جملو ته دا ښه (✓) ګکول .	

پ ۱-۴۳ ورپسې درس نمبر دویم ددې ورپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(۱) پۀ دې درس کښې به ماشومان د حروفو ټ او ټ د اوازونو او شکلونو پۀ منځ کښې تمیز کوی .

پ ۱ 3-43 / پ ۱ ۴۳-۳	
ت ت	
د ل ا ل تا ا	تال
دا راني ده . هغه له باغ نه راځي . هغه لور لري . دا تال دی . راني تال وینې . هغه تال نه لري .	
تال - تال	

پ ۱ 4-43 / پ ۱ ۴۳-۴	
۱- زرین له ـــ نه راځي . ۲- دا مار ـــ . ۳- نازو کور ته ـــ . ۴- دا ارډ ـــ . ۵- زرین کتاب ـــ . ۶- دا ـــ زرین جال دی . ۷- هغه ـــ کور نه ځي . ۸- بابا سیند ـــ ځي . ۹- هغه له کور ـــ راځي .	نه نه وینې ته له ونه د باغ دی لاس لري ځي ځه ده هغه

عنوان: کورنی ځناور (حیوانات) (۱)

د استاد مشغلی	د شاګردانو مشغلی	درسی معاونات
- د هغه کلیدی الفاظو د تصویری کارډونو وړاندې کول چې ځناور وربانديې جوړ (رسم) شوی دی (د خط خوا) اوغوښتنه کول چې دغه کارډونه دې یوې بل پسې په اوچت آواز په ګډه سره ولوستل شی (۲) - یوماشوم مخې ته راښلل - د غه ماشوم ته وئیل چې دوه تصویری کارډونه خوښ کړه اود بل ماشوم نه وغواړه چې وه ټ لوله. که ټ چیرې ټ دغه ماشوم صحیح ولولی نوهمدغه به دوه کارډونه راخلی اوپه ۶ بل به ټ لولی . - خوخوځله دغه عمل تکرارول	- د ځناورو د کلیدی الفاظو تکرارول - د دغه کارډونو کتل اوپه ۶ اوچت آواز ټ پ ګډه سره لوستل - یوماشوم پخپله خوښه مخې ته راځی ، نورورته کوری - یوماشوم کارډونه خوښوی بل ټ لولی . کله چې ټ صحیح ولوستل نوهمدغه دوه نورکارډونه راخلی اوپه ۶ بل ماشوم ټ لولی . - خوخوځله دغه عمل تکرارول .	د ځناورو د کلیدی الفاظو تصویری کارډونه (۲)
- غوښتنه کول چې مشق پانړه دې وکتل شی . - په ۶ مشق پانړه کښې د حیواناتو او ځیزونو نومول - د دې ځناورو په ۶ منځ کښې د فرق پیدا کول او د دې ځناورو او د هغه الفاظو د کارډونو د حیواناتو په ۶ منځ کښې فرق پیدا کول چې د درس په ۶ سر کښې وښودل شول لکه مار - غوښتنه کول چې د ځناور په ۶ کومو طریقو سره خلکو ته ګټه رسوی (۳) - د دې ځناورو په ۶ باب څه نور تبصره غوښتنه کول - غوښتنه کول چې د یو ځناور په ۶ شان آواز ونه او تک وکړئ . - نورو ماشومانو ته د برخې ورکولو په ۶ خاطر یا تکرارول	۲- د کورنی ځناورو په ۶ باب خبرې اترې - مشق پانړې ته کتل او پکښې د تصویرونو پېژندل - د ځناورو (حیواناتو) او ځیزونو نومونه اخیستل - د دې ځناورو په ۶ منځ کښې د فرق پیدا کول مثلاً: د ناول بنیاد مودپاره څه ګټه لري . - په ۶ دغه طریقو خبرې کوی لکه : پ ، غوښه ، هګۍ ، څرمن ، وړی ، د بارونو وړل ، راوړل ، قلبه کول - د دې حیواناتو په ۶ شان شکل ، لوی والی ، قوت ، خوراکه ، شورا او نور خبرې کول . - په ۶ خوښه سره د یو ځناور آواز اوتک کول - د مخکښې په ۶ شان تکرارول .	مشق پانړه پ ۴۴-۱
- د اولې مشق پانړې د بیا کتلو غوښتنه کول - خالی چوکاټونو (بکسونو) ته د توجه راګرځول ، څه ټ چې کول غواړی دهغې په ۶ پوهولو کښې مرسته کول - د یوې ماشوم نه غوښتل چې د حیواناتو یوې نوم په ۶ تخته ولیکی او نورو ماشومان ټ په ۶ سلیټونو د لیکلو مشق کړی (۴) . - غوښتنه کول چې په ۶ خالی بکسونو کښې په ۶ لیکلو سره مشق پانړه مکمله کړئ . ورته وئیل چې د "اوښ" او غوا الفاظو لوستل او لیکل به بل درس کښې زده کړئ .	۳- کوم حیوانات چې زده کړې شوی دی د هغوی نومونه لیکل - د مشق پانړې بیا کتل - د حیواناتو د تصویرونو لاندې خالی بکسونو ته کتل او ویته لکول چې د ا بکسونه د حیواناتو د نومونو د پاره دی . - په ۶ تخته د نومونو لیکل (یوماشوم یو نوم) نورورته کوری اوپه ۶ سلیټونو ټ لیکی . - مشق پانړه مکمله ول . داوښ او غوا لفظونه پریږدی	مشق پانړه پ ۴۴-۱ توره تخته سلیټونه

درسی پلان نمبر پ ۱- ۴۴	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوړې تبصرې :

۱- پۀ دې سبق کښې به ماشومان پۀ هغو ځناورو خبرې کوی چې ددوی پۀ کورونو کښې دی اوددوی ضرورتونه ورپوره کوی . همدارنګه به ماشومان ددغه کورنۍ ځناوروا وځنګلی ځناوروپۀ منځ کښې فرق کوی . ددې درسی پلان پۀ تعاقبی درس نمبراول کښې به دوه کلیدی الفاظ (غوا او اوښ) وښودل شی .

۲- کوم تصویری کارډونه چې ماشومانو زده کړی دی د همغونه به استاد دالفاظو تصویری کارډونه خوښوی اوهغه دادی : اس - خر - کډ - زمرۍ - پیشو - چرګ - چرګه - مچ - ملخ - لړم - مار

۳- ډېرماشومان به ددې ځناورو پۀ باب کافی معلومات لری . معلّم ته دډېرو خبرو ضرورت نشته خود بحث لارښودنه به کوی . پۀ بحث کښې به یواځې یوپاډو ماشومانو ته برخه نۀ ورکوی بلکې ډېروما شومانو ته به برخه ورکوی . استاد به خپل یقین پۀ دې خبره بنۀ خلاصوی چې د ځناورو پۀ کټوروترتب پوره خبرې وشوې .

۴- دډېرو ماشومانو دپاره دایو سخت کاردے چې پۀ تورو تختو صفا ستروا وپۀ غټ خط سره الفاظ ولیکی . پۀ دې صورت کښې به استاد د ماشومانو د کار تعریف کوی اویوځل به بیا پخپله پۀ تورو تختو لیکی چې بیا ماشومان دهغې نه نقل وکړی .



عنوان: دلفظ پۀ آخر کښې د حرف ـ م ـ د پاره د کلیدی لفظ لړم ـ ښودنه

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معارنات
	۱- دلړم اودهغۀ نه د خطرۍ پۀ باب خبرې کول	
ـ د کلیدی لفظ ـ لړم ـ تصویری کارډ ښودل (۱،	ـ د کلیدی لفظ تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل، د لړم پېژندنه او نوم یې اخیستل.	د کلیدی لفظ لړم ـ تصویری کارډ
ـ څۀ چې وینی پۀ تفصیل سره د هغې د تشریح غوښتنه کول ؛ د صحیح لفظ پۀ پیدا کولو کښې مرسته کول (۲،	ـ دلړم مختلفې برخې تشریح کول او نومونه یې اخیستل	
ـ د لړمانو پۀ باب د یو بحث لاړښودنه کول (نور تفصیلات ورسره یوځای کول)	ـ څۀ چې د لړمانو پۀ باب د ځینې نورو نه پېژندنې هغه وخت اوداستاد زیاتې تفصیلاتو ته غوږ نیول (د لړمانو د قسمونو ، رنګونو ، لوئ والی ، ورکوتی والی ، د خطرو اودهغې نه د ځان ساتلو پۀ باب)	
ـ د لړمانو د اوسېدلو د ځایونو پۀ باب د خبرو کولو غوښتنه .	ـ د لړمانو د پتېدلو پۀ ځایونو بحث کول .	
ـ د طالب علمانو نه خواست کول چې د لړم د چیچلو نه د ځان بچ کولو د چل عملی مظاهره وکړی . (۳، مدد کول .	ـ داسې عمل / مظاهره کوی ، د لړم د اوسېدلو ځایونو لټون او څارنه . کټ کښې د څملاستلو نه مخکښې څۀ کول ، د راپاڅېدلو نه روسته څۀ کول پۀ کار دی.	
	۲- د حرف ـ م ـ د شکل او آواز زده کول - لفظ لړم زده کول	
ـ د کلیدی لفظ پۀ تصویری کارډ باندې لفظ ـ لړم ـ ته اشاره کول ، پۀ وضاحت سره د لفظ ـ لړم ـ تلفظ کول . د ـ م ـ پۀ آواز نرورا چول .	ـ د لفظ ـ لړم ـ تکرارول او د حرف ـ م ـ پۀ آواز زورا چول .	د کلیدی لفظ لړم ـ تصویری کارډ
ـ د لفظ سرې برخې (۴، ته اشاره کول او غوښتنه کول چې د غه حرف دې د واولز (آواز لرونکی) حرف نه پۀ غیر تلفظ کړے شی ، مرسته کول .	ـ د لفظ سرې برخې ته کتل او خوځولې د ـ م ـ د آواز تلفظ د واولز (آواز لرونکی) توری نه پۀ غیر کول (یو یو تن ځانله ځانله اویا پۀ ګډه سره)	
ـ د ماشومانو نه غوښتنه چې پۀ لفظ کښې نور حروف معلوم کړی د حروفو ـ ر ـ او ـ ل ـ پۀ شکلونو او آوازونو کښې فرق تشریح کړی.	ـ د نورو حروفو معلومول او نومونه یې اخیستل. ل . او ر . خو د دې خیال به ساتل کېږی چې دا ـ ر ـ د هغه ـ ر ـ سره فرق لرې کومه چې دوئ مخکښې زده کړې ده .	
ـ حرف پۀ حرف لفظ ـ لړم ـ ته اشاره کول او په ماشومانو نې لوستل .	ـ د غه لفظ ځانله ځانله اویا ګډه پۀ یوۀ آواز لوستل	
	۳- د لفظ ـ لړم ـ او حرف ـ م ـ د لوستلو مشق کول (او لیکلو)	
ـ د ماشومانو نه غوښتنه چې مشق پانړې ته وګوری	ـ مشق پانړې ته کتل او د ـ لړم ـ تصویر او لیکلے شوے لفظ پېژندل .	مشق پانړه پ ۱-۳۳-۱ توره تخته
ـ خوځولې د ـ م ـ د لیکلو عملی مظاهره کول (۴،	ـ ورته کتل چې استاد ـ م ـ څنګه لیکی ، پۀ هوا کښې د ګوتې پۀ ذریعه ـ م ـ جوړول ، خوځنه یې پۀ تخته لیکی ، نور ورته ګوری ، پۀ مشق پانړه کښې د ـ م ـ پۀ لیکلو کرښه پوره کول	
ـ پۀ مشق پانړه د کارکولو د طریقې تشریح کول او رهنمائی کول .	ـ داسې کار کول :	
ماشومانو ته وئیل چې یو اندی وال (مل ، کومک کولے شی، د ضرورت پۀ وخت کښې مرسته کول.	۰ د لفظ ـ لړم پۀ کرښو پنسل ګرځول ۰ د لفظ ـ لړم ـ لیکل پۀ تیاره شوې کرښه باندې ۰ د لفظ ـ لړم ـ ټول نیمګړی الفاظ مکمل کول ۰ پۀ سلیټونو باندې د حرف ـ م ـ او لفظ ـ لړم ـ لیکل (۵	سلیټونه

عنوان: دکلیدی لفظ ،غوا ، بنودل د حرف ،غ ، دپاره اودکلیدی لفظ ،اوښ ، بنودل د حرف ، بن ، دپاره	
د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د هغه ځناورو دنومونو اوخاصیتونو بیابیا یادونه کول چې په ټپر درس کښې ورباندې خبرې شوې دی . (۱)	
۲- د کلیدی لفظ ،غوا ، تصویری کارډ نه کاراخیستل : الف : د تصویر پېژندنه کول اونوم لپاره اخیستل . ب : د معلومو حروفو لکه (ا ، ـ و) په مرسته د دغه لفظ لوستل . ج : په شکل اوآواز کښې د سرې د حرف زوراچول اوجدا ویل لپاره (۲) د : استاد په تخته دغوا لفظ لیکی اوشاگردان پې په هوا کښې په کرته لیکی .	دغوا تصویری کارډ
۳- دکلیدی لفظ ،اوښ ، زده کول په همدغه شان طریقه سره . (۳)	
۴- د وینمی مشق پانړې ته کتل . الف : د ،غوا ، او ،اوښ ، د تصویرونو پېژندنه کول ب : د الفاظو ،غوا ، او ،اوښ ، لوستل . ج : څرخ ځله په الفاظو ،غوا ، او ،اوښ ، پنسل ګرځول . د : د سرې کرښه حرف ،بن ، لیکل . هـ : په نیمګړو الفاظو ،غوا ، او ،اوښ ، کښې ورک ، غیب ، حروف لیکل . و : د الفاظو ،غوا ، او ،اوښ ، په لیکلو سره د مشق پانړې آخری کرښه ډکول .	دکلیدی لفظ ،اوښ ، تصویری کارډ مشق پانړه پ۲-۴۲
۵- په اوله مشق پانړه کښې د ،غوا ، او ،اوښ ، د تصویرونو لاندې بکسونو کښې د ،غوا ، او ،اوښ ، الفاظ لیکل .	مشق پانړه پ۱-۴۴

پ ۱-۴۴ ، وړپسې درس نمبر اول ددې ، وړپسې درس په باب څه نوری تبصرې

(۱) د څیزونو د را په زړه کولو دپاره تکرار یو مهم مشق دے . همدارنګه تکرار ددې دپاره هم ډېر کټور دے چې هغه ماشومان هم په سبق کښې برخه واخلی چې یا کمزوری وی اویا بې زړه وی .

(۲) ماشومانو حرف ،غ ، د لفظ په آخر کښې زده کړے دے . اوس به دوی په دې خبره زیات بنه پوهیزی چې د لفظ په سر کښې ،غ ، د مکمل اوځانله ،غ ، سره فرق لری لکه په الفاظو (،باغ ، او ،غوا ،) کښې .

(۳) د ،اوښ ، دکلیدی لفظ د بنودلو په وخت کښې به استاد داخبره په خیال کښې ساتی چې حرف ، بن ، د لومړی ځل دپاره بنودل کیږی او د لفظ د سر د حرف په حیث نه دے بنودل شوے .



اوښ - غوا - اوښ - غوا

عنوان: دورکړشوو کلیدی الفاظو اخری حرفونه پېژندل . هغسې کلیدی الفاظ پیدا کول چې همدغه د اخر حروف ټ پۀ سرکښې راځی . (۱)		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس ګام: ۱- د درس اهداف	۱- استاد پۀ مشق پانړو دکار کولو دچل عملی مظاهرو کوی اوځومره چې کیدے شی ماشومان پۀ کار برخت ساتی : الف : استاد دکلیدی لفظ ،چاقو، تصویری کارډ ښیۍ. اول د چاقو نوم اخیستل بیا "چاقو" لفظ لیکل پۀ تخته باندې . ب : ماشومان د دغه لفظ د اخری حرف نوم پیدا کوی . ج : ماشومان هغه الفاظ پیدا کوی چې پۀ سرکښې ټ همدغه حرف راشی . د : استاد ټی پۀ تورو تخته د اسې لیکی :	مشق پانړه پ ۴۴-۳ دکلیدی لفظ چاقو تصویری کارډ تورو تخته
	چاقو | ونه | و .	
د درس ورځپاڼی ۴۴-۱ پ	هر : همدغه طریقه کار پۀ لفظ . سیند . سره تکرارول ۲- د مشق پانړې مطالعه کول . پوښتنې کول او پوښتنوته جوابونه ورکول ، څۀ چې کېدل غواړی پۀ هغې ځان پوهول ۳- هرماشوم د خپل ځان سره پۀ چپه کارکوی. د استاد مرسته کول دی . ۴- پۀ ټول ټولګی کښې دکار مقابله (مقایسه) کول . د ماشومانو نه غوښتنه کول چې پۀ صحیح جوابونو د ټک (س) ښه وکړۍ .	مشق پانړه پ ۴۴-۳

پ ۱-۴۴ ، ورپسې درس نمبر دویم د د چا ، ورپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(۱) دریمه مشق پانړه د اطلب لرې چه د ماشومانو د لیاقت اندازه ولګوی . د دې وجهې نه به ماشومان پۀ خپل قوت او قابلیت تکیه او کارکوی او پۀ دې طریقه به استاد ته د ماشومانو د زده کړې او قابلیت اندازه ښۀ ولګی . هغه ټول الفاظ چې د هغوی لیکل د ماشومانو پۀ غاړه دی پۀ دې مشق پانړه کښې دی .

څنګل بابا ګل جارو چرګه لاس تله	پ۱ 3-44 پ۱ ۳-۴۴				
تربنځ - څنګل	څ		چرګ -		
بس -	س		لرم -		
لور -			مچ -		
جال -			ستن -		
تاج -			چاینک -		
توت -			کتاب -		
نال - مار - سترګه - رسی - کټ					

پښتو اول ټولګی پ ۱- ۴۵	عنوان، دالفاظو (یې ....کښې) بدلول	

دا ستاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
۱- دا سې پوښتنې کول چې الفاظ (یې ....کښې) ئې یې ځواب کښې راشي (۱) مثلاً : o ته ئې چرته ئې ؟ o ستا وړوکی ورور چرته دی ؟ - د توري تختې یې منځ کښې د یوکور جوړول پرسول - ددغه کوریې باب یوه وړه قصه وئیل او پوښتنه کول چې یې کورکښې به څه وی (۱) (۲) جواب به ترهغه وخته پورې یې ، نه ، سره وی تر کومې پورې چې صحیح ځیز نه وی معلوم شوی. کوم چې استاد یې نظر کښې نیولے اوما شومان ئې قیاس نشي کولے	۱- د جار توری (الفاظ) یې کښې استعمالول - یو یو ماشوم یې مکمل جمله کښې جواب وائی . (زبانی طور) o زه په سکول کښې یم . o هغه په کور کښې دی . - مشاهده کول او ددغه کور پېژندل - غوږ نیول ، قیاس کول چې یې کورکښې به څه وی . پوښتنې یې مکمل جمله کښې وئیل لکه : o میز یې کورکښې دے ؟ o کت یې کورکښې دے ؟ او داسې نور .	تور تخته
- یې تور تخته د (یې ...کښې) الفاظ داسې لیکل چې کورلئ په منځ کښې راشی لکه داسې یې کښې - د ماشومانو نه غوښتنه کول چې دغه الفاظ معلوم کړی ، د ضرورت یې اندازه مرسته کول ، تشریح ورکول چې حرف ، ښ ، یې لفظ ، کښې ، کښې نه ئې تلفظ کیږی (۳) - غوښتنه کول چې الفاظ (یې ...کښې) یې هوا کښې ډکوتو یې ذریعه ولیکی - مشق پانړې ته ډکتلر غوښتنه کول - غوښتنه کول چې د (یې ...کښې الفاظو دې پنسل ګرځول شی .	۲- دلفظونو (یې ....کښې) زده کول . - مشاهده کول - د معلومو حروفو یې واسطه سره د دغه الفاظو اوازونو د معلومولو کوشش کول ، د دغه الفاظو لوستل ، دا معلومات حاصلول چې د حرف ، ښ ، تلفظ یې لفظ ، کښې ، کښې نه ئې اوربدل کیږی - د غوښتنې سره سم عمل کول - مشق پانړه مطالعه کول او د تختې د صورت حال یې شان صورت پکښې پېژندل - یې د دغه الفاظو څخه څخه له پنسل ګرځول .	تور تخته مشق پانړه پ ۴۵-۱
- غوښتنه کول چې د دانډی والا نو سره د تصویرونو لاندې جملې ولولئ ، او کوم الفاظ چې غیب دی هغوی دې یې خپل خپل ځای کښې ولیکی . - غوښتنه کول چې جملې د ټول ټولګی یې مخکښې ولولئ . (۴)	۳- جملې لوستل . د خالی ځایونو ډکول - دا ډیوال سره د جملو لوستل ، هر یو تش ځایونه ډکوی ، دا ډی وال سره د خپل کار مقابله کول - یو یو ماشوم د ټول ټولګی یې مخکښې جملې ولولی (یو ماشوم یوه جمله) ، نور ماشومان ئې یې مشق پانړه کښې د جملو یې الفاظو ګوته ګرځوی .	مشق پانړه پ ۴۵-۱

درسی پلان نمبر پ۱- ۴۵	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوړې تبصرې :

۱- استاد به خپل پام دې خبرې ته راګرځوی چې پۀ ماشومانو دا سې جملې چې الفاظ (پۀ ...کښې) ولری مکمل ووائی . کۀ چیرې د مکملې جملې پۀ ځای یولفظ ووائی نو دغه مشق به لږ او ډیر ګټې وی. دَ ماشومانو حوصله افزائی به د ددې دپاره کیږی چې پۀ مکمل مکمل جملو کښې خبرې وکړی . دا کار به د ماشومانو د ژبې پۀ ودې کښې مرسته وکړی .

۲- استاد به د ددې کوړې پۀ باب یوه وړه قصه جوړوی . پۀ قصه کښې به داخبره کیږی چې دا کور پۀ غیر دیوشی نه نور بالکل خالی دے هیڅ شے پکښې نشته ، ماشومان به د دغه یوشی قیاس کوی چې دا به څۀ وی . دوی نه د دا سې پوښتنو کول پۀ کاردی لکه : پۀ کورکښې یومیږدی؟ (۱) استاد به پۀ خپل خیال کښې یوا سې شے نیسی چې ماشومان د هغې قیاس پۀ اسانۍ سره نۀ شی کولے . کله چې استاد قناعت بښۀ حاصل شی چې ماشومانو کافی سوالونه وکړل نو دغه څیز به بیا پخپله استاد پۀ واکه کوی اوپۀ دې سره به لوبه ختمیږی .

۳- حرف ښ، معمولاً پۀ لفظ "کښې" کښې نۀ تلفظ کیږی پۀ غیر دځینو علاقونه . استاد به د دغسې علاقو د ماشومانو خیال ساتی. کۀ چیرې یو ماشوم د دغه علاقې پیدا شی نو استاد به د د غه لفظ پۀ تلفظ کښې د فرق تشریح کوی

۴- د ټول ټولګی پۀ مخکښې د یو ټیکسټ (متن) د لوستلو پۀ وخت کښې به استاد دا خبره بښۀ یقینی کوی چې ټول ماشومان د لوستلو سره سم روان دی نه یواځې هغه ماشوم چې پۀ اوچت آواز پۀ لوستلو لګیا دے . دا مطلب هغه وخت بښۀ حاصلیدے شی چې کوم ماشوم یولفظ پۀ زوره ووائی نو نور ماشومان به پۀ همغه لفظ ګډوډ کړی اوپۀ خاموشۍ سره به ګوری لولی .

نوری تبصرې

(۱) په هرسوال کښې الفاظ "پۀ کور کښې" به استعمالیږی .

پ۱	۱-۴۵
پ۱	۱-۴۵



په کښې

جارو په کور کښې ده .

چاینک په کور کښې دی .

پیشو په کور کښې ده .

شمع ☐ کور کښې ده .

چرګ ☐ کور ☐ نه دی .

چرګه ☐ کور ☐ نه ده .

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

عنوان: د الفاظو (پۀ ...کښې) داستعمال بیا تکرارول، د کلیدی لفظ "بنځه" بنودل د سر حرف "بښ" د پاره.

دشاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د الفاظو (پۀ ...کښې) داستعمال تکرارول : الف : د پۀ ...کښې الفاظ پۀ تړه تخته لیکل د استاد له طرفه ، د ماشومانونه غوښتنه کول چې پۀ ټولګی کښې چار چاپیره وګوری او جملې جوړې کړی لکه : "کتاب پۀ بسته کښې دے" ، "استاد پۀ ټولګی کښې دے" . ب : پۀ تړه تخته د درې یا څلورو جملو لیکل ، د استاد له طرفه مثلاً د اسې جملې : "کتاب پۀ لاس کښې دے" .	تړه تخته تړه تخته
۲- دکلیدی لفظ "بنځه" بنودل دکتابی علامې مطابق (۱)	دکلیدی لفظ "بنځه" تصویری کارډ .
۳- دمشق پانړې نه کارا خیستل . الف : دمشق پانړې پۀ منځ کښې لیکلے شوے لفظ "بنځه" پیژندل اودد غه صورت حالونو پیژندل . ب : د صورت حال بیانول او څرګوئله دهغې متعلقه فقرې (جملې) لوستل . ج : د اندیوال سره پۀ خامو څی کار کول . پۀ لفظ "بنځه" څرګوئله پنسل کرګول ، د لفظ "بنځه" کرښه مکمل ، اندی وال ته جملې لوستل . یوه یا دوه جملې سلیټونو نه نقلول .	مشق پانړه پ۱-۴۵-۲ سلیټونه

پ ا-۴۵ ، وړپسې درس نمبر اول ددې د "وړپسې درس" پۀ باب څه نورې تبصرې

(۱) را پۀ زړه کړه چې د حرف "بښ" مکمل شکل پۀ لفظ "اوښ" کښې مخکښې بنودل شوے دے .



عنوان: د کلیدی لفظ ، بوټ ، بنوډل د آخر حرف ، ټ ، دپاره ؛ الفاظ پۀ یوۀ داسې ترتیب ایښودل چې معنی لرونکې جملې جوړې شی .		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس پیل	۱- د لفظ بنځې تکرارول :	
	الف : د کلیدی لفظ کارډ د خط مخ بنوډل د استاد لۀ طرفه ؛ دهغې لوستل د شاګردانو له خوا	د کلیدی لفظ ، بنځه ، کارډ .
	ب : د دغه لفظ لیکل پۀ تخته باندې د استاد لۀ طرفه ، شاګردان د دغه لفظ د حروفو نوم اخلی . ج : شاګردان پۀ دوئمه مشق پانړه جملې لولی .	تره تخته
	۲- د کتابی علایمو مطابق د لفظ ، بوټ ، بنوډل .	مشق پانړه پ۱ ۴۵-۲
	۳- پۀ دریمه مشق پانړه کښې د لفظ ، بوټ ، د لوستلو اویکلو مشق کول ؛	د کلیدی لفظ ، بوټ ، کارډ .
	الف : د مشق پانړې مطالعه کول ، د لوئ لیکلے شوی لفظ ، بوټ ، پېژندنه کول او همدارنګه د ، بوټ ، د نامکمل الفاظو پېژندل . ب : پۀ چپه سره کارکول . پۀ لوئ لیکلے شوی لفظ ، بوټ ، باندې خوځلۀ پنسل ګرځول . د ، بوټ ، نامکمله الفاظ مکملول ؛ د بوټ پۀ لیکلو سره کرښه پوره کول ؛ بیا د ټولو ټرلنګی ته جملې لوستل	مشق پانړه پ۱ ۴۵-۳
	۴- الفاظ پۀ داسې ترتیب ایښودل چې جملې جوړې شی :	
	الف : خلورمه مشق پانړه مطالعه کول . دغه دوه صورت حالونه پېژندل .	مشق پانړه پ۱ ۴۵-۴
	ب : د پاسنی قطار الفاظ لوستل ، پته لګول چې دا الفاظ سره کډوو د کوکۀ ویاندې روستوشی نو جمله پۀ لاس راځی ؛ دالفاظو ایښودل پۀ خاص ترتیب سره . د دغه جملې لوستل اویکل ځې . ج : همدغه عمل پۀ نورو درې کډوو جملو سره کول .	
	(د تختې پر دیوال سره یوځای کارکول)	
	د : صحیح کړې شوې جملې (فقرې) ټولې ټرلنګی ته لوستل	





پښتو اول ټولګی پ۱ - ۴۶	عنوان، د زده کړې چک کول د تصویرونو سره د جملو د ارتباط ورکولو په ذریعه (۱)	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- په تصویرونو ځان پوهول؛ په هغوی خبرې کول	
- د مشق پاڼې دکتلو غوښتنه کول	- مشق پاڼه مطالعه کول؛ په هغې کښې څلور واړه تصویرونه پېژندل او دغه مختلفو صورت حالونو باندې ځان پوهول.	مشق پاڼه پ۱-۴۶-۱
- په دغه مختلفو تصویرونو کښې چې څه ویني د هغې د بیانولو غوښتنه کول. د تصویرونو په باب د خبرو کولو لار ښودنه کول (په یو یو تصویر وار په وار)	- د هر صورت حال بیانول، د څیزونو نومونه اخیستل، څه چې پېښېږي د هغې تشریح کول. د پرو ماشومانو برخه اخیستل.	
	۲- د جملولوستل او ځان پرې پوهول	
- په مشق پاڼه کښې د کارکولو په طریقه باندې د پوهېدلو د پاره د ماشومانو لار ښودنه کول: ○ د اولې فقرې (جملې) د لوستلو غوښتنه کول ○ پوښتنه کول چې ښځه د چرګې سره چرته ده ○ پوښتنه کول چې د دې تصویر غبرګه څه دے ○ د ماشومانو نه غوښتنه کول چې نمبر ۳. د جملې مخامخ بکسه (چوکاټ) کښې ولیکي. - د ماشومانو نه غوښتنه کول چې اندې والان د پنځمې منځ کښې کار وکړي، ټولې جملې دې ولولي او په خالي بکسونو کښې دې د تصویر صحیح نمبر ولیکي. - غوښتنه کول چې نتیجې دې په ټول ټولګي کښې - مقابله شي.	- غږ نیول او په بیانونو کښې برخه اخیستل. ○ جمله اول په چپه سره لوستل او بیا په اوچت آواز ○ پته لګول چې دا جمله د کوم سره په تصویر پورې تعلق لري. ○ پته لګول چې دا نمبر درېم تصویر دے. ○ د جملې مخامخ خالي بکسه کښې د شمېرې ۳، لیکل. - غږ نیول، په چپه سره د اندې والا نو یو ځای کار کول؛ د جملو لوستل؛ د مناسب تصویر مطابق - هغوی ته نمبر ورکول. - یو ماشوم یوه جمله په زوره وائي او نمبر ئې هم ورسره وائي؛ نور ورته غږ نیسي او مقابله کوي ئې ورسره.	
	۳- د لوستلو مشق	
- ټول ټولګي ته د هغو جملو لوستل چې نمبر ئې یوشے وي او د دې معنی لري چې دا درې واړه جملې د ایکې یو تصویر متعلق دی.	- د هغو جملو پیدا کول چې نمبر ئې یوشے دے. یو ماشوم دغه درې جملې ولولي، نور ورته غږ نیسي او مقابله کوي ئې، د غوښتنې سره سم خپل وار تیروي. (۲)	

درسی پلان نمبر: پ۱- ۴۶	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- ماشومانو د لوستلو د اسې مشق مخکښې کله نۀ دے کړے . د دې دول مشق پۀ اهمیت به استاد قانع وی . د دې دول کار یا مشق د پاره به ماشومانو ته کافی وخت ورکول کېږی او بیا ځې هغه وخت به ورسره مرسته کېږی چې د مشکلاتو سره مخامخ شی . کۀ چېرې ماشومان پخپله دا کار پۀ کامیابۍ سره سرته ورسوی نو پۀ ځان به ئې ډېر باور او اعتبار پیدا شی .

۲- خوښته ماشومان دفتر و دغه کروپ چې د یو تصویر په باب دې د تول ټولګی پۀ مخکښې لولی او دهغې نه روسته به بیا د جملو بل کروپ ته ځی . بیا به هغه ماشومانو ته د لوستلو موقع ورکول کېږی چې پۀ لوستلو کښې مشکلات لری . کله چې دا ماشومان یوشانته جملې خوځله واوری نو پۀ ځان به ئې ډېر اعتماد (باور) پیدا شی .



	بنځه چرګه لري .		دا د بابا یوپ ده .
	بابا امسا لري .		پیشو په کور کښې ده .
	بابا په کټ کښې دی .		زرین له بس نه راځي .
	زرین ځنګل ته ځي .		نازو چاینګ لري .
	هغه رسۍ په لاس کښې لري .		نازو شمع لري .
	بنځه په بس کښې ده .		دا د زرین خر دی .

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

پ ۱-۴۶- وړې درس نمبر اول

عنوان: د ځینو کلیدی الفاظو تکرارول. د قلم کلیدی لفظ بنودل د حرف «ق» د پاره د لفظ پۀ سرکښې.	
د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- الف: پۀ توره تخته د یو حرف لیکل د معلم پۀ ذریعه؛ پوښتنه کول چې کوم کلیدی لفظ پۀ دې حرف شروع کیږی. ب: یو ماشوم د غه کلیدی لفظ پۀ توره تخته لیکی. ج: د د غه لفظ لوستل. د: لږ تر لږه پۀ اته یا لس حروفو سره د د غه مشق تکرارول، همدا رنګه پۀ نورو کلیدی الفاظو سره هم د مشق تکرارول.	توره تخته د کلیدی لفظ قلم تصویری کارډ
۲- د کتابی علامې مطابق د کلیدی لفظ «قلم» بنودل.	
۳- د مشق پاڼې نه کار اخیستل: الف: د غټ لیکلې شوی لفظ قلم، پیژندل اولوستل. ب: خو خوځله د قلم، پۀ لفظ پینسل کرځول. ج: د قلم، نامکمل الفاظ مکمل. د: د «ق» او «لم» پۀ لیکلو سره کرښې مکمل. هـ: د جملو لوستل (اول دوه - دوه کسه خپل منځ کښې اوبیا پۀ ټول ټولګی کښې).	مشق پاڼه پ ۱-۴۶-۲

ق ق ق	پ ۱	2-46
	پ ۱	۲-۴۶

قلـ لـم

لـ



قلم

لـم

لـ قلـ

دا قلم دی.	قلم - قلم
نازو قلم لري.	
زرین قلم لري.	
د نازو قلم په کور کښې دی.	
د زرین قلم په لاس کښې دی.	
بابا قلم نه لري.	

پاڼه ۱-۴۶- وړیځی درس نمبر ۳	عنوان: د ځینی کلیدی الفاظو تکرارول، د کلیدی لفظ «خط» بنودل د حرف «ط» د پاڼه د لفظ پۀ آخر کښې	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
	۱- یو څو کلیدی الفاظ خوښول اود هغوی تکرارول: الف: یو پۀ بل پسې د کلیدی الفاظو د تصویری کارډونو د تصویر مخونه لوستل. ب: د کلیدی الفاظو د کارډونو د خط خوا لوستل. ج: دا سې جملې وئیل چې د دې کلیدی الفاظونه پکښې یو لفظ استعمال شوے وی. ۲- د کلیدی لفظ «خط» بنودل د کتابی علامې مطابق ۳- مشق پاڼه استعمالول: الف: د غټ لیکلے شوی لفظ پېژندل او لوستل ئې. ب: څوځله پۀ لفظ «خط» باندې د پنسل ګرځول. ج: د «خط» نامکمل الفاظ مکمل د: کرښې د «خط» او «ط» پۀ لیکلوسره مکمل. ه: د دغه جملو لوستل (اول دوه دوه کسه پخپل منځ کښې او بیا ټول ټولګی ته)	د څو کلیدی الفاظو کارډونه چې شمار ئې دا تونه تر لسو پورې وی د کلیدی لفظ «خط» تصویری کارډ مشق پاڼه پا۱-۴۶-۳

ط ط ط	پ۱ 3-46 پ۱ ۳-۴۶
خ ط خ ط خط خ ط خ	نازو خط لري. زرین راځي. هغه خط وېښي. بابا راشه. دا خط دی.
خط خط	

درسی پلان نمبر۱- ۳۳	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- د لړم پۀ لاس کښې را نیول یو خطرناک کار دے . له دې وجهې نه به استاد د کلیدی لفظ " لړم " د تصویر د مغ نه کار اخلی . خوکۀ چېرې یو مړلړم چیرته پیدا شی او وۅښودل شی نو اعتراض نشته .

۲- استاد به د ماشومانو حوصله افزائی کوی چې د لړم تشریح پۀ خپلو الفاظو سره وکړی ، خود ماشومانو سره به د لړم د مختلفو برخو پۀ صحیح تشریح کښې مرسته کوی . (پښې ، لکۍ ، بدن ، لشه ، پنجه)

۳- کله چې د لړمانو د اوسېدلو پۀ ځای خبرې وشوې او پۀ دې باب چې پۀ کټ کښې د څملاستلو نه مخکښې اوسهار د راپاڅېدلو نه روسته څۀ کول پۀ کاردی نو دهغې نه روسته به ځینې ماشومان د خپلو خبرو انټرو مطابق عمل کوی : د برېښنې څنډول ، بوټان څنډول (ټک وهل) ، د ځینو کمپوالاندې کتل او نورداسې .

۴- استاد به پۀ مزه مزه پۀ تخته " م " لیکی او تشریح به ئې کوی چې د " م " لیکل دکوم ځای نه شروع کیږی

۵- کومو ماشومانو چې خپل کار پۀ مشق پاڼه زر خلاص کړے وی هغوئ دې " م " او لفظ لړم پۀ خپلو سلیټونو ولیکی .

پ۱	1-33
پ۱	۱-۳۳

لړم
لړم

م م

م م م

لړ لړ لړ

م م م

لړ لړ لړ

م م م

لړم

پښتو اول ټولګی	عنوان: د لفظ "یو" او لفظ "یوه" ښودل ("یو" د مذکر او "یوه" د مؤنث د پاره)
پ ۱ - ۴۷	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- "یو" او "یوه" په زباني طور استعمالول	
- داسې پوښتنې کول چې د هغې په جواب کښې د الفاظو "یو" او "یوه" استعمال راشي. مثلاً: ته څو پوزې لرې؟ په ټولګي کښې څومېزونه دي؟ او داسې نور. (۱)	- د دغسې پوښتنو ځواب ورکول.	
- ځینې څیزونه لکه یوه اره، یوه امسا، یو قلم، یو کتاب په توره تخته رسمول (جوړول).	- مشاهده کول او د دغه څلورو مختلفو څیزونو پېژندل.	توره تخته
- پوښتنه کول چې د کوم یو څیز سره "یو" راځي.	- فیصله کول او جواب ورکول، د جملو نه کار اخیستل	
- پوښتنه کول چې د کوم یو څیز سره "یوه" راځي	- فیصله کول او جواب ورکول، د جملو نه کار اخیستل	
	۲- د الفاظو "یو" او "یوه" نږدې کول په خط کښې	
- د دغه دوه الفاظو کارونه ښودل او غوښتنه کول چې د دې دواړو په شکل کښې فرق پیدا کړئ.	- د دغه الفاظو کارونو ته کتل؛ د لوستلو کوشش ئې کول؛ د دوی په منځ کښې فرق پیدا کول او پته لګول چې کوم "یو" دے او کوم "یوه" ده.	د الفاظو کارونه "یو" - "یوه"
- غوښتنه کول چې د حروفو نومونه واخلئ.	- د حروفو نومونه اخیستل.	
- غوښتنه کول چې په توره تخته باندې د الفاظو د دغه کارونه د خپل مناسب څیز په خوا کښې ولکوئ	- د الفاظو کارونه په توره تخته باندې د خپل مناسب څیز په خوا کښې لکول.	توره تخته
- غوښتنه کول چې داعمل همدغسې جاري وساتي؛ کارونه په کمره کښې د خپل مناسب څیز په خوا کښې ولکوئ او مناسبه جمله ئې وائي (۲)	- د الفاظو کارونه را اخیستل (یوماشوم په یو وخت کښې) او د یو څیز سره ئې اېښودل او جمله جوړول لکه: "دا یو میز دے"؛ "دا یوه اره ده"	د الفاظو کارونه؛ په کمره کښې څیزونه
- د الفاظو "یو" او "یوه" په مزه مزه په توره تخته لیکل.	- ورته ګوري چې د دغه الفاظ څنګه لیکل کېږي.	
- غوښتنه کول چې د دغه الفاظ په هوا کښې په ګوته ولیکئ.	- په ګوته سره په هوا کښې د دغه الفاظ لیکل.	
	۳- د الفاظو "یو" او "یوه" د لیکلو او لوستلو مشق کول	
- د مشق پاڼې مطالعې غوښتنه.	- د مشق پاڼې مطالعه کول؛ د تصویرونو پېژندل د دغه مختلفو الفاظو "یو"، "یوه" او جلا پېژندنه	مشق پاڼه پ ۱-۴۷-۱
- غوښتنه کول چې په یکسونو کښې الفاظ ولولئ	- د الفاظو "یو" او "یوه" لوستل.	
- غوښتنه کول چې د دې الفاظو په کرښو خوخوځله پنسل وکړئ.	- په دې الفاظو خوځله پنسل کړئ.	
- بحث کول او پوښتنه کول چې د کوم تصویر سره "یو" او د کوم سره "یوه" راځي.	- بحث کول او فیصله کول چې کوم تصویر د "یو" او کوم د "یوه" سره راځي.	
- غوښتنه کول چې دوه دوه کسه کار وکړئ؛ د تصویرونو او الفاظو په صحیحه خوا کښې د "یو" یا "یوه" لیکل. د الفاظو لیکلو ته ځای پرېښودل شوے دے.	- په خاموشه ډول کار کول؛ مناسب الفاظ لیکل	
- په یو یو تن د ټولګي په مخکښې لوستل.	- یو یو تن ئې لولي؛ نور غوږ نیسي؛ که ضرورت وو اصلاح کوي	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې په آخر کښې جملې ولولئ.	- د مشق پاڼې په آخر کښې جملې لوستل: الف: په خاموشۍ سره - ب: ټولګي ته.	

درسی پلان نمبر: پ۱-۴۷.	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- کله چې الفاظ "یو" او "یوه" په جملو کښې (راتلو) نږدې غیر معین اړیکلونو (خیزونو) معنی لري. له دې وجې نه استاد به د ماشومانو پاملرنه پۀ دې کښې کړي چې جواب په مکمل جملو کښې ووائي.

۲- استاد به د دې خبرې ښۀ خیال ساتي چې ماشومان په مکمل فقرو کښې جواب ووائي او پۀ مکمل جملو کښې خبرې وکړي. د ضرورت پۀ وخت کښې به اصلاح کوي یا به ماشوم خپل مثال تکرار وي

پ۱	۱-۴۷
پ۱	۱-۴۷

یو - یوه





یو - یوه

چرګ ــــ	ــــ چرګه
خر ــــ	ــــ لرم
بنځه ــــ	ــــ مچ
بس ــــ	ــــ اره

دا یو اوښ دی - دا یوه هګۍ ده - دا یو اس دی - دا یوه ستن ده
دا یوه جاروده - دا یو زمری دی - دا یو مار دی

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړښې درسونو خاکې

پ ۱ - ۴۷ - درښې درس نمبر اول

عنوان: د ـیو ـ او ـیوه ـ تکرارکول؛ دکلیدی لفظ «زانګو» بنودل د سرد حرف «ز» د پاره

دشاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱ـ د ـیو ـ او ـیوه ـ تکرارکول. الف: استاد دالفاظو کارډونه بنئی؛ ماشومان ئې لولی ب: استاد «یو» او «یوه» پۀ توره تخته لیکی. ج: معلم دکلیدی لفظ کوم یو کارډ انتخا- بوی (د تصویر یا د خط مخ)؛ یو ماشوم تورې تختې ته راځی اوکلیدی لفظ د لفظ «یو» او یا «یوه» سره ښودی چې دکوم یو سره مناسب وی او لولی ئې لکه: «یوه اره»، «یو زمرے». د: دغه عمل پۀ ډیرو کلیدی الفاظو سره تکرارول. ۲ـ دکلیدی لفظ «زانګو» تصویری کارډ بنودل؛ تشریح کول ئې، خبرې وربانديې کول؛ خپل معلومات وربانديې وړاندې کول. ۳ـ دکلیدی لفظ «زانګو» اودحرف «ز» بنودل دکتابی علامې مطابق ۴ـ دمشق پاڼې نه کار اخیستل: الف: مشقونه لیکل: پۀ غټ لیکلے شوی لفظ «زانګو» پنسل کرځول؛ د «ز» پۀ لیکلو سره کرښه مکملول؛ دزانګو نامکمل الفاظ دغیبو حروفو پۀ یوځای کولو سره مکملول؛ کرښه دلفظ «زانګو» پۀ لیکلو سره - مکملول؛ ب: د مشق لوستل: جلې پۀ خاموشۍ سره اوهم تول توکی ته لوستل.	دکلیدی الفاظوکارډونه «یو» او «یوه» توره تخته دکلیدی الفاظو - کارډونو پوانتاب دکلیدی لفظ تصویری کارډ «زانګو» مشق پاڼه پ۱-۴۷-۲

پ۱	2-47
پ۱	۲-۴۷

ز ز ز ز

زانګ زانګو



انګو زانګ

زانګو

انګو

زنګو

دا زانګو ده.	
بنځه یوه زانګو لري.	
دا بنځه زانګو ته ځي.	
بابا زانګو نه لري.	
زانګو په کور کښې ده.	
نازو زانګو وینې.	

زانګو - زانګو

عنوان: د یو شمېر کلیدی الفاظو تکرار کول ؛ د کلیدی لفظ «مېز» بنودل د آخر حرف «ز» دپاره .		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
د درس ډول: د لوستلو مشق او د درس ارزیابي ـ ۴۷-۱ پاڼه	۱- د لوستلو مشق کول : الف : د درېمې مشق پاڼې مطالعه کول ؛ پته ګکول چې په هر قطار کښې کوم لفظ د تصویر سره اندول (مقابله) کېږي دهغه نه به دایره چاپېرېږي . ب : په چوپه سره د هر ماشوم ځانله ځانله کار کول . ج : په ټول ټولګی کښې د کار مقابله (مقایسه) کول . د : په ځان ځانې سره د ټولو الفاظو لوستل (یو ماشوم یو لفظ او ټول په یوه آواز).	مشق پاڼه پ۱-۴۷-۳
	۲- د کلیدی لفظ «مېز» تصویری کارډ بنودل (د تصویر مخ) : په ټولګی کښې حقیقي خټیز د تصویر سره مقایسه کول ؛ د مېز د استعمال په باب او د څه شی نه چې جوړېږي دهغې په باب خبرې کول .	د «مېز» کلیدی لفظ تصویری کارډ
	۳- د کلیدی لفظ «مېز» او حرف «ز» د شکل او آواز بنودل د کتابی علامې مطابق	
	۴- د نورمشق دپاره څلورم نمبر مشق پاڼه مطالعه کول : الف : په غټ لیکلے شوی لفظ «مېز» باندې خوځله پنسل ګرځول . ب : د «مېز» نامکمل الفاظ د غیبو حروفو په یوځای کولو سره مکمل کول . ج : د «مېز» په لیکلو سره کرښه مکمل کول . د : په ټیټ اواز د جملو لوستل په دوه دوه کسانو . ه : د ټول ټولګی په مخکښې د جملو لوستل .	مشق پاڼه پ۱-۴۷-۴

	بابا	بوټ	توت	تله	جارو
	چرګه	نال	شمع	تاج	
	غوا	دول	ګډ	برش	کټ
	چاینک	پیشو	بس	مچ	خط
	ښځه	اوښ	تربنځ	ستن	ځنګل
	سیند	زانګو	سترګه	باغ	لرم

پ۱ ۳-۴۷ / پ۱ ۳-۴۷

مپ پز  مپ پز **مېز** مپ پز	د مېز دی . بابا مېز لري . د د بابا مېز دی . مېز په کور کښې دی . مېز په باغ کښې نه دی .
مېز- مېز	

پ۱ ۴-۴۷ / پ۱ ۴-۴۷

عنوان: الفاظ (دجار توری) پۀ ... باندې / ... باندې / پۀ ... ښودل (۱)

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- پۀ ټولګي کښې د لفظونو پۀ / باندې استعمالول	
- ځینې خیزونه پۀ میز باندې ایښودل.	- ورته کتل.	خیزونه لکه کتاب، پنسل، تباشیر (چاک) او نور
- پوښتنه کول چې پۀ میز څۀ وینئ.	- پۀ مکلو جلو کښې څوا بونه وئیل.	
- پۀ یو یو تن شاګرد د معلم پۀ شان عمل کول.	- وار پۀ وار د معلم پۀ شان عمل کول؛ څۀ خیزونه پۀ میز ایښودل او پوښتنې کول: "پۀ میز باندې څۀ دی؟" نور ورته کوری او جوابونه وائی.	
	۲- د لفظ پۀ / باندې پۀ خط کښې زده کول	
- پۀ توره تخته د ریې جلې لیکل: "شمع پۀ میز باندې ده"، "شمع میز باندې ده"، "شمع پۀ میز ده"	- ورته کتل.	توره تخته یوه شمع
- غوښتنه کول چې د غه جلې ترڅو کیدے شی ولرئ مرسته کول	- د د غو جلو د لوستلو کوشش کول، او پته لګول چې د غه جلې د میز صورت حال بیانوی.	
- نوی لفظونو (پۀ ... باندې) ته د ماشومانو توجه راکړ ځول (لفظ "پۀ" شاګردانو څخه پۀ لفظونو "پۀ ... کښې" کښې پېژند لے دے).	- د نوې لفظ "باندې" پیدا کول.	
- پۀ توره تخته د نوی لفظ "باندې" پۀ غور سره او وضاحت سره بیا لیکل.	- استاد ته کتل چې نوے لفظ څنګه لیکی.	
- د د غه لفظ د لوستلو غوښتنه کول. د ضرورت پۀ اندازه مرسته کول.	- د حروفو د پیدا کولو او د تلفظ پۀ ذریعه د د غه لفظ لوستل.	
- غوښتنه کول چې د غه لفظ د ګوټې پۀ ذریعه پۀ هوا کښې ولیکئ.	- پۀ هوا کښې د د غه لفظ د لیکلو مشق کول.	
- د مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول.	- مشق پاڼه مطالعه کول او د غه لفظ ته کتل.	مشق پاڼه پ ا - ۴۸ - ۱
- غوښتنه کول چې پۀ مشق پاڼه کښې پۀ لفظ "باندې" پنسل وګرځوئ. (لفظ "باندې" د مشق پاڼې د سر پۀ کرښه کښې دے)	- څو څوځله ور باندې پنسل ګرځول.	
- غوښتنه کول چې د لفظ "باندې" پۀ لیکلو سره کرښه مکمله کړئ.	- د لفظ "باندې" پۀ لیکلو سره کرښه مکمله کول.	
	۳- د اسې جلې لوستل چې پۀ / باندې الفاظ پکښې راځئ	
- غوښتنه کول چې پۀ تصویر کښې پۀ میز څۀ د ی هغه پۀ مکمله جمله کښې ووائی (یو ماشوم یو څیز).	- څۀ چې پۀ میز د ی هغه پۀ مکمله جمله کښې بیانوی (یو ماشوم یوه جمله) مثلاً: "کتاب پۀ میز باندې دے"، "قلم پۀ میز باندې دے".	مشق پاڼه پ ا - ۴۸ - ۱
- غوښتنه کول چې د میز د تصویر خواکښې جلې د تول ټولګي پۀ مخکښې ولولئ (یو ماشوم یوه جمله) (۲)	- د میز د تصویر خواکښې جلې لوستل، ایکی یو مطلب د پاره اظهار د دوه طریقو پته لګول چې د دواړه صحیح دی.	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پۀ آخر کښې جلې ولولئ او څۀ چې کول پۀ کارد ی ځان پرې پوهه کړئ.	- جلې لوستل او ځان پۀ کار پوهول یعنې کومې جلې چې د تصویر اندول وی تک پرې کول او چې نۀ وی نو چرخې پرې کول.	
- د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول.	- مشق پاڼه پۀ خاموشۍ سره مکملول	
- غوښتنه کول چې مشق پاڼه د اندی وال سره مقابله کړئ.	- د اندی وال سره ئې مقابله کول	
- غلطې جلې د ټولګي پۀ مخکښې لوستل.	- ټولګي ته د غلطو بیانونو لوستل (یو ماشوم یوه جمله)	
- ټولګي ته د صحیحو بیانونو لوستل (خوځله).	- ټولګي ته صحیح بیانونه لوستل (یو ماشوم یوه جمله).	

درسی پلان نمبر: پ۱-۴۸	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوې تبصرې :

۱- لفظ پۀ / باندې پۀ درې مختلفو طریقو سره بیا ښیدے شی. استاد به د دغه ایکی یو بیان دپاره دغه درې قسمه امکانات پۀ کار راولی لکه ،کتاب پۀ میز باندې دے ،، ،کتاب پۀ میز دے ،، ،کتاب میز باندې دے ،،

پۀ تحریرې ژبه کښې به ما شومان د مختلفو شکلونو سره مخامخ کیږی او پۀ تقریرې ژبه کښې به هغه شکلونه استعمالوی کوم چې د دوی د کور کلی او علاقې رواج وی .

۲- کله چې ماشومان د دغه درې جملې ولوستلې نو ورته وائی به چې دغه درې واړه جملې ټیک دی .

پ۱	1-48
پ۱	۱-۴۸

باندې باندې



کتاب په میز دی.

کتاب په میز باندې دی.

شمع په میز باندې ده. ☐	برش په میز دی. ☐
نال په میز باندې دی. ☐	قلم په میز دی. ☐
چاقو په میز باندې دی. ☐	رسۍ په میز ده. ☐
تله په میز باندې ده. ☐	چاینک په میز دی. ☐

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

پ ا - ۴۸ - ۲ وړپسې درس نمبر اول

عنوان: د هغو جملو د لوستلو تکرار کول چې په /باندې پکښې استعمال شوے وی . د کلیدی لفظ ـ طوطی ـ بنودل د حرف ـ ط ـ د پاره د لفظ په سرکښې	
د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- الف: استاد په توره تخته د اولې مشق پانړې یو خو جملې لیکی ؛ ب: ماشومان په چپه سره لوستل کوی ؛ ج: یو یو ماشوم د تولکی په مخ کښې جملې لولی (یو ماشوم یوه جمله) ؛ د: بیل بیل ماشوم په الفاظو ـ په ـ او ـ باندې ـ باندې په توره تخته چاک کړئ ؛ ه: په یوځ ـ اواز د جملو لوستل . (۱)	توره تخته
۲- د کلیدی لفظ ـ طوطی ـ تصویری کارډ ته کتل ؛ د طوطی د تصویر پېژندل ؛ د طوطی په باب خپل معلومات وړاندې کول .	د کلیدی لفظ ـ طوطی ـ تصویری کارډ
۳- د کلیدی لفظ ـ طوطی ـ او د سرد حرف ـ ط ـ بنودل د کتابی علامې مطابق	
۴- د مشق پانړې استعمالول: الف: په غټ لیکلے شوی لفظ باندې پنسل کړئول ؛ د ـ ط ـ په لیکلو کربنه مکملول ، د ـ طوطی ـ د لفظ په لیکلو کربنه مکملول ؛ د ـ طوطی ـ نامکمل الفاظ مکملول .	مشق پانړه پ ا - ۴۸ - ۲
ب: د لوستلو مشق کول: په تصویر کښې په بنودل شوی صورت حال خبرې کول ، د جملو لوستل په جوړه جوړه کښې او بیا ټول ټولکی ته .	

پ ا - ۴۸ ، وړپسې درس نمبر اول ددې ـ وړپسې درس په باب څه نورې تبصرې

(۱) په اوچت اواز د لوستلو په وخت کښې به استاد یوه چوکه سمه په توره تخته د جملو سره وړی . دا کار ماشومان هم کولے شی چې په تخته جملې لولی نوچوکه به ورسره سمه بیائی .

پ ا	2-48
پ ا	۲-۴۸

ط ط ط

وطي



طو ي

طوطي

ط طي وطي



دا طوطي دی.
زرین طوطي وینې.
نازو راشه.
دا یو طوطي دی.
طوطي په ونه کښې دی.
نازو له کور نه راځي.
هغه طوطي وینې.

طوطي طوطي

عنوان : د ـ پۀ ... کښې ـ اوپۀ / باندې الفاظو استعمال بیاکول ؛ دکلیدی لفظ ـ طاق ـ بنودل د آخرحرف ـ ق ـ د پاره

د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- ددغه الفاظو (دجارتورو) دتکرارولو دپاره ددرېمې مشق پاڼې نه کار اخیستل .	مشق پاڼه پا۱-۴۸-۳
الف : پۀ تصویرونو کښې ددغه درې صورت حالونو مطالعه کول ، خبرې وربانده کول ، جملې وئیل اوپۀ ... کښې او پۀ / باندې پکښې استعمالول ؛	
د سرکښه لوستل . ب : څۀ چې کول غواړی پۀ هغې خبرې کول : د ـ جملو لوستل ؛ د تصویرونو سره ورته سمې نمبرې ورکول ؛ ج : پۀ چپه سره لوستل ؛ جلوته نمبر ورکول ؛ د : نتیجې مقابله کول ، جملې د توکی پۀ مخ کښې لوستل .	
۲- دکلیدی لفظ ـ طاق ـ تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل ؛ د طاق پۀ باب خبرې کول .	دکلیدی لفظ ـ طاق ـ تصویری کارډ
۳- دکلیدی لفظ ـ طاق ـ او د حرف ـ ق ـ تعارف د کتابی علامې مطابقت	
۴- د لوستلو اولیکلو دمشق دپاره څلورمه مشق پاڼه استعمالول .	مشق پاڼه پا۱-۴۸-۴
الف : څوځوځله پۀ غټ لیکلې شوی لفظ ـ طاق ـ باندې پنسل کړئول ؛ کربنه د لفظ ـ طاق ـ پۀ لیکلو مکمل ول ؛	
ب : ګڼې خواته جملې پۀ دوه دوه کسه لوستل ؛ دهغوی لوستل پۀ اوچت اواز توکی ته (یوماشوم یوه جمله)	

د درس ورځې : ۱۰ / ۱۰ / ۱۳۵۰ ـ پا۱-۴۸




طاق - طاق
پا۱ ۴-۴۸
پا۱ ۴-۴۸
طاق
دا یوطاق دی .
طاق پۀ کورکښې دی .
یوه شمع پۀ طاق کښې ده .
یوخط پۀ طاق کښې دی .
یوکتاب پۀ طاق کښې دی .
یوچاینک پۀ طاق کښې دی .

پښتو اول ټولګی	عنوان: د سوالیه لفظ ـ چرته ـ ښودل او د سوالیه علامې (څخنې) استعمال (۱)
پ۱ - ۴۹	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- پۀ ټولګي کښې پۀ سوالیه لفظ ـ چرته ـ سره د زباني سوال جواب مشق کول	
- دا سې پوښتنې کول چې پۀ سوالیه لفظ ـ چرته ـ سره وی لکه دیو غیر حاضر ماشوم پۀ باب ـ ..... چرته دی؟ ـ یا چاک چرته دے؟ ـ	- غوږ ونیول او د دغه پوښتنو جوابونه ویل.	
- غوښتنه کول چې د ټولګي د څیزونو پۀ مثال سره همدغسې پوښتنې وکړئ. (۲)	- پۀ ټولګي (جماعت کمره) کښې اخوا دېخوا کتل او سوالونه جوړول. سوالونه او پوښتنې وار پۀ وار کول. یو ماشوم پوښتنه کوی او بل ماشوم ئې ځواب وائی.	
	۲- د سوالیه لفظ ـ چرته ـ خط (لیکنه) او سوالیې نښه ښودل	
- د اجمله پۀ توره تخته لیکل: ـ قلم چرته دے؟ ـ	- ورته پۀ غور سره کتل.	توره تخته
- غوښتنه کول چې د اجمله ولولئ. د ضرورت پۀ اندازه مشق	- د دغه جملې د لوستلو کوشش کول.	
- د ماشومانو پام نوی لفظ ـ چرته ـ او سوالیه څخنې پېژندنه کول راکړئ کول.	- د نوی لفظ ـ چرته ـ او سوالیه څخنې پېژندنه کول	
- د سوالیه څخنې (؟) د استعمال تشریح کول.	- غوږ ونیول او پۀ خبره پوهېدل	
- نوی لفظ ـ چرته ـ پۀ توره تخته لیکل.	- ورته کوری چې د دغه لفظ استاد څنګه لیکی.	توره تخته
- پۀ غور سره د دغه لفظ تلفظ کول.	- د اوربدلونه روسته د دغه لفظ تکرار ول استاد ته؛ د حروفو د آوازونو پېژندنه کول.	
- غوښتنه کول چې د لفظ د حروفو نومونه واخلئ	- د لفظ د مختلفو حروفو نومونه اخیستل.	
- غوښتنه کول چې لفظ ـ چرته ـ پۀ هوا کښې پۀ ګوته سره ولیکئ.	- په هوا کښې د ګوتو پۀ ذریعه د لیکلو مشق کول.	
- غوښتنه کول چې د الفظ پخیلو سلیټونو ولیکئ.	- د دغه لفظ لیکل پۀ سلیټونو باندې.	سلیټونه
- د سوالیې علامې د مشق غوښتنه کول، پۀ تخته ئې عملاً ښودل	- پۀ سلیټونو د سوالیې علامې مشق کول	توره تخته
	۳- پۀ پوښتنو کښې د ـ چرته ـ لفظ د لوستلو مشق کول، صحیح جوابونه پیدا کول او تصویر مطابق الفاظ پۀ / باندې او پۀ / کښې استعمالول	
- د مشق پاڼې د پاسنۍ برخې د مطالعې غوښتنه کول.	- مشق پاڼه مطالعه کول، پکښې د خلورو تصویرونو او لفظ چرته پېژندنه کول د سوالیې د علامې (څخنې) سره سره.	مشق پاڼه پ۱-۴۹-۱
- پۀ لفظ چرته ـ او سوالیې څخنې پنسل ګرځول خوځوله.	- د نمبر دنې سره سم کار کول	
- غوښتنه کول چې سوالونه وکړئ او پۀ پوره جمله سره ئې جواب ووائئ.	- تصویرونو ته کتل او پۀ لفظ ـ چرته ـ سره پوښتنې کول او د تصویرونو پۀ رابطه سره جواب ورکول.	
- د لاندینۍ برخې د مطالعې غوښتنه کول د یو مثال پۀ توره تخته عملاً مظاهره کول	- د لاندینۍ برخې مطالعه کول او معلومول چې د دغه سوالونو ته د خالي ځایونو پۀ ډکولو سره جواب ورکول پۀ کار دی، خالي ځایونه ډکول به د تصویرونو مطابق وی.	
- د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول (۳)	- د مشق پاڼې مکملول؛ د دوه دوه تنو کار کول پۀ چپه - سره د پوښتنو لوستل او خالي ځایونه پۀ ځوابونو کښې ډکول	
- غوښتنه کول چې پوښتنې او جوابونه د ټولګي پۀ مخکښې ووائئ.	- د پوښتنو او جوابونو لوستل (یو ماشوم یو جواب، یو ماشوم یوه پوښتنه) نور غوږ نیسی او چک کوی	

درسی پلان نمبر:پ۱- ۴۹	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوری تبصری :

۱- د سوالیې غښنه د دې دپاره دې چې یوه سوالیه فقره وښئی . د سوالیې غښنه بیا پۀ هغه جمله کښې خاص اهمیت لری چې دیوۀ بیان یا فقرې نه دا پته نه لګی چې دا سوال دے اوکه بیان دے . دیوې سوالیې پۀ ژندل دا معنی لری چې دې سوال ته به ځواب هم ورکول کیږی .

۲- پۀ وړوکو ټولګیو کښې ماشومان دیوز ځیر پۀ شکل کښې سوالونه او جوابونه ورکولے شی ، دیوماشوم نه بل ماشوم ته د زنځیر پۀ شکل .

۳- استاد به ماشومانو ته وائی چې د جملو د جوړولو دپاره پۀ دې درې ډوله جوړښتونو یعنې "په" ، "باندې" او "په ... باندې" کښې چې هریوستناسو خوښ وی استعمالولے شئ: مثلاً

- قلم په میز دے .
- قلم میز باندې دے .
- قلم پۀ میز باندې دے .



شمع چېرته ده ؟	شمع ___ طاق _____ ده .
مار چېرته دی ؟	مار ___ باغ _____ دی .
چاقو چېرته دی ؟	چاقو ___ میز _____ دی .
چاینک چېرته دی ؟	چاینک ___ طاق _____ دی .
قلم چېرته دی ؟	قلم ___ کتاب _____ دی .
کټ چېرته دی ؟	کټ ___ باغ _____ دی .
هګۍ چېرته ده ؟	هګۍ ___ میز _____ ده .
ګل چېرته دی ؟	ګل ___ طاق _____ دی .
ستن چېرته ده ؟	ستن ___ کتاب _____ ده .
ګډ چېرته دی ؟	ګډ ___ باغ _____ دی .
کتاب چېرته دی ؟	کتاب ___ میز _____ دی .
خط چېرته دی ؟	خط ___ کتاب _____ دی .

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړښې درسونو خاکې

عنوان: دکلیدی لفظ "مار" بنودنه د سر حرف "م" د پاره		
	د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
اول ۲۰ دقیقې	۱- د لفظ "لرم" تکرارول ؛ دلفظ مارلوستل دکلیدی لفظ پۀ تصویری کارډ اوپۀ توره تخته ؛ پۀ توره تخته اوپۀ سلیټونو د دغه لفظ لیکل . ۲- د کلیدی لفظ مار تصویری کارډ ته کتل ، د مار پېژندل اونوم ئې اخیستل . ۳- د مار بېلې بېلې برخې تشریح کول اونومونه ئې اخیستل . ۴- د مار پۀ مختلفو قسمونو خبرې کول اوپۀ دې چې څنګه ښکاری اوخوږه خطرلری .	دکلیدی لفظ مار تصویری کارډ توره تخته او سلیټونه
درسی وسایل ۳۳-۱ پ۱	۵- د لفظ پۀ سرکښې د حرف "م" زده کول ، دلفظ مارلوستل . د "ا" او "ر" حرفونو پېژندل، څوځله دلفظ مار لیکل پۀ توره تخته د استاد پۀ ذریعه . پۀ هوا کښې د ګوتې پۀ ذریعه د دغه لفظ لیکل پۀ ماشومانو باندې او هم پۀ سلیټونو . ۶- د مشق پاڼې استعمالول : الف : د مار تصویر اولفظ پېژندل ، ب : دلفظ "مار" پۀ کربنو پنسل ګرځول . ج : د حرف د سر شکل "م" پۀ تیاره کربنه لیکل . د : لفظ مار پۀ تیاره شوې کربنه لیکل . هـ : د مار نیمګړی ټول الفاظ مکمل . و : پۀ سلیټونو دلفظ "مار" څوځله لیکل .	دکلیدی لفظ مار تصویری کارډ توره تخته سلیټونه مشق پاڼه پ ۱ - ۳۳ - ۲ سلیټونه

	پ۱ 2-33
م م	پ۱ ۳۳-۲
	مار
	مار

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

عنوان : د څیښو کلیدی الفاظو د ټولفظ تکرارکول ، د کلیدی لفظ ،څپلی، بنودل د حرف خ د پاره د لفظ پۀ سرکښې	
د شاګردانو / استاد مشغلې	د درسی معاونات
۱- د سوالیه لفظ ،چرته، د استعمال تکرارول . الف : د دغه لفظ بنودل د استاد پۀ ذریعه او د هغې لوستل د شاګردانو پۀ ذریعه . ب: پۀ اوله مشق پاڼه کښې د سوالونو اوجملو لوستل .	د سوالیه لفظ ،چرته، کارد
۲- د کلیدی لفظ ،څپلی، د تصویر اړخ ته کتل یا اصل څپلی ته کتل ، خبرې ورباندې کول .	مشق پاڼه پ۱-۴۹-۱
۳- د کلیدی لفظ ،څپلی، او د سر د حرف ،خ، بنودل د کتابې علامې مطابق	پخپله څپلی یا د هغې
۴- د لفظ ،څپلی، د لوستلو اولیکلو مشق کول ، د مشق پاڼې نه کار اخیستل :	تصویری کارد
الف: د غټ لیکلې شوی لفظ ،څپلی، لوستل ، پۀ دغه لفظ څوکله د پنسل کرځول ؛	مشق پاڼه پ۱-۴۹-۲
ب : نامکمل الفاظ مکملول ؛ د لفظ ،څپلی، او حرف ،خ، پۀ لیکلو سره خپلې خپلې کرښې وکول .	
۵- د الفاظو د یوځای کولو مشق کول : (۱)	
الف: د مشق پاڼې کښه خوا مطالعه کول ، پۀ هغې کښې الفاظو نیمګړې برخې موندل چې د یو بل سره یوځای شی او مکمل الفاظ جوړ شی .	
ب : همیشه دوه برخې سره وصل کښې چې تر څو مکمل الفاظ پۀ لاس راشی .	
ج : پۀ تیار شوی ځای کښې د دغه الفاظو لیکل .	
۶: پۀ سلیټونو د دې الفاظو لیکل . کوشش کول چې دیا دونه ئې ولیکی .	سلیټونه

پ ۱- ۴۹ ، وړپسې درس نمبر اول د دې ، وړپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱- پۀ کومو الفاظو چې پۀ دې سبق کښې مشق وشو بله ورځ به ورته د غه الفاظ دا املا پۀ شکل ویل کیږی . استاد ماشومانو ته داخبره کولے شی چې زه به کورم چې تاسو دا الفاظ دیا دونه لیکلے شئ اوکښه .

خ خ خ خ	پ ۱ 2-49 / پ ۱ ۲-۴۹
پلی خپه ی خپل پلی خپلی خ لی پلی	ب ر ج تو ټ بو ش پ تا
خپلی - خپلی	

عنوان: د لفظ «او» بنودل؛ د تلفظ اولوستلو مشقونه		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- یوه ورځ املا: الف: ددغه څلورو الفاظو املا ویل د استاد له طرفه خوښۍ مزه مزه؛ ددغه الفاظو لیکل ماشومانو ښۍ مخکښې درس کښې زده کړل، ماشومان ئې ښۍ څیلو سلیټونو لیکی. ب: دانډی والانو سره د سلیټونو بدلول، د تختې د الفاظو سره ئې مقایسه کول.		سلیټونه توره تخته د کلیدی الفاظو تصویرې کارډونو انتخاب
۲- خیزونه یا اشخاص د لفظ «او» ښۍ ذریعه یوځای کول (زبانی مشق)؛ الف: استاد د درېیمې مشق پاڼې مطابق دولس د کلیدی الفاظو تصویرې کارډونه ښۍ یو وخت کښې وراندې کوی یو یو ماشوم ئې لولی (۲). ب: استاد غوښتنه کوی چې همېشه دوه کلیدی الفاظ ښۍ یوه جمله کښې راولئ لکه: «بابا اس اوخرلری».		
۳- د لفظ «او» شکل (خط) بنودل. الف: استاد لیکی: «نازو ☐ زرین» کورتنۍ غوښتنه کول چې کوم لفظ ښۍ دې جمله کښې غیب دے. ماشومان د لفظ «او» نوم اخلی. ب: استاد لفظ «او» پخپل ځای کښې لیکی، ماشومان دغه جمله او لفظ «او» خوځوله لولی، لفظ «او» ټکی ښۍ ټکی وائی؛ ښۍ هوا کښې ئې د ګوتې ښۍ ذریعه لیکی، ښۍ څیلو سلیټونو ئې لیکی.		توره تخته سلیټونه
۴- د مشق پاڼې نه کار اخیستل: الف: د مشق پاڼې مطالعه کول او ښۍ طریقه کار خبرې کول: دوه دوه کسه ښۍ چپه سره لوستل کوی، پته لګول چې لفظ «او» همېشه دوه الفاظ سره یوځای کوی. ج: ښۍ خالی ځایونو کښې د لفظ «او» لیکل، د الفاظو جوړې تولګی ته لوستل (یو ماشوم یوه جوړه لولی).		مشق پاڼه پ۱-۴۹-۳

پ ا- ۴۹، ورځپـــې درس نمبر دوئیم د دې ورځپـــې درس ښۍ باب څخه نورې تبصرې

۱- ښۍ کارده چې ماشومان الفاظو ونه وینی. د دې وجهې نه به د کارکتاب بندیزی.

۲- کۀ چیرې د کلیدی الفاظو د تصویرې کارډونو د ایښودلو (نمایش کولو) دپاره بل ځای نه وو نو خو شاګردان به د تولګی مخې ته راځی چې کارډونه ونیسی چې تول ئې وویني. کۀ چیرې ماشومان کارډونه ښۍ لاس کښې ونیسی نو د لږ څۀ وخت نه روسته دې نور شاګردان د هغوی ښۍ ځای کارډونه ونیسی.

	پ۱	3-49
او او او	پ۱	۳-۴۹

چرګ او چرګه لاس — سترګه ونه — تال

کډ — غوا مچ — ملخ چرګه — هګۍ

نازو — زرین **او** اوښ — خر

اړه — ترښۀ بابا — امسا

قلم — ستن دېګ — چاینک بنځه — زانګو

زانګو — کټ ونه — ګل اس — نال

مار — لرم غوا — یوې خط — قلم

پښتو اول ټولګی	عنوان: سوالیه الفاظ ـ څوک، او څهٔ، او لفظ ـ دی، ښودل (۱)
	پ ۱ - ۵۰

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- په زباني طور سوالیه لفظ ـ څوک، استعمالول او دهغه لیک (خط) ښودل	
- دیوماشوم نه ددې پوښتنې په ګولوسره شروع کول: «د تاسره څوک دی؟»	- دیوماشوم جواب ورکول: «ماسره اشرف دے»	
- غوښتنه کول چې په همدغه طریقه سره سوال جواب جاري وساتي، کوم ماشوم چې صحیح جواب ووائی نو همدغه ماشوم به دبل نه پوښتنه کوی (۲)	- پوښتنې کول اوجواب ویل (یوپه بل پسې).	
- دیوماشوم نه غوښتل چې د ټولګی مخې ته راشی اود نورو نه پوښتنه وکړي: «داڅوک دے؟»	- ورته کتل اود پوښتنې جواب ویل.	
- دهغه پوښتنه په توره تخته لیکل. (داڅوک دے؟)	- ورته کتل او نوے لفظ ـ څوک، پیدا کول، دلوستلو کوشش ئې کول.	توره تخته
- غوښتنه کول چې دهغه لفظ د ټولوحروفو نومونه واخلی	- د ټولو حروفو نومونه اخیستل.	
- د نوی لفظ ـ څوک، د تلفظ کولو غوښتنه کول.	- ددهغه نوی لفظ تلفظ کول په غوږسره.	
- غوښتنه کول چې دهغه لفظ په هوا کښې ډکوټې په ذریعه ولیکئ.	- په هوا کښې ډکوټې په ذریعه دلیکلومشق کول	
	۲- سوالیه لفظ ـ څهٔ، دلفظ ـ دی، سره یوځای استعمالول ددهغه لفظ لیک (خط) ښودل	
- ددې پوښتنې په ګولوسره شروع کول: «د تاسره څهٔ ـ دی؟»	- دیوماشوم ځواب ورکول: «ماسره قلم دے».	
- غوښتنه کول چې سوال جواب په همدغه طریقه سره ـ جاري وساتئ، کوم ماشوم چې صحیح ځواب ووائی نو همدغه به دبل ماشوم نه پوښتنه کوی. (۲)	- ورته کتل او د پوښتنې ځواب ویل.	
- یو څیز په میز ایښودل او پوښتنه کول چې: «میز باندې څهٔ دی؟»	- ورته کتل اودپوښتنې ځواب ویل.	
- په توره تخته ددغې پوښتنې لیکل.	- د جملې لوستل او نوی الفاظ ـ دی، او ـ څه، پکښې پیدا کول.	توره تخته
- ددهغه نو الفاظو دلوستلو غوښتنه کول، دضرورت په اندازه مرسته کول.	- د حروفو د معلومولو اوددوی د تلفظ کولو په ذریعه ددهغه الفاظو دلوستلو کوشش کول.	
- په توره تخته په مزه مزه د هغه لفظونو پېنسل ګرځول، په هوا کښې ډکوټې په ذریعه ددهغه الفاظو لیکل.	- په هوا کښې ډکوټې په ذریعه دلیکلومشق کول.	توره تخته
	۳- د څوک، او څهٔ، الفاظو دلیکلومشق اودهغوی لوستل په جملو کښې	
- الفاظ ـ څوک، او څهٔ، په مزه مزه په توره تخته لیکل.	- خوشخوځله دهغه الفاظ د تختې نه سلیټونو ته نقلول.	توره تخته، سلیټونه
- د مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه.	- مشق پاڼه مطالعه کول اود صورت حال پېژندل.	مشق پاڼه پ ۱- ۵۰ - ۱
- په صورت حال خبرې اترې کول.	- د تصویر په باب خبرې اترې کل «داڅوک دے؟ څهٔ کوی؟ څهٔ ورسره دی؟»	
- د جلو د مطالعه کولو غوښتنه کول.	- معلومول چې ځینې جوابیه جملې اوځینې سوالیه جملې دی.	
- ماشومانو نه د پوهول چې صحیح جوابونه د هرې خپلې سوالیې سره یوځای کېږی.	- دوه دوه تنه کارکوی؛ د جلو لوستل؛ په اندول بکس کښې شمېرې لیکی.	
- غوښتنه کول چې د پوښتنو او سوالونو جوړې دی ټول ټولګی ته ولوستل شی (یوماشوم یوه جمله).	- ددهغه جملو لوستل؛ نورغوږ ورته نیسی او چک کوی ئې.	

درسی پلان نمبر: پ۱ - ۵۰	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوری تبصری :

۱ - سوالیه لفظ ،څۀ، د فعل معاون ،دی، د جمع د شکل سره استعمالیږی . ددې وجهې نه لفظ ،دی، هم پۀ سبق کښې بدول کیږی . دا درسی پلان اومشق پانړه پۀ دې خبره ډېر غور کوی چې دا الفاظ پۀ یوه خاصه طریقه سره استعمالیږی .

۲ - پۀ یوداسې توګې کښې چې د هلکانو شمېر پکښې کم وی نو مونږ ماشومان پۀ سوال وجواب کښې پۀ زښیری شکل برخه نۀ شی اخیستې . استاد به دیوځۀ وخت نه روسته د زښیر پۀ شان ناستوشاګردانو باندې پۀ نیمه کښې د سوال وجواب کار بندوی .


پ۱ 1-50
پ۱ ۱-۵۰
څه - څوک
۱ دا بنځه څه لري ؟
۲ دا بابا څه لري ؟
۳ کور ته څوک ځي ؟
۴ له کور نه څوک راځي ؟
۵ په ونه کښې څه دي ؟
۶ نازو څه لري ؟
۷ زرین څه لري ؟
نازو کور ته ځي .
نازو چاینک لري .
۱ بنځه جارو لري .
زرین له کور نه راځي .
بابا امسا لري .
تال په ونه کښې دی .
زرین رسۍ لري .

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د ورپسې درسونو خاکې

	عنوان: دکلیدي لفظ «ژبه» بنودل دلفظ دسر دحرف «ژ» دپاره	
	دشاګردانو / استاد مشغلې	**درسی معاونات**
اول ګام: درس درپی ورپیژندنه ۱-۵۰-۱ پاڼه	۱- دالفاظو «څوک»، «څۀ»، «دی» تکرارول. الف: داستاد ویل شاګردانو ته چې د تېرې ورځې پۀ سبق کښې چې موکوم درې الفاظ زده کړل د هغوی نه یو لفظ څوک پۀ توره تخته لیکلے شی؛ ماشومان ئې دلیکلو کوشش کوی. ب: پۀ مشق پاڼه کښې د سوالونو اوجوابونو بیا لوستل. ۲- استاد دکلیدی لفظ «ژبه» تصویری کارډ د تصویرمخ ښئی؛ د ژبې پۀ باب خبرې کول، دا سې یوه جمله وئیل چې پۀ سختی سره ویل کیږی لکه: «تور تېل پۀ توره تخته توی توئ شول». ۳- دکلیدی لفظ «ژبه» لیک (پۀ خط کښې) بنودل اودمعمولو قدمونو نه کار اخیستل. ۴- دمشق پاڼې نه کار اخیستل؛ الف: څوخو ځله پۀ غټ لیکلے شوی لفظ «ژبه» باندې پنسل کړئول؛ ب: د «ژ» پۀ لیکلو سره کربنه مکملول؛ دلفظ «ژبه» پۀ لیکلو سره کربنه مکملول؛ د «ژبه» نامکمل الفاظ مکملول؛ ج: پته ګلول چې دمشق پاڼې پۀ ګڼ اړخ کښې جملې دسوالونو مطابق مکملول غوارې: «څوک ژبه لري.» (الفاظ پۀ لاندینۍ کربنه دی) د: پۀ خاموشۍ سره کار کول. هـ: د نورو ټولګی پۀ مخکښې د جملو پۀ ویلو سره ئې مقابله (مقایسه) کول.	توره تخته مشق پاڼه پ۱-۵۰-۱ دکلیدی لفظ «ژبه» تصویری کارډ مشق پاڼه پ۱-۵۰-۲

ژ ژ ژ

ژ ژ
به
ژ به
ژ
به ژبه
ژ به
ژ
به به
ژ

ژبه-ژبه-ژبه

پ۱ 2-50	څوک ژبه لري؟
پ۱ ۵۰-۲	زرین ژبه لري.
	ـــــ ژبه لري.
	ـــــ ـــــ لري.

غوا - اس - خر - کډ - نازو

عنوان: دالفاظوجوړول دالفاظو د نیګرو برخو دیوځای کولوپۀ ذریعه ؛ دکلیدی لفظ ،فقیر، ښودل دلفظ د سرد حرف ،ف، دپاره.	
د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- استاد پۀ توره تخته دوه الفاظ هرلفظ پۀ دوه دوه برخوکښې لیکی چې تولې څلور برخې کېږی ، ماشومان به دوه مناسبې برخې سره یوځای کوی چې یومکمل لفظ نرې جوړشی لکه : چر م لې ګه = چرګه - لړم ،لیکل اولوستل ئې (درې داسې نور مثالونه به کافی وی) ،۱،	توره تخته
۲- دکلیدی لفظ ،فقیر، تصویری کارډ ته کتل ؛ خبرې وربانديې کول ؛ د فقیر کړۀ وړۀ بیا ښول ؛ خپل معلومات وربانديې ورباندې کول ، پۀ دې خبرې کول چې مسلمانان د فقیر اودبل غریب سره څنګه سلوک کوی.	دکلیدی لفظ ،فقیر، تصویری کارډ
۳- د لفظ ،فقیر، لیکنه اودحرف ،ف، د شکل او آواز ښودل پۀ معموله - طریقه سره.	
۴- د مشق پاڼې نه کار اخیستل : الف : د مشق پاڼې مطالعه کول ؛ دلیکلی شوی لفظ دپاره کار باندې خبرې اترې کول ؛ پۀ غټ لیکلی شوی لفظ ،فقیر، باندې پنسل کړئول ؛ د ،ف، پۀ لیکلو سره کرښه مکملول ؛ د ،فقیر، نامکمل الفاظ پوره کول . پۀ لاندینۍ کرښه کښې پۀ لفظ ،فقیر، قلم کړئول . کوشش کول چې د غه لفظ یو یا دوه ځله ماشومان پخپله ولیکی . ب : پۀ خاموشۍ سره کار کول ؛ ج : جلې اول پۀ دوه دوه کسه پۀ خاموشۍ سره لوستل ، بیا ئې نوکلی ته لوستل ,	مشق پاڼه پا۱-۵۰-۳

نورې تبصرې

(1) نورمثالونه دادی مثلاً : طوطی ، مار = طی ر طو ما
چاقو ، ټال = ټا قو ل چا
ژبه ، اس = ژ س ا به

ف ف ف	پا۱ 3-50 / پا۱ ۳-۵۰

فقیر فقیر
فقیر فقیر
فقیر فقیر
فقیر

دا څوک دی ؟
دا فقیر دی
هغه له سینډ نه راځي
زرین او نازو فقیر وینې
فقیر امسا لري
هغه څپلی نه لري
فقیر کور او کټ لري ؟

فقیر- فقیر- فقیر- فقیر- فقیر

پښتو اول ټولګی پ ۱ - ۵۱	عنوان : د غږیزو کلیدی الفاظو تکرارول ؛ د الفاظو ـ لیکی ـ او ـ لولی ـ بنودل (هغه / هغوی لولی - هغه / هغوی لیکی)	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د غږیزو هغو کلیدی الفاظو تکرارول چې اوس اوس زده کړې شوی دی	
- د یوځو کلیدی الفاظو د تصویري کارډونو د تصویر مخونه بنودل په بې ترتیبه ډول . (۱)	- په دغه کارډونو کښې د الفاظو لوستل .	د کلیدی الفاظو تصویري کارډونه
	۲- د الفاظو ـ لیکی ـ او ـ لولی ـ تعارف په لیکنه (خط) او آواز کښې	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پاسنۍ برخه دې مطالعه کړے شی .	- مشق پاڼه مطالعه کول او معلومول چې نانو لولی او زرین لیکی .	مشق پاڼه پ ۱-۵۱-۱
- پوښتنې کول لکه : « نانو څه کوی ؟ » « زرین څه کوی ؟ »	- غوږ نیول او د پوښتنو ځوابونه ویل .	
- د دې دوه جملو د بار بار لوستلو غوښتنه کول چې د تصویرونو لاندې دی : « نانو لولی » . « زرین لیکی » .	- څو ځله د دغه جملو لوستل ، د جملو الفاظو ته په ګوته سره اشاره کول .	
- د الفاظو ـ لیکی ـ او ـ لولی ـ کارډونو بنودل په بې ترتیبه ډول سره .	- د استاد له خوا چې څنګه بنودل کېږی هغسې ټې لوستل .	د الفاظو کارډونه
- په توره تخته د دغو الفاظو لیکل په غور سره .	- د استاد لیکلو ته په غور سره کتل .	توره تخته
- د دغه الفاظو د لوستلو غوښتنه کول .	- د دغه الفاظو لوستل .	
- غوښتنه کول چې د دغو الفاظو حروف معلوم کړی او نومونه ټې واخلئ .	- د دغه الفاظو د حروفو پېژندنه کول او نومونه ټې اخیستل .	
- غوښتنه کول چې د دغو حروفو آوازونه ووائی .	- د دغو حروفو آوازونه وئیل (د هر حرف اواز بېل بېل)	
- استاد د هر لفظ بېل بېل حرف ته اشاره کوی او - ماشومان ټې په مخ مخ لولی (۲)	- د دغو الفاظو لوستل .	
- غوښتنه کول چې دغه الفاظ ګوتې په ذریعه په هوا کښې ولیکی !	- ګوتې په ذریعه په هوا کښې لیکل .	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې په سر قطار کښې په دغو الفاظو پنسل وګرځوی .	- څو ځله ورباندې پنسل ګرځوی .	مشق پاڼه پ ۱-۵۱-۱
	۳- د هغو جملو لوستل چې نوی الفاظ پکښې وی	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې په لاندینۍ برخه کښې جملې ولولی ، اول دوه دوه کسه پخپل منځ کښې او بیا ټول ټولګی ته .	- اول اندی وال ته د دغو جملو لوستل ، وار په وار ، او بیا ټول ټولګی ته ، اول یو ماشوم یوه جمله او بیا ټول په یو آواز . د سوالونو او جوابونو صحیح لوستلو ته خاصه توجه کول	

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۱	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- کلیدی الفاظ به داوی : فقیر ، ځوطی ، زانګو ، بنځه ، څیلی ، بوټ ، ډول ، اوښ
شمع ، شترګه ، ترښځ ، غوا ، توپ .

کۀ چېرې یو ماشوم یوخاص لفظ نۀ شی لوستلے نو یواځې د تصویر مخ به بنودل کېږی .

سخت الفاظ به څو څو ځله بنودل کېږی . ماشومان ئې ځانله ځانله اویا پۀ ګډ اواز سره لوستلے شی .

۲- کله چې ماشومان پۀ مزه مزه لولی نو دا سې معنی لری چې یو اواز د بل اواز سره یوځای کوی او لفظ جوړوی . استاد به د دې مشق مخکښې د مخکښې نه پخپله کوی ترڅوښۀ مظاهره ئې وکړے شی .

پ۱	۱-۵۱
پ۱	۱-۵۱

لیکي ، لولي ، لیکي ، لولي

څوک لیکي او څوک لولي؟

نازو لولي. زرین لیکي.

نازو په کور کښې ده . زرین په کور کښې دی.

هغه لولي . هغه لیکي .

نازو څه لولي ؟ زرین څه لیکي ؟

هغه کتاب لولي . هغه خط لیکي .

نازو نه لیکي هغه لولي . زرین نه لولي هغه لیکي.

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

	عنوان: دلوستلو مشق: پوښتنوته جوابونه پیدا کول؛ د تلفظ مشق: دالفاظو برخې پېژندل؛ بیا ئې یوځای کول	
د اول ټاکلې درسی وړپسې ۱-۵۱ پا	دشاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
	۱- دهغه فعلونو کارډونه بنودل پۀ بې ترتیبه ډول چې تر اوسه پورې زده کړے شوی دی، ماشومان ئې لولی (۱،	دالفاظو کارډونه لری - وینې - څی - راځی لولی - لیکی
	۲- دوئیمه مشق پاڼه مطالعه کول، پۀ کاربانديې بحث کول: د سوالونو دپاره د صحیح جوابونو پیدا کول؛ د سوالونو مطابق جوابونو ته شمېره ورکول؛ یو یا دوه مثالونه د توکی دماشومانو سره کول.	مشق پاڼه پا۱-۵۱-۲
	۳- پۀ دوه دوه کسه کارکول: د سوالونو لوستل؛ دمناسبو جوابونو پیدا کول، او پۀ خپل مناسب سره ورته شمېره ور کول.	
	۴- مقابله (مقایسه) کول: ټول توکی ته ییلا ییل سوالونه او جوابونه لوستل — (یوماشوم یوه شمېره لولی).	
	۵- دریئمه مشق پاڼه مطالعه کول: پته لګول چې پۀ یوۀ بکس کښې د برخو برخو نه دوه الفاظ جوړیږی، دیوبکس نه لاندې اودبکس دپاسه تیارشوی ځای کښې د دغو الفاظو لیکل.	مشق پاڼه پا۱-۵۱-۳
	۶- پۀ خاموشی سره کارکول؛ پۀ ټول توکی کښې خپل کارمقایسه کول.	
	۷- پۀ سلیټونو باندې دهمدغه الفاظو دلیکلو مشق کول.	سلیټونه

پ ا- ۵۱، وړپسې درس نمبر اول د دې ، وړپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱- نوی الفاظ "لیکی، او "لولی، به د نورو الفاظوپۀ نسبت دېر دېرځله بنودل کیږی ځکه چې هغوی دا الفاظ نۀ پېژنی اونۀ رهم نۀ پېژنی.

۱	فقیر چېرته ځي؟		بنځه خط لیکي.	پا۱ 2-51 / پا۱ ۲-۵۱
۲	په طاق کښې څه دي؟		قلم په لاس کښې دی.	
۳	میز باندې څه دي؟	۱	فقیر کور ته ځي.	
۴	قلم چېرته دی؟		بابا له باغ نه راځي.	
۵	کد اوغوا چېرته ځي؟		چاینک په طاق کښې دی.	
۶	زرین او نازوخه لري؟		نازو یوطوطي وینې.	
۷	څوک خط لیکي؟		زرین اونازو تال لري.	
۸	څوک یوطوطي وینې؟		پیشو په ونه کښې ده.	
۹	څوک په ونه کښې دی؟		کد اوغوا سیند ته ځي.	
۱۰	څوک له باغ نه راځي؟		شمع میز باندې ده.	

				پا۱ 3-51 / پا۱ ۳-۵۱
که نا	بر چا	م او		
ل ستر	ینک ش	بښ لږ		
نه قو	یو د	ج طو		
چا و	پک پ	طي تا		

عنوان: دکلیدی لفظ ،حلوائی، ښودل د حرف ،ح، د پاره د لفظ پۀ سرکښې		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- د درېمې مشق پاڼې څېنې الفاظ د املا پۀ حیث وئیل (الفاظ به د شپږونه زیات نۀ وی) الف: استاد به املا پۀ مزه مزه وائی، ماشومان به ئې پۀ سلېټونو لیکی. ب: ماشومان به ېپل ېپل لفظ لولی، استاد به ئې پۀ تخته لیکی، ماشومان متابۀسه کوی. ۲- دکلیدی لفظ ،حلوائی، تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل، د حلوائی پۀ باب خبرې کول چې هغه څۀ کوی، هغه څۀ ځیز خرڅوی، چرته کارکوی، د هغۀ ځای څنګه ښکاری. ۳- دکلیدی لفظ ،حلوائی، اود حرف ،ح، ښودل د کتابی علامې مطابق. ۴- د مشق پاڼې نه کار اخیستل: الف: د لیکلو مشق: پۀ غټ لیکلې شوی لفظ ،حلوائی، اود مشق پاڼې پۀ آخر کښې پۀ الفاظو پنسل ګرځول، کربنه د ،ح، لیکلو سره مکمل اود حلوائی ښکلی الفاظ مکمل. ب: د مشق پاڼې د کښې اړخ جملې د تول ټولګی پۀ مخکښې اړستل، پۀ آخر کښې چې کوم سوالونه دې د هغوی جوابونه وئیل. ج: پۀ دوه دوه کسه د جملو لوستل.	سلېټونه تخته دکلیدی لفظ ،حلوائی، تصویری کارډ مشق پاڼه پ۱-۵۱-۴	د درس ۱۰ - ۵۱ - ورځې درس

ح ح ح ح	پ۱	4-51
	پ۱	۴-۵۱

لوايي ح وايي	دا حلوايي دی.
حل ايئ	نازو او زرين حلوايي وينې.
حلوايي	حلوايي لور نه لري.
لوايي لوايي	حلوايي اړه نه لري.
حلو يي حل ايي	حلوايي ستن نه لري.
	حلوايي څه لري؟
	هغه ټله لري
	او.....
حلوايي - حلوايي	

عنوان: دکلیدی لفظ ـ مچ ـ بنودنه دآخرحرف ـ چ ـ دپاره		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱	۱ ـ دکلیدی لفظ تصویری کارډ ته کتل . د مچ تصویر پېژندل اونوم ئې اخیستل . تشریح کول ځې اود حقیقی مچ سره ئې مقابله کول لکه څنګه چې پۀ تصویری کارډ کښې دے	دکلیدی لفظ ـ مچ ـ تصویری کارډ
۲	۲ ـ د مچانو پۀ باب خبرې کول : کله اوچرته پیدا کیږی ؟ د ضررونو پۀ باب ئې خبرې کول ، مرضونه تري پیدا کیږی ، د مچانونه د خوراک څښاک د څیزونو د ساتلو پۀ باب خبرې او د ځان نه د ژغورلو پۀ هکله خبرې اتري .	
۳	۳ ـ د حرف ـ چ ـ زده کول د لفظ پۀ آخرکښې (د لفظ پۀ سرکښې حرف ـ چ ـ پۀ ۳۲ نمبر درسی پلان کښې بنودل شوے دے) د دغه لفظ پېژندنه ، لوستل اولیکل .	
۴	۴ ـ دریم نمبر مشق پانړه استعمالول . الف : د مچ تصویراود لفظ پېژندنه کول . د لفظ ـ مچ ـ کربنوباندې اول کوته ګرځول ، بیاپرې پنسل ګرځول . ب : دوړومچانونۀ سرکښې د ـ م ـ نه دائیره تاوه ول اود لفظ مچ مکمل ول .	مشق پانړه پ ۱ ـ ۳۳ ـ ۳
۵	۵ ـ ځلورمه مشق پانړه استعمالول . الف : د الفاظو مچ ، مار ، لرم موندل ، لوستل اوکربنه تري تاوه ول اود خپل خپل تصویرسره ځې تړل . ب : دانډی وال سره نور ټول الفاظ لوستل ، ج : ځینې اسان الفاظ سلېټونوته نقلول .	مشق پانړه پ ۱ ـ ۳۳ ـ ۴ سلېټونه





پښتو اول ټولګی پ ا - ۵۲	عنوان: پۀ یوه تصویری قیصی ځان پوهول (۱)	
د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسی معاونات
	۱- د تانګو پۀ باب خپلې تجربې وئیل	
- د تانګو پۀ باب خبرې اترې شروع کول، دماشومانونه غوښتل چې د تانګو پۀ باب خپلې خپلې تجربې ووائی (۲)	- ماشومان پۀ خپل خپل وار د تانګو پۀ باب خپلې تجربې وائی، نورورته غوږ نیسی، تبصرې وربانديې کوی، پوښتنې کوی.	
	۲- پۀ یوه تصویری قصه ځان پوهول	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې اول تصویرته وګوری او تشریح ئې کړی.	- تصویر مطالعه کول او تشریح کول، هر یوماشوم یوه جمله وائی، نور ورته غوږ نیسی اوتبصرې پرې باندې کوی.	مشق پاڼه پ ا-۵۲-۱
- د ماشومانو حوصله افزائی کول چې پۀ تانګه کښې ناست سړے معلوم کړی چې څوک دے، چرته به روان وی او نور دا سې. (۳)	- څنګه چې تړې غوښتل شوی دی پۀ همغه شان تبصرې وربانديې کوی.	
- غوښتنه کول چې اوس دویم تصویرته وګوری او څۀ چې وینی همغه بیان کړی.	- لکه څنګه ئې چې اولنۍ تصویر بیان کړ دا هم همدغسې بیا ئې ول.	
- خواست کول چې دا ول او دویم تصویر پۀ منځ کښې به ستاسو پۀ خیال څۀ پیښ شوی وی همغه ووائی. (۴)	- څۀ چې پۀ دغه باب د دوی پۀ خیال کښې راځی چې د دغه دواړو تصویرونو پۀ منځ کښې به پیښ وی بیا نوی ئې.	
- پۀ دغو مختلفو امکاناتو باندې خبرې رهنمائی کول.	- پۀ دغو مختلفو امکاناتو باندې خبرې کول.	
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې دریم تصویر هم پۀ همدغه طریقه سره وګوری، دبحث رهنمائی کول.	- دریم تصویر ته کتل، تشریح کول ئې، بحث پرې باندې کول.	
	۳- د دغه ټولې قیصې وئیل	
- غوښتنه کول چې قیصې دې اندې وال ته بند پۀ بند (پۀ سلسله سره) وویلے شی. وار پۀ وار. (۵)	- اندې وال ته د قیصې وئیل، د نورو غوږ نیول.	
- یوتن ماشوم ته وئیل چې د ټول ټولګی پۀ مخکښې دغه قصه وکړه. (۵)	- یوماشوم قیصه کوی او نور ورته غوږ نیسی او تبصرې پرې کوی.	
- غوښتنه کول چې تصویرونه رنګ کړی او یاکۀ کیدے شوه نو پرداز ورکړی (سورے کول)	- تصویرونه رنګول / پرداز (سورے) ورکول.	

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۲	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ ډول تبصرې :

۱- تصویری قصه پۀ حقیقت کښې د دې د پاره وی چې ماشومانو ته د خبرو کولو شوق او موقع پۀ لاس ورشی. د همدې وجې نه د پرومو ماشومانو ته د خبرو کولو اود تشریحاتو د ورکولو موقع ورکول پۀ کار دی. د دوی حوصله - افزائی پۀ دې کښې پۀ کارده چې پۀ تصویر کښې دوی ته کوم څیز پۀ نظر راځی هغه پخپلو الفاظو کښې بیان کړی .

۲- استاد به د ماشومانو حوصله افزائی پۀ دې کښې هم کوی چې د نورو ماشومانو پۀ بیانونو کلمه کلمه تبصره وکړی . یواځې خپله تبصره پۀ څیزونو کافی نۀ دی. ماشومان به پۀ غور سره غوږ نیول زده کوی او فکر به کوی چې د دۀ ملګرې پۀ څۀ خبره کوی ، صحیح وائی کۀ غلط ، اوکۀ دے پکښې څۀ شک شبه لری ، یا د نورو ملګرو خبرې د دۀ خوښې دی یا د دوی پۀ شان تجربه دے هم لری او دا سې نور .

۳- استاد به خپله توجه د دې خبرې ته راکړی چې ماشومان پرو مبې پۀ اول تصویر تبصره وکړی. هرماشوم به د پرې خبرې نۀ کوی ځکه چې نورو ته د خبرو کولو موقع پۀ لاس نۀ ورځی .

۴- استاد به دا سې پوښتنې کوی چې : تانګې ته به څۀ پېښ شوی وی ، اس ته او خلکو ته به څۀ پېښ شوی وی .

۵- استاد ځینې ښې ښې ښاپې ورکولے شی. ماشومان هم پۀ قصه کښې د دا سې خبرو پۀ باب د خپلو خیالاتو - اظهار کوی چې پۀ تصویر کښې نۀ ښکاری مثلاً ، داخلک څوک دی؟ ، دوی چېرته ځی ، دوی پۀ څۀ وجه دیوځای نه بل ځای ته ځی . کله چې دغه قصه وویله شوه او خبرې پرې وشوې نو استاد به د ماشومانو حوصله افزائی کوی چې دوی اوس خپلې نورې نورې قیمې ووائی او د نورو ماشومانو قصې تکرار نۀ کړی .



د بل درسی پلان د ښودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

پ ا - ۵۲ - د وړپسې درس نمبر اول

عنوان: د تصویری قیمې بیا وئیل ؛ د کلیدی لفظ «ثمر» ښودنه د لفظ د رومبی حرف «ث» دپاره (۱)

د شاگردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د اولې مشق پانې تصویرونو ته کتل ؛ قصه را پۀ زړۀ کول ، ټول ټولګی ته د دغې قیمې بیا ویل (دوه یا درې ځله) .	مشق پانه پ ا - ۵۲ - ۱
۲- د کلیدی لفظ «ثمر» تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل ، د مختلفو میوو پۀ باب خبرې کول چې کومې ئې خوښې دی او کومې ئې نۀ دی خوښې او دا سې نور. دا معلومات حاصلول چې لفظ «ثمر» نورې معنی کا نې هم لری .	د کلیدی لفظ «ثمر» تصویری کارډ
۳- کلیدی لفظ «ثمر» ښودل او د حرف «ث» د شکل او آواز ښودنه د کتابی علامې مطابق .	
۴- د مشق پانې د ښی اړخ ، د سر او لاندینۍ برخې نه کار اخیستل او د نوی لفظ او نوی حرف د لوستلو او لیکلو مشق کول (۲)	مشق پانه پ ا - ۵۲ - ۲
۵- د نوو الفاظو لوستل :	
الف : د مشق پانې کښه خوا مطالعه کول ، د میوو د مختلفو انسامو پېژندل ، نوی الفاظ پیدا کول .	
ب : د دغه میوو نومونه اخیستل ، د هغوی خپل خپل متعلقه لفظ پیدا کول ، الفاظ او تصویرونه سره وصل کول (تړل) ، د دغه الفاظ خوځوځله لوستل .	

پ ا - ۵۲ ، وړپسې درس نمبر اول د دې د «وړپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(۱) د لفظ په سرکښې د حرف «ث» دپاره یو حقیقي څیز نشته ، دې دپاره لفظ «ثمر» معرفي کړے شو. عام طور سره لفظ میوه استعمالیږي . لفظ «ثمر» د عربی نه اخیستے شوے دے .

(۲) که چرې د کلیدی لفظ د ښودلو د مشق پانې جوړښت ایکی یوشان وی نو په دې وخت کښې د قدمونو د تفصیل ذکر مونږ نۀ کوو او صرف دا خبره به کوو چې : د مشق پانې د ښی اړخ ، د پاسنۍ خوا او لاندینۍ خوانه کار واخلئ .

پ ا 2-52	ث ث ث ث
پ ا ۲-۵۲	

ثمر ثمر
ثر ثر
ثمر
ثمر ثمر
ثمر

ثمر

کیله

اڼ

انار

انګور

ثمر- ثمر

عنوان : دکلیدی لفظ ،ذخیره ، ښودنه دلفظ دړومبی حرف ،ذ ، دپاره ،دالفبا دړومبو شپږو حروفو پۀ یادونه کول .		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- دلفظ ،ثمر ، تکرارول (دکلیدی لفظ تصویری کارډ ښودل ؛ دغه لفظ لوستل ؛ پۀ پټوستګو ئې پۀ ګوته پۀ هوا کښې لیکل ؛ دیادونه ئې (دخپلې ګانه) پۀ سلیټونو خوځولې لیکل).		دکلیدی لفظ ،ثمر ، تصویری کارډ ،سلیټونه
۲- دکلیدی لفظ ،ذخیره ، کارډ د تصویر مخ ته کتل ؛ د ذخیرو پۀ باب خبرې اترې کول .		دکلیدی لفظ ،ذخیره ، تصویری کارډ
۳- دکلیدی لفظ ،ذخیره ، خط (لیکنه) او د حرف ،ذ ، د آواز او شکل ښودل ، د کتابی علامې نه کار اخیستل		
۴- د مشق پاڼې د ښې اړخ ، پاسنۍ خوا او لاندینۍ خوا نه کار اخیستل او د دغه نوی لفظ او حرف د لوستلو او لیکلو مشق کول .		مشق پاڼه پ۱-۵۲-۳
۵- د مشق پاڼې د ګڼې خوا نه کار اخیستل او د الفبا ړومبې شپږ حروفه تکرارول :		مشق پاڼه پ۱-۵۲-۳
الف: مشق پاڼه مطالعه کول ، وګیل چې ټول الفاظ نامکمل دی ، تشریح کول چې د کوم طرف نه او څنګه نامکمل دی .		
ب : د الفاظو مکملول د الفبې ترتیب تعقیبول ، همیشه د سر د حرف نوم اخیستل ، د نقطو شمیره او پوزیشن پۀ زړه کول.		
ج : دغه شپږ حروف پۀ خاص ترتیب سره پۀ یاد و زده کول ؛ د الفبې د نظم د دوه شعرونه چې پۀ هر یوۀ کښې د ر پې د ر حروف دی استعمالول (۱)		

د د ج ، ورپسې درس نمبر دوئیم ورپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱- دا د الفبې د حروفو د پۀ یاد و زده کولو یوه برخه ده . ماشومان به د الفبې ټول حروف پۀ یوه معنی لرونکی طریقه سره پۀ را تلونکو سبټونو کښې قدم پۀ قدم زده کړی .

ذ ذ ذ						پ۱ 3-52	
						پ۱ ۳-۵۲	
خیره ذخیره	ا	ب	پ	ت	ټ	ث	
ذخیره	بابا		س		بیشو		
ذخیره	بیشو		ثمر		ثله		
ذخیره	ثله						
ذخیره	ثمر				ښال		
ذخیره	ښال		بابا		س		
ذخیره							

پښتو اول ټولګی	عنوان: د الفبې درسونو بنودنه ؛ د الفبې درسونو برخې پۀ نظم کښې پۀ یادونه (۱)
پ ۱ - ۵۳	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د الفبې پومبی دولس حروفونه پۀ یوه منظم سیستماتیکه طریقه جوړښت ورکول	
- غوښتنه کول چې پۀ تخته ورځ کښې زده کړے شوی حروف پۀ یادو ووائی .	- د الفبې پومبی شپږ حروف پۀ درې درې حروفونو کښې پۀ یادو وئیل ؛ اول یو یو تن ځانله ځانله او بیا پۀ ګډه سره .	
- د حروفو ج ، خ پۀ توره تخته لیکل .	- د دغه حروفو لوستل او نومونه ئې اخیستل .	توره تخته
- غوښتنه کول چې د غسې نور حروف پېژنې چې شکل ئې د دې حروفو پۀ شان وی ؟	- د دې شکل نور حروف را پۀ زړۀ کول ؛ کوشش - کول چې ح ځ چ څ را پۀ زړۀ کړی .	
- د مشق پاڼې پ ۱ - ۵۳ - ۱ د مطالعه کولو غوښتنه کول .	- مشق پاڼه مطالعه کول .	مشق پاڼه پ ۱ - ۵۳ - ۱
- غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پۀ سر کښې د حروفو نومونه واخلی او آوازونه ئې تلفظ کړی .	- د حروفو نومونه اخیستل او د آوازونو تلفظ ئې کول .	
- د الفاظو د لوستلو غوښتنه کول [کۀ چېرې یو ماشوم د د الفاظو پۀ باب څۀ ونۀ وائی نو استاد به پوښتنه کوی چې پۀ د غو الفاظو کښې څۀ غلطی شته اوکنه !]	- پته لګول چې تکی او همزه نشته .	
- غوښتنه کول چې الفاظ د اندې وال سره ولولی ، پۀ حروفو خپل مناسب تکی وکړی او الفاظ د خپل - متعلقه حروفو سره و ترې	- د دوو دو رکسو پۀ خاموشۍ سره کار کول ، د الفاظو لوستل ، نقطې او همزه پرې اچول ، الفاظ د حروفو سره ترل .	
- غوښتنه کول چې حروف او کلیدی الفاظ ټول - تولګی ته ولولی او مقایسه ئې کړئ .	- تولګی ته لوستل ، یو ماشوم یو حرف او یو لفظ ، مقابله کول او اصلاح یې کول .	
	۲- د الفبې د سیستم (ترتیب) بنودل د کل پحیث	
- د ځانله ځانله حروفو د یوالی چارټ وړاندې کول	- چارټ ته کتل .	د الفبې یو حرفي - چارټ
- کوم حروف چې پېژنې د هغوئ د بنودلو او نومونو اخیستلو غوښتنه	- مشاهده کول ، بېل بېل ماشوم حروف بنئ او نومونه ئې اخلی .	
- د هغو حروفو پیدا کولو او بنودلو غوښتنه کول چې نو اوسه ئې نۀ دی زده کړی .	- د هغو حروفو معلومول چې نۀ ئې دی زده کړی ، پته لګول : پ ، ب ، س ، ض ، ظ ، ع	
- وئیل چې تاسو به دا نوی حروف او د الفبې نور ټول حروف زر پۀ یاد و زده کړئ .	- غوږ نیول او پۀ خبره پوهېدل .	
- غوښتنه کول چې پومبی دولس حروفه د نظم پۀ شکل کښې ولولئ ، اول یو یو تن او بیا ټول پۀ یوه - آواز سره .	- خوښ ځله د دغو حروفو لوستل ، اول یو یو تن او بیا پۀ ګډه سره .	نظم د درسي پلان سره دے
- د هرو څلورو ستونو د پاره دیو د رې حرفیز بیت وړاندې کول ؛ غوښتنه کول چې د مانه روسته - تکرار وکړئ !	- نرغه پورې وئیل چې پۀ یاد و ئې زده شی .	
	۳- د الفبې د تصویری چارټ سره اشنا کېدل	
- غوښتنه کول چې د کار دکتاب پۀ آخر کښې چارټ مطالعه کړی	- د دغه چارټ مطالعه کول او د حروفو او کلیدی الفاظو پېژندنه کول چې د حروفو پۀ سر کښې بنئ .	د الفبې تصویری چارټ د کار دکتاب پۀ آخر - کښې
- د پومبیو څلورو قطارونو د حروفو د لوستلو غوښتنه او د متعلقه بیت ویل .	- هغې کول چې څنګه ترې غوښتنه شوې ده .	
- د لومړیو دولس حروفو او کلیدی الفاظو د تکرارولو غوښتنه کول پۀ خاموشۍ سره وړاندې نظم وئیل او کۀ کېدے شو د تصویرونو رنګول .	- د دغه حروفو او الفاظو د لیکلو مشق کول ، د نظم تکرارول د تصویرونو رنګول یا سوے (پرداز) د رکول او پۀ حروفو او الفاظو پنسل ګرځول	

درسی پلان نمبر: پ۱- ۵۳	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوری تبصری :

۱- ماشومانو تقریباً ټول حروف زده کړی دی ، اوس ددې وخت راورسیدچې دالفبې د حروفوسیستم(ترتیب)ورته وښودل شی . دماشومانو نه اوس ددې توقع کیږی چې دا ټول حروف (سیستم) پۀ یادوزده کړی . نو ددې د پاره چې زده کړه اسانه اومعنی لرونکې کړے شی نو دحروفو زده کول به قدم پۀ قدم پۀ نظم کښې کیږی اودنظم هر - بیت به درې حرفونه لری. دحروفو ترتیبول دنظم پۀ شکل کښې به شاګردان دې ته تشویق کړی چې دنظم پۀ وزن سره خبرې وکړی اودا طریقه معمولاً دماشومانو خوښه وی د الفبې دیوحرفی چارټ د ښودلو پۀ وخت کښې به استاد هغه حروف یا پټوی اویا به ئې پۀ ښنه کوی چې پۀ ټوله الفبې کښې د مستقلو حروفو پۀ حیث نۀ ښودل کیږی . لکه وړوکې ه ، ء او اوږده ے . پۀ پاکستانی سکولونوکښې به استاد د ،ن، حرف پۀ شکل خبرې کوی . اختیار لری چې پۀ دغه شکل ئې ښئی اوکنه ؟

ماشومان به د الفبې حروف دتصویری چارټ پۀ بنیاد زده کوی کوم چې دکاردکتاب پۀ آخرکښې ښودل شوے دے اود موبه سرحد د تیکست بک بورډ د اصول سره سمون لری . پۀ افغانی نمونه کښې به حرف ن پۀ مناسب ځای کښې پۀ نظر درشی .

۲- استاد به ماشومانو ته وائی چې د دې چارټ تصویرونه پۀ احتیاط سره رنګ کړئ . ځکه چې د دې چارټ نه به بیا بیا کار اخیستل کیږی . ددې وجې نه پاک ساتل ئې پۀ کار دی .

ا ب پ - چې خوب وکړمه دشپې

ت ټ ث - سحر پلار وي راپسې

ج چ ح - وایي واچوه جامې

خ څ ځ - شابه ځه ترمدرسې

ج	چ	ح	خ	څ	ځ	پ۱	1-53
						پ۱	1-۵۳

حرکت حلوایي حارو حر

حیلی حنکل

حیلی حارو حر

حنکل حلوایي حرکت

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

عنوان:	د الفبې د حروفو زده کړه جاري ساتل. د نورو شپږو حروفو د پاره د دوه نورو پښتونتو بنودل، د کلیدی لفظ «روند» بنودل د سرد حرف «ر» د پاره

د شاگردانو / استاد مشغلې	د رسی معاونات
۱- د کلیدی لفظ «روند» د تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل؛ د روند و خلکو او د دوی د مشکلاتو پۀ باب خبرې کول؛ تصور کول چې سړے روند وی نو څنګه چلوی.	د کلیدی لفظ «روند» تصویری کارډ
۲- د کلیدی لفظ «روند» خط (لیکنه) اود حرف «ر» د شکل اوآواز زده کول، د کتابی علامې نه کار اخیستل (۱)	
۳- پۀ معموله طریقه سره د مشق پانې د بنی اړخ، د سر اوآخر قطار نه پۀ کار اخیستل.	مشق پانه پ۱-۵۳-۲
۴- د مشق پانې پۀ ګڼه خوا کښې د تیکسټ (متن) لوستل؛ اول پۀ دوه دوه کسه اوبیا ټول ټولګی ته.	
۵- د الفبې د روښانه خلورو مصرعو تکرار ول: یواځې یواځې اوپۀ یوۀ اواز سره د نظم ویل.	
۶- د نورو شپږو حروفو د پاره د دوه نورو مصرعو زده کول، د الفبې پۀ چارټ کار کول. کۀ ممکنه وی د تصویرونو رنګول.	د دوه نورې مصرعې د رس سره دی

پ ا- ۵۳، وړپسې درس نمبر اول د دې «وړپسې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(۱) د «ر» او «ړ» حرفونه به پۀ شکلونو او اوآزونو کښې سره مقابله (مقایسه) کیږی.

د ډ ذ - پیسې راکړې یم خوشحال

ړ ږ ز - دی ملګرې زما دې

	پ۱ 2-53
ړ ږ ړ	پ۱ ۲-۵۳

ړوند وند	یو ړوند راځي.
ړ ند ږ ند	هغه امسا لري.
ړوند	زرین او نازو ړوند وینې.
ړ و ند وند	ړوند زرین اونازونه وینې.
	هغه کور نه وینې.
	ړوند نه وینې.

ړوند - ړوند

عنوان: دکلیدی لفظ ـ بڼمنځ ـ ښودل د لفظ د پومبی حرف ـ بـ ـ دپاره؛ دکلیدی الفاظو اوحروفوتکرارول	
د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- دکلیدی لفظ ـ بڼمنځ ـ تصویری کارډ د تصویرمخ ته کښل اوکئ پئ خپله بڼمنځ وی هغې ته کښل؛ دبڼمنځ‌ولو پئ ضرورت اودپاکې بـ منځ پئ اهمیت خبرې کول ،۱،	پخپله بڼمنځ یادهغې تصویری کارډ
۲- دکلیدی لفظ ـ بڼمنځ ـ دخط (لیکنې) اود حرف ـ بـ ـ د شکل اواواز زده کول دکتابی علامې مطابق ،۲،	
۳- د نوی لفظ ـ بڼمنځ ـ دلوستلو اولیکلو دمشق کولو دپاره پئ معموله طریقه دمشق پاڼې د بنی اړخ، د سر او آخری کرښو نه کار اخیستل.	مشق پاڼه پ۱-۵۳-۳
۴- دمشق پاڼې پئ ګڼ اړخ کښې د تیکسټ (متن) لوستل.	
۵- څلورمه مشق پاڼه مطالعه کول: دمشق پاڼې پئ اطرافوکښې پئ بکسونو کښې دالفبې د سیستم پئ ترتیب ۲۱ حروف پیدا کول؛ پئ منځ کښې کلیدی الفاظ پیدا کول.	مشق پاڼه پ۱-۵۳-۴
۶- پئ مشق پاڼه کارکول:	
الف: کلیدی الفاظ دمتعلقه حروفوسره نښل.	
ب: کلیدی الفاظ اود سرحروف ئې یوځای لوستل.	
ج: حروف د دریوو پئ ګروپ کښې لوستل.	
د: نښکومه پورې چې دالفبې نظم زده کړے شوے دے ترهغې پورې ئې ویل.	

پ۱-۵۳، ورپسې درس نمبر دوئیم د دې ورپسې درس پئ باب څخه نورې تبصرې

۱- د روغتیا د ساتنې د پاره پاکوالے یوضروری شرط دے. د دې وجهې نه به استاد موقع نه کار اخلی او د پاکوالی (نظافت) پئ باب به خبرې کوی او یا به ئې عملاً ښئ. استاد به په هغر طریقو زوراجوی چې د ماشومانو د عادت سره سمون ولری لکه د ځای پاکول، د غاښونو پاکول، پاکې اوبه څښل وغیره.

۲- د حرف ـ بـ ـ شکل او آواز به د حرف ـ ب ـ د شکل او آواز سره مقابله کیږی.

پ۱ 3-53	ب ب ب
پ۱ ۳-۵۳	

بڼمنځ بڼمنځ

منځ

بڼمنځ بـ نځ

بـ مـځ منځ

دا بڼمنځ دے.
بابا یوه بڼمنځ لري.
ښځه یوه بڼمنځ لري.
نازو اوزرین یوه بڼمنځ لري.
پیشو بڼمنځ نه لري.

بڼمنځ - بڼمنځ

	ا	ب	پ	ت	ټ		پ۱ 4-53 پ۱ ۴-۵۳
س	پیشو	بابا	تله	ثمر	چرک		ث
ښ	ستر که	اس			حلوایي		ج
ړ	ژبه	تال					چ
ز	بڼمنځ	دیګ			جارو		ح
ږ	زانګو	رسی	دول	ځنګل			خ
	روند	ذخیره	څپلی	خر			
	ر	ذ	ډ	د	ځ	څ	

پښتو اول ټولګی	عنوان: د لفظ «سره» (جار- توری) ښودل، د الفبې درزده کړې جاری ساتل	54
پ ۱ - ۵۴		

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسی معاونات
	۱- د الفبې زده کړه جاری ساتل	
- غوښتنه کول چې نظم اوزده کړی حروف بیا ووائی. - غوښتنه کول چې د حروفو تصویری چارټ ته وګوری او نور دریې حروف او الفاظ ولولئ. - د دې حروفو د نظم معرفی کول (ښودل).	- د حروفو د نظم ویل. - د حرف «ژ» نه ترحرف «س» پورې د حروفو لو- ستل اوکلیدی الفاظ هم خوخوځله لوستل. - د دې حروفو د نظم زده کول.	د حروفو تصویری چارټ د کارد کتاب پۀ آخر کښې (نظم درسی پلان کښې دے)
	۲- پۀ جملو کښې د لفظ «سره» استعمالول؛ خط ئې زده کول	
- غوښتنه کول چې مشق پاڼه وګوری اوخۀ ئې وینځۀ بیان ئې کړی. - دا سې پوښتنې کول لکه: (۱) «د ړوند سره څۀ دی؟» - د ماشومانو نه غوښتنه کول چې اوس تاسو پخپله پوښتنې وکړئ. - غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پۀ سرکښې لفظ ولولی ○ د حروفو د نوم اخیستلو غوښتنه کول. ○ غوښتنه کول چې د دغه حروفو آواز ونه وباسی او د لفظ سره تلفظ وکړی. ○ د دغه لفظ ډبیا تلفظ کولو غوښتنه کول. - پۀ توره تخته د دغه لفظ پۀ مزه مزه لیکل. - غوښتنه کول چې پۀ هوا کښې د دغه لفظ د لیکلو- مشق وکړی. - غوښتنه کول چې پۀ غټ لیکلے شوی لفظ «سره» پنسل وګرځوی. - غوښتنه کول چې د لفظ «سره» پۀ لیکلو کښه مکمله کړی.	- د مشق پاڼې مطالعه کول او پۀ تصویرونو باندې - تبصره کول. - پۀ یو یو تن د پوښتنو جوابونه وئیل پۀ مکمل جلو کښې لکه: «امساد ړوند سره دے.» - یو یو ماشوم د مشق پاڼې د ښیاد مانو پۀ باب - پوښتنې کوی. - د دغه لفظ د لوستلو کوشش کول. ○ د س، ر، ه حروفو معلومول اونومونه ئې اخیستل. ○ اواز ونه ئې وباسی او د لفظ «سره» تلفظ کول. ○ د دغه لفظ بیا تکرارول. - ورته کتل چې د دغه لفظ څنګه لیکل کیږی. - پۀ هوا کښې ئې پۀ کوته لیکل. - څوخوځله پۀ دغه لفظ د پنسل ګرځول. - د لفظ «سره» کربنه مکملول.	مشق پاڼه پ۱-۵۴-۱ توره تخته مشق پاڼه پ۱-۵۴-۱
	۳- دا سې جاړې لوستل چې لفظ «سره» پکښې وی	
- غوښتنه کول چې پۀ دوه دوه کسه جاړې ولولی، وار پۀ وار. - غوښتنه کول چې تصویرونه د جملو سره اندول (مقابله) کړئ. - غوښتنه کول چې متعلقه شمېرې پۀ بکسونو کښې ولیکئ. - غوښتنه کول چې د دغه جاړې ټولګی ته ولولئ.	- پۀ دوه دوه کسه د جملو لوستل. - تصویرونه د جملو سره اندول کول. - شمېرې پۀ بکسونو کښې لیکل. - جاړې ټولګی ته لوستل (یو ماشوم یوه جمله)	

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۴	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوري تبصري :

۱- دژبې پۀ دغسې مشقونو کښې به استاد داخبره نۀ هېروی چې ماشومان به پۀ وضاحت او مکملو جملو کښې خبره کوی.

د دې خبرې یا داشت پۀ کار دے چې پۀ روانه تحریری ژبه کښې لفظ ،سره، کله کله او یا پۀ خپلو علاقو کښې پوره نۀ ادا کیږی بلکې د ،سه، پۀ شکل اختصار موی .خواستا د به د صحیح لفظ "سره" پو ښتنه کوی .

ژبرس - کل، اختراوهم زرین

سره - سره-	پ۱ ۱-۵۶
	پ۱ ۱-۵۴



۱ امسا د رونده سره ده.
۲ ترښۀ د بابا سره ده.
۳ قلم د نازو سره دی.
۴ طوطي دزرین سره دی.
۵ شمع د فقیرسره ده.
۶ تله د حلوایي سره ده.
۷ بنځه د بابا سره ده.

لیښتو اول ټولګی پ ۱- ۳۴	عنوان: د لفظ پۀ آخر کښې د حرف "ن" د پاره د کلیدی لفظ "ښتن" تعارف	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معارنات
	۱- دیوې ستنې پۀ باب خبرې کول اوپۀ لاس راخیستل ئې	
- دیوې ستنې ښودل چې تار پکښې وی	- ستنې ته کتل ، نوم ئې اخیستل ، شکل ، سایز اومختلفې برخې ئې تشریح کول .	حقیقی څیز: ستنه دتارسره.
- دماشومانونه پوښتنه کول چې کوم قسم ښتنې پټرنې اودځۀ دپاره دی .	- د ستنوپۀ باب اودهغوی داستعمال پۀ باب خبرې کول .پۀ تخته اوسلیټونر ستنې جوړول	توره تخته/سلیټونه
- څوکسه شاګردان د ټولګی مخې ته رابلل چې حقیقی ستنې داستعمال عملی مظاهره وکړی یا ئې نقل وکړی	- دغه څرنګه شاګردان د ټولګی پۀ مخ کښې د کنډلو کوښش کوی (داسې کوی لکه چې کنډل کوی)	ځۀ کپړه ،څو ستنې اولنډ ځۀ تار
- دماشومانونه پوښتنه کول چې د ستنې داستعمال په وخت کښې د ځۀ شی خیال ساتل پۀ کار دی.	- د ستنې د خطرپۀ باب اوپۀ ستنه دخوزېدلونه د بچ کېدلو پۀ باب خبرې کول.	
	۲- د حرف "ن" شکل اوآواز زده کول اولفظ "ستن" زده کول.	
- دکلیدی لفظ کارډ "ستن" ته اشاره کول .	- دکلیدی لفظ کارډ ته کتل ، د ستنې د تصویر پټرنه کول ، نوم ئې اخیستل او داصلی ستنې سره ئې مقابله کول	دکلیدی لفظ کارډ "ستن"
- د ستنې لفظ ته اشاره کول ، څوځوځله ئې لوستل اوپۀ لفظ کښې پۀ آخری حرف "ن" زور راچول .	- د معلم نه ړوسته دلفظ لوستل څوځوځله	
- دلفظ سره برخې ته کتل ، د ماشومانونه غوښتنه چې د حرف تلفظ وکړی - مرسته کول (۲)	- څوځوځله دلفظ تلفظ کول ، کوشش کول چې د واولز (حرکې توری) نه غیر د حرف "ن" آواز ووائی ، یویو تن د "ن" آواز تلفظ کوی	
- حرف "ن" ته اشاره کول اووئیل چې ددې حرف نوم "ن" دے	- د حرف "نون" نوم څوځوځله وئیل	
- د حرف "ن" د لیکلو عملی مظاهره پۀ توره تخته کول .	- مشاهده کول .	
- پۀ ګوته سره پۀ هوا کښې د حرف "ن" د لیکلو مظاهره کول	- پۀ هوا کښې پۀ ګوته سره د "ن" لیکل	
- پۀ څوتنو ماشومانو باندې پۀ توره تخته د "ن" لیکلو مشق کول	- څوتنه ماشومان پۀ تخته د لیکلو مشق کوی ، نور پۀ خپلو سلیټونو مشق کوی .	توره تخته ، سلیټونه
- ماشومان پرېښودل چې دغه ټول لفظ بیا ولولی	- څوځوځله دلفظ "ستن" لوستل یواځې یواځې اوپۀ کډه سره پۀ یواواز	
	۳- د حرف "ن" اولفظ "ستن" دلوستلو مشق کول	
- غوښتنه کول چې د مشق پانړې ښی اړخ ته دې وکتل شی	- مشق پانړې ته کتل ، د حرف "ن" پټرنه کول د نورو نښوپۀ منځ کښې اوکرښه ترې تاوه ول	مشق پانړه پ ۱- ۳۴- ۱
- غوښتنه کول چې د مشق پانړې کچې خواته وګوری او پۀ دې برخه د کار کولو طریقه تشریح کوی او لارښوونه ئې کوی .	څوځوځله پۀ حرف "ن" پنسل ګرځول - د مشق پانړې کچې خواته کتل ، د ستنې تصویر او د ستنې دلفظ پټرنه کول . ۵ پۀ نورو لفظونو کښې د "ستن" لفظ معلوموی ، کرښه ترې تاوه وی او د تصویر سره ئې ترې . څوځوځله پۀ لفظ "ستن" پنسل ګرځوی ۵ نور ټول لفظونه داندې وال سره لوستل : یوماشوم لفظ ته اشاره کوی او بل ئې لولی وارپۀ وار (۳) ، د "ن" کرښه مکمل	

د بل درسی پلان د بنودلو نه مخکښې د وړپسې درسونو خاکې

پ ا - ۵۴ - وړپسې درس نمبر اول

عنوان : دکلیدی لفظ «صندُوق» بنودل دلفظ دپومبی حرف «ص» دپاره ؛ پۀ تقریری اوتحریری ژبه کښې دلفظ «سره» تکرارول .	
دشاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- پۀ زبانی طور دلفظ «سره» تکرارول : ماشومان پوښتنې کوی اوجوابونه ورکوی: «تاسره څۀ دی ؟» «ماسره پنسل دے .»	
۲- دلفظ «سره» دخط تکرارول : پۀ تخته یا سلیټونو د هغې لیکل (نقلول) ، دیا دونه ئې لیکل.	تورہ تخته - سلیټونه
۳- دکلیدی لفظ صندُوق بنودل :	دکلیدی لفظ «صندوق»
الف : دکلیدی لفظ تصویری کارډ ته کتل ؛ دخپل پۀ باب خبرې کول .	تصویری کارډ
ب : دلفظ صندُوق اود حرف «ص» لیکل پۀ اوان اوشکل کښې دهغوئ زده کول اود معمولو قدمونو نه کاراخیستل (ا) ؛ ددغه لفظ دلوستلو او - لیکلو مشق کول اومشق پاڼه پۀ معموله طریقه استعمالول.	
۴- دمشق پاڼې پۀ ګټ اړخ کښې جملې لوستل : اول پۀ دوه دوه کسه اوبیا ټول ټولګی ته.	مشق پاڼه پ ا - ۵۴ - ۲

پ ا - ۵۴ ، وړپسې درس نمبر اول ددې ځای وړپسې درس پۀ باب څۀ نرې تبصرې

۱- ماشومان به دا زده کوی اوپۀ خیال کښې به ئې ساتی چې د حرف «ص» آواز د حرف «س» د آواز سره پۀ پښتو ژبه کښې پۀ زبانی طور کوم فرق نۀ لری. استاد به دا خبره وائی چې دا یوخاص عربی حرف دے چې پۀ پښتو کښې ترې کار اخیستل کیږی .

ص - صـ - ص - صـ	پ ا 2-54
ص - صـ	پ ا ۲-۵۴

صندو صند ق  صند ق صندو صندوق ندوق ندوق	دا یو صندوق دی . صندوق چیرته دی ؟ صندوق په کور کښې دی . صندوق په میز باندې دی . په صندوق کښې څه دي ؟ په صندوق کښې یو ډول اویوه جارو ده
صندوق	

د درس نمبر ۴۰ د درسي ورځې - پا/۵۴-	عنوان : دالفبې دزده کړې جاري ساتل ؛ د مختلفو شکلونو ځینې حروفو سره برابرول او د ځینو مشکلو کلیدي الفاظو تکرارول چې اوس اوس زده کړے شوي دي .	
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
	۱- د الفبې د نظم تکرارول ؛ د حروفو پۀ تصویري چارټ کارکول : د یو نوي بیت زده کول تر کومه ځایه چې حروف په یاد وزده کړے شوي دي تر هغه ځایه تصویرونه رنګول . ۲- د مشق پانړې پاسنۍ برخه کتل . د حروفو نومونه اخیستل ، د حروفو نیمو او پوره شکلونو ته ارتباط ورکول او د یوې کرښې پۀ ذریعه ئې ټرل . ۳- د درئیمې مشق پانړې لاندینۍ برخه مطالعه کول : الف : د تصویرونو پېژندل او د خپلونو نومونه اخیستل . ب : پۀ دوه دوه کسه کارکول : د الفاظو لوستل (یوتن لفظ ته اشاره کوي او بل ئې لولي وار پۀ وار) . ج : تصویرونه او الفاظ سره یوځای کول . ۴- : پۀ خاموشۍ سره کارکول ؛ د الفاظو پۀ کرښو پنسل کرځول څوځوځله ، د ټولو نه پۀ سختو الفاظو ډېر کار کول .	دکار دکتاب پۀ آخر کښې د حروفو تصویري چارټ ، نظم ورسره د مشق پانړه پا۱-۵۴-۳

ش ښ ص - دوی همبش وي زما یاد

پا۱ 3-54	ښ	ص	غ	ح	م	ق	ځ
پا۱ ۳-۵۴							
	ح	ق	ښ	ځ	ص	غ	م



روند

ذخیره

حلوایي

صندوق

ثمر

برمنځ

فقیر

شمع

-۹۱-

پښتو اول ټولګی پ۱ - ۵۵	عنوان: د لفظ «دپاره» بنسټ	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- په ژبنی طور لفظ «دپاره» استعمالول: الف: د مشغلې په ارتباط ب: د یوسړي په ارتباط	
- یو پنسل بنسټ او یو بنسته ګول چې «پنسل د څه دپاره دے؟»	- غږ نیول او جواب ورکول: «پنسل د لیکلو دپاره دے.»	
- د همدغه شان پوښتنې ګول.	- لفظ «دپاره» استعمالول او په مکمل جمله کې جواب ورکول.	
- اوس د ماشومانو څخه بنسته ګول چې د ټولګي د څیزونو په باب پخپله د یو بل نه پوښتنې وکړي.	- په همدغه شان پوښتنې جاري ساتل، یو یو تن پوښتنه کوي او نور جواب ورکوي.	
- پوښتنه ګول: «کرسۍ دې څه دپاره ده؟»	- جواب ورکول: «کرسۍ د ناستې دپاره ده.»	
- د ماشومانو نه غږ بنسته ګول چې سوال جواب همدغسې جاري وساتئ، د څیزونو په باب پوښتنې ګول چې په چاپیر کې تعلق لري لکه: «د جماعت کمره د چا دپاره ده؟» «د جماعت کمره د طالب علمانو دپاره ده.»	- په همدغه شان جاري ساتل، د څیزونو په باب پوښتنې ګول او جوابونه ورکول چې دچادي.	
	۲- د لفظ «دپاره» لیکل زده کول (۱)	
- په توره تخته دا جمله په مزه مزه لیکل: «لور د بابا دپاره دے» او غږ بنسته ګول چې دغه جمله ولولئ.	- د دغه جملې لیکلو ته کتل، او د لوستلو کوشش پرې کول	توره تخته
- غږ بنسته ګول چې د نوي لفظ حروفو ته وګورئ او لفظ خو خو ځله ولولئ.	- د حروفو پېژندل او د دغه لفظ خو خو ځله لوستل.	
- د یوې هجا «سلیل» نه بلې هجا ته اشاره کول تر څو لفظ مکمل شي.	- د هرې هجا (سلیل) وېشل چې استاذ ورته اشاره کوي، دا شان د لفظ تلفظ په مزه مزه کول.	
- لفظ «دپاره» په توره تخته په مزه مزه، په غټ خط او واضحه طور لیکل.	- ورته کتل چې استاد دغه لفظ څنګه لیکي.	توره تخته
- غږ بنسته ګول چې دغه لفظ په هوا کې په ګوته ولیکئ.	- په هوا کې د ګوتې په ذریعه لیکل.	
- غږ بنسته ګول چې یو یو تن دې وار پر وار په تخته ولیکي او نور دې په سلیټونو ولیکي.	- په توره تخته باندې ځانله ځانله مشق کول، او د نورو په خپلو سلیټونو لیکل.	توره تخته، سلیټونه
- غږ بنسته ګول چې په مشق پاڼه کې په غټ لیکلې شوی لفظ «دپاره» باندې پنسل وګرځوئ.	- همد غسې کول.	
- غږ بنسته ګول چې د لفظ «دپاره» په لیکلو کې بنسه مکمله کړئ.	- د لفظ «دپاره» کې بنسه مکمل.	مشق پاڼه پ۱-۵۵-۱
	۳- په ورکړے شوی مضمون کې بنې لفظ «دپاره» استعمالول. دا سې جملې لوستل چې لفظ «دپاره» ولري.	
- غږ بنسته ګول چې د مشق پاڼې بنې اړخ وګورئ.	- همدغه اړخ کتل او معلومول چې د هرسړي دپاره یو شے دے.	مشق پاڼه پ۱-۵۵-۱
- غږ بنسته ګول چې جملې جوړې کړئ.	- جملې جوړول لکه: «امساد ډوند دپاره ده.»	
- د مشق پاڼې ډکې خوا د مطالعه کولو غږ بنسته ګول.	- د دغه خوا مطالعه کول او پته لګول چې د جملو لوستل په کار دی او جملې دا سې مکمل غواړي چې په بنې اړخ کې بنې لیکلی شوی الفاظ د ښیا د مانو او څیزونو دپاره استعمال کړي.	
- غږ بنسته ګول چې دوه په دوه کار وکړئ.	- په دوه دوه کسه کار کول، لوستل، خالي ځایونه ډکول.	
- غږ بنسته ګول چې جملې د یو ټول ټولګي ته ولوستل شي (یو ماشوم یوه جمله)	- یو یو تن جملې لولي، نور ورته غږ نیسي او مقابله کوي پرې.	

-92-

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۵	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نظرې تبصرې :

۱- لفظ ،دَ پاره ، دې هجاګانې لرې دَ - پا - ره کۀ چېرې لفظ پۀ مزه تلفظ شی نو سړے پرې ښۀ پوهېدے شی . د دې وجهې نه به د دې لفظ تلفظ پۀ مزه مزه کوئ اود هرحرف بېلتون به راولئ .

د غه حروف ماشومان پېژنی .

پ۱	۱-55
پ۱	۱-۵۵

دپاره دپاره

ړوند	فقیر	زرین
ښځه	حلوایي	بابا
	نازو	
	دپاره	
	قلم	
ټال	ستن	تله
کټ	څپلی	امسا

څپلی د فقیر دپاره دي .

[ ] د ړوند دپاره ده .

[ ] د حلوایي دپاره ده .

[ ] د ښځې دپاره ده .

[ ] د بابا [ ] دی .

[ ] د زرین [ ] [ ]

[ ] د نازو [ ] [ ]

د بل درمې پلان د ښودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

پ ا - ۵۵ - وړې درس نمبر اول

عنوان : د کلیدی لفظ ،ضعیف، ښودل د لفظ د رومبی حرف ،ض، د پاره . د الفبې د حروفو د زده کړې جاری ساتل

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- د لفظ ،ضعیف، د خطی شکل تکرارول : د لفظ کارډ ته کتل ، لوستل ئې ، دیادونه ئې پۀ توره تخته لیکل .	د لفظ کارډ توره تخته
۲- د کلیدی لفظ ،ضعیف، تصویری کارډ د تصویر مخ ته کتل : د ضعیفو خلکو پۀ باب اود دوی د احتیاجاتو پۀ باب خبرې کول ، کیدے شی چې ماشومان کوم یو داسې سړے پیژنی چې هغه ته ضعیف وئیل کیدے شی .	د کلیدی لفظ ،ضعیف، تصویری کارډ
۳- د کلیدی لفظ ،ضعیف، اود لفظ ،ض، (ا) خطی شکل ښودل پۀ آواز او شکل کښې اود معمولې طریقې نه کارا خیستل ؛ د مشق پاڼې د ښې اړخ نه کارا خیستل او د لوستلو اولیکلو مشق ئې کول :	
الف : پۀ لفظ ،ضعیف، پنسل کرځول چې پۀ مختلفو سایزونو لیکلے شوے دے .	مشق پاڼه پ ا - ۵۵ - ۲
ب : د ،ض، اوږدې لیکلو سره کرښه مکملول .	
۴- د الفبې د حروفو برخې تکرارول اود مشق پاڼې کښه خوا استعمالول:	مشق پاڼه پ ا - ۵۵ - ۲
الف : د نظم وئیل .	
ب : غیب حروف لیکل .	

پ ا - ۵۵ ، وړې درس نمبر اول د دې وړې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱- د حرف ،ض، اواز پۀ تقریری ژبه کښې د حروفو ځ ، ظ ، ز سره په نزدې وئیل کیږی . استاد به شاګردانو ته وائی چې دا هم یو خاص عربی حرف دے .



عنوان: دلوستلومشق: هغه الفاظ اودجملو جوړښتونه تکرارول چې اوس اوس زده کړې شوی دی	
د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- دحروفو د نومونو بیا وئیل: د دریو پۀ ګروپ کښې دحروفو لوستل، د مشق پاڼې دآخرې نه شروع کول د دوئمې مشق پاڼې نه کار اخیستل. (۱) ۲- دریمه مشق پاڼه استعمالول: الف: د تصویرونو پېژندنه او تشریح کول ئې. ب: پۀ خاموشۍ سره پۀ دوه دوه کسه کارکول اود اندول جوابونو پیدا کول، د سوالونو مطابق جوابونو ته شمېره ورکول. ج: د سوالونو اوجوابونو د صحیح ترکیب لوستل (نوله نوګلی ته (یوماشوم یوسوال اوجواب) ۳- څلورمه مشق پاڼه استعمالول: الف: د مشق پاڼې مطالعه کول، پۀ هغې کښې دکارمعلومول. ب: هرماشوم پۀ خاموشۍ سره ځانله ځانله کارکوی: د د غه الفاظو لوستل، کوم الفاظ چې پۀ هرقطارکښې دوه دوه ځله لیکلے شوی دی د هغوی نه دایرې تاوه ول. ج: د نوګلی پۀ څېرکښې لوستل: اول هغه الفاظ چې دایرې تزې چاپېره شوی دی اوبیا نور الفاظ.	مشق پاڼه پ۱-۵۵-۲ مشق پاڼه پ۱-۵۵-۳ مشق پاڼه پ۱-۵۵-۴

د دې ورځې درس ۱-۵۵ ورپسې درس

پ ۱-۵۵، ورپسې درس نمبر دوئیم د دې ورځې درس پۀ باب څخه نورې تبصرې

۱- دا کافی نۀ ده چې ماشومان دې دالفبې حروف یواځې پۀ یادو زده کړې بلکې هر حرف به پۀ درې حالته (سره، منځ او آخر د لفظ) کښې پېژني. د دې وجهې نه به دوی د حروفو نومونه اخلی او د آخرې نه به شروع کوی. (ممکن سوالونه دادی: د آخره طرفه به دا څوک پۀ ټیزه ولوستلے شی؟).

پ۱ 3-55
پ۱ ۳-۵۵

۱	له کور نه څوک راځي؟	پۀ باغ کښې نازوده.
۲	بابا چیرته ځي؟	ګل نازو لري.
۳	پۀ باغ کښې څوک دي؟	د بابا سره رسۍ ده.
۴	زرین او بابا چېرته دي؟	۱ زرین له کورنه راځي.
۵	د بابا سره څه دي؟	بابا کور ته ځي.
۶	ګل څوک لري؟	زرین او بابا دکور سره دي

اوښ	بنځه	برش	بنځه	پ۱ 4-55 پ۱ ۴-۵۵
صندوق	خط	څپلی	صندوق	چاینک
شمع	غوا	روند	تال	روند
حلوایي	جارو	حلوایي	کټ	کډ
بس	ضعیف	باغ	ستن	ضعیف
سترګه	فقیر	چرګه	مچ	فقیر
ذخیره	طوطي	میز	زانګو	ذخیره

پښتو اول ټولګی	عنوان: د کورنۍ غړي پۀ کور کښې . د کورنۍ د نږدې غړو د پاره د الفاظو استعمالول ، ۱،
پ ۱ - ۵۶	

د استاد مشغلې	د شاګردانو مشغلې	درسي معاونات
	۱- د یوې کورنۍ پۀ باب خبرې کول	
- د کورنیو پۀ باب خبرې اترې شروع کول.	- خبرې کول پۀ هغو کسانو باندې چې د هره نږدې کورنۍ رابطه لري او پۀ هغو کسانو چې دومره سره نږدې نۀ وي .	
- د کورنۍ پۀ داخل کښې د خپلوي پۀ مختلفو رابطو خبرې کول لکه : ○ پلار دې څوک دے ؟ ○ زوی څوک دے ؟ ○ ورور څوک دے ؟	- د کورنۍ د نورو پۀ باب پوښتنې کول.	
- د کورنۍ د غړو د کارونو (وظایفو) پۀ باب پوښتنې کول.	- د کورنۍ د غړو پۀ باب خبرې اترې کول .	
	۲- پۀ تصویر کښې د کورنۍ ارتباطاتو پېژندنه - د نازو کورنۍ	
- غوښتنه کول چې د کورنۍ د ښځو ښځو غړو د پېژندلو او نوم اخیستلو د پاره مشق پانړه مطالعه کړئ.	- د مشق پانړې مطالعه کول او د کورنۍ غړي پېژندل او نوم اخیستل لکه پلار او نور.	مشق پانړه پ۱-۵۶-۱
- غوښتنه کول چې د غه مختلف خلک څۀ څۀ کوی - بیان ئې کړئ.	- پۀ تصویر کښې د خلکو د مشغلو بیانول، یو ماشوم یوه جمله .	
- پۀ تصویر کښې د کورنۍ پۀ باب د پرې پوښتنې کول، مثلاً : ○ نازو څو رونړه لري ؟ ○ پۀ کورنۍ کښې څو ماشومان دی ؟	- د کورنۍ متعلق د سوالونو جوابونه ورکول.	
- د مشق پانړې پۀ سر کښې د الفاظو د لوستلو غوښتنه کول ، وئیل چې دا نوی الفاظ دی .	- د د غه الفاظو د لوستلو کوشش کول : پلار، مور ، خور ، زوی ، لور ، ور .	
- کومک کول چې د غه الفاظ دې یو پۀ یو ولوستل شی : ○ پۀ مزه مزه پۀ تخته د د غه لفظ لیکل . ○ د د غه حروفو د نومونو اخیستلو غوښتنه کول. ○ غوښتنه کول چې د د غه لفظ تلفظ پۀ مزه مزه وکړئ.	- یو پۀ یو د د غه الفاظو لوستل زده کول : ○ ورته کتل . ○ د د غه حروفو نومونه اخیستل . ○ د لفظ تلفظ پۀ مزه مزه کول د کوم حروفو تهچې استناد اشاره کوی .	تخته
- غوښتنه کول چې د ترتیب نه پۀ غیر د غه الفاظ ولولئ ، اشاره ورته وکړئ ، اول یو یو تن او بیا پۀ ګډه سره.	- پۀ غیر د ترتیب نه چې الفاظو ته اشاره کېږی د هغوی لوستل پۀ ځانله ځانله او بیا پۀ ګډه سره .	
	۳- د اسې جملې لوستل چې نوی الفاظ ولری	
- غوښتنه کول چې د مشق پانړې پۀ لاندینۍ برخه کښې جملې ولولئ .	- خو خو ځله د د غو جملو لوستل (یو ماشوم یوه جمله) .	مشق پانړه پ۱-۵۶-۱
- غوښتنه کول چې د غه جمله پۀ دوه دوه کسه پۀ خاموشۍ سره ولولئ ، وار پۀ وار .	- جوړه جوړه د غه جمله لولی ، وار پۀ وار .	

-96-

درسی پلان نمبر: پ۱-۵۶	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوې تبصرې :

۱- پۀ دې درسې پلان کښې د نوی الفاظو لوستل اسان دی ځکه چې دا الفاظ دهغوکسانو نومونه دی چې دوی ورسره ډېرنزدیکت لری او ورسره اشنا دی. ددې وجهې نه مونږ دا زړۀ وکړچې پۀ یوه سبق کښې شپږ دغسې نوی الفاظ وښیئو .

پ۱	۱-56
پ۱	۱-۵۶

پلار - مور

ورور - زوی - لور - خور



دا مور دہ. دا پلار دی. دا پلار او مور دي.

دا د زرین خور دہ. دا د نازو ورور دی.

نازو لور دہ. نازو خور دہ.

زرین زوی دی. زرین ورور دی.

د بل درسی پلان د ښودلو نه مخکښې د وړې درسونو خاکې

عنوان: د کورنۍ د غړو د نومونو د لوستلو تکرارول ، د دغه الفاظو لیکل .		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
پاڼه ۱-۵۶ وړې درس نمبر اول	۱- پۀ توره تخته د الفاظو بیا بیا لوستل: پلار - مور - زوی - لور - دور - خور . ۲- اوله مشق پاڼه بیاکتل : الف: داسې جملې جوړول چې د کورنۍ غړی بیانوی لکه: « نازو د زرین خور ده » ؛ ماشومان رونړه اوخوېندې دی ؛ ب: کوشش کول چې دغه کسان ګروپ بندې کړی لکه: لویان - ماشومان نر - ښځې ۳- د دوئمې مشق پاڼې نه کار اخیستل : الف: مشق پاڼه مطالعه کول ؛ پکښې ښیا دمان اوالفاظ پېژندل . ب : دغه الفاظ ټول ټوکی ته لوستل . ج : پۀ الفاظوکښې حروف لوستل . د : جوړه جوړه کارکول : د سرد قطارنه دالفاظو را نقل کول د تصویرونو لاندې مناسبو مناسبو ځایونوته . بل لفظ ته د تللونه مخکښې ددې لفظ پۀ حروفو چرخه راښکل . داحروف لاندې شیندې ویندې پراتۀ دی . (ا) ۴- دا الفاظ سلېټونو ته نقلول .	توره تخته مشق پاڼه پ۱- ۵۶-۱ مشق پاڼه پ۱- ۵۶-۲ سلېټونه

پ ا- ۵۶، وړې درس نمبر اول ددې ، وړې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

د نازو او زرین د تصویر لاندې به دوه لفظونه لیکلے کیږی ځکه چې دوی دواړه دیوې خوانه زوی او لور دی او دبلې خوانه رور او خور دی

پ۱ 2-56	پلار- مور - خور - لور - ورور - زوی
پ۱ ۲-۵۶	



و ر ی ل ا ز و و ر

و خ

پل ر ر ر و م ر و

عنوان: دکلیدی لفظ «ظروف» بنودل د لفظ د رومبی حرف «ظ» دپاره.		
	د شاګردانو / استاد مشغلې	
۱- د ډې لوبې پۀ کولو سره کلیدی الفاظ اوحروف تکرارول: «زه یو لفظ وینم چې پۀ ... شروع کیږی/ختمیږی»، داکوم لفظ دے؟ ۲- دکلیدی لفظ «ظروف» د تصویر مخ ته کتل، د تصویر پۀ باب خبرې کول اوخپلې تجربې بیانول. (۱) ۳- دکلیدی لفظ «ظروف» خطی شکل اودحرف ظ د شکل او اواز بنودل، د کتابی علامې مطابق (۲) ۴- د دغه لفظ دلوستلو اولیکلو دمشق دپاره دمشق پانړې ښې اړخ پۀ معموله طریقه استعمالول. ۵- دمشق پانړې پۀ کښ اړخ کښې دجملو لوستل: الف: دوه پۀ دوه پۀ چپه سره. ب: ټول ټولګی ته.		دکلیدی الفاظو د تصویری کارډونو دیوې مجموعې انتخاب دکلیدی لفظ «ظروف» تصویری کارډ مشق پانړه پا۱-۵۶-۳

پ ا- ۵۶، وړې درس نمبر دویم ددې «ظ» وړې درس پۀ باب څۀ نورې تبصرې

۱- دا سې عام فهمه لهجه پیدا نۀ کړې چې پۀ حرف «ظ» شروع کیږی. ددې وجهې لفظ «ظروف» انتخاب شو. پۀ عام ډول دلفظ «ظروف» پۀ ځای لفظ «لوښی» استعمالیږی.
استاد به ددې خبرې وضاحت کوی چې د همدغه یوځیز دپاره دغه دوه الفاظ (ظروف، لوښی) موجود دی خو لفظ «ظروف» ته د حرف «ظ» دپاره ضرورت دے. دا هم یوخاص عربی لفظ دے.

۲- دا شومانو پام به دې خبرې ته راګرځول کیږی چې پۀ تقریری ژبه کښې خلک د «ظ»، «ز»، «ذ» اوځ حروفو د اوازونو پۀ منځ کښې ښه توپیر نۀ راولی.

ظ ظ ظ		پ ا 3-56 پ ا ۳-۵۶
ظرف ظرو ظرو ظرف ظروف روف روف		دا ظروف دي. ظروف په طاق کښې دي. طاق په کور کښې دی. دنازو مور ظروف لري. هغه سیند ته ځي. هغه له سیند نه کورته راځي.
ظروف - ظروف - ظروف - ظروف - ظروف		

درسی پلان نمبر پ ۱- ۳۴	

د دې درسی پلان پۀ باب څۀ نوړې تبصرې :

۱- پۀ هغه ټولګیو کښې چې د ماشومانو شمېر پکښې کم دے دا قدم پۀ وړو وړو ګروپونو کښې کېدے شی ځکه چې هر ماشوم به پخپله پۀ مشق کښې برخه واخیستے شی. خو پۀ هغه ټولګیو کښې چې ماشومان پکښې ګڼ وی یواځې یو څوتنه ډګنډلو عملی مظاهره کولے شی.

۲- د واوِلز (آوازلرونکی) توری نه غیر د حرف "ن" تلفظ د "ستن" پۀ آخر کښې کېدے شی او د نون آواز پۀ وضاحت سره اوریدل کېدے شی او هغې نه روسته به د یواځې "ن" د آواز تلفظ کول شروع کیږی. دا ضروری خبره ده چې ماشومانو ته د "ن" آواز پۀ خاص ډول واورول شی او بیا به دوئی پخپله کوشش کوی چې د آواز تلفظ لرې وکړی.

۳- پۀ لاندې طریقو سره پۀ لوستلو کښې بدلون را بدلون راتلے شی :

(۱) که چېرې پۀ جماعت کښې ماشومان ډېر وی نو د ماشومانو یوه جوړه به دبلې جوړې پۀ مخکښې لولی یعنې لوستل به د جوړو پۀ شکل کښې کوی.

(۲) خو که چېرې د جماعت پۀ کمو کښې د ماشومانو شمېر لږ وی نو یو یو تن ماشوم د ټولګی پۀ مخکښې لوستل کولے شی.



د افغان مهاجرینو کمشنر

- د ښوونې او روزنې څانګه -

د ښوونکي لارښود

پښتو

لومړۍ ټولګی (دویمه نیمایي)

درسي پلانونه:

پ۱-۳۳څخه تر پ۱-۶۴ پورې

د افغاني مهاجرینو دپاره لومړني تعلیمات ۱۹۹۲

د ښوونکي لارښود

پښتو

لومړۍ ټولګی (دويمه نيمايي)

درسي پلانونه:

پ۱-۳۳څخه تر پ۱-۶۴ پورې

HB–P1 33–64
Revised Version
B.E.F.A.RE. 1992

۱۹۹۲